


# دَ مینې پیغام

مجموعه دَ کلام

## سید شبیر احمد کاکا خیل

ڈپٹی چیف انجینئیر

مسترشد حضرت مولانا محمد اشرف سلمانیؒ

خلیفہ مجاز حضرت صوفی محمد اقبال مدنیؒ

خانقاہ امدادیہ


مکان نمبر-CB-1991/1 ، گلی نمبر4، نزد مسجد امیر حمزہؓ، آشیانہ چوک ، اللہ آباد ، ویسٹرج 3 ، راولپنڈی

# انتساب

## دَ خپل شیخ

## حضرت مولانا محمد اشرف سلیماني رحمة الله علیه

دَ چا چې چشتیه مسلک بالکل ظاهر ؤ اؤ دَ هغوی نه دَ بیعت نه پس چې کوم ورومبے خیز حاصل شوے وۀ هغه دا وۀ چې دَ موسیقۍ نه مې شدید نفرت شو چې ورسره به مې پۀ سر درد شو۔ دا کلام دَ هغوی فیض دے چا چې دَ دې عاجز دپاره دا دعا کړي وه چې الله تعالیٰ دَ ښۀ کلام وئیلو توفیق درکړي۔ الله تعالیٰ دې دَ حضرت پۀ مرقد مبارک کروړونه رحمتونه ورروی اؤ مونږ ته دې دَ هغوی فیض نصیب کړي۔

# تقریظ

## دَ پروفیسر میاں عنوان الدین کاکا خیل لۀ خوا نه

پۀ پښتو ژبه دَ روحاني مذهبي ، دیني اؤ صوفیانه ادب روایات ډېر لر غني دي اؤ دَ صوفیانه کلام ډېرې درنې پنګې دَ پښتو ادب ډېر ارزښتناک کړے دے۔۔دا دَ دې خبرې ثبوت دے، چې پښتانۀ من حیث القوم پۀ رضا و رغبت ، مینه اؤ خوشحالۍ اسلام خپل کړے اؤ قبول کړے دے۔۔ځکه اوس هم پښتانۀ پۀ اسلام ډېر مئین دي۔ ـ دَ خدائے تعالیٰ جل جلاله اؤ دَ رسو ل پاک سره دَ میني جذبه ئې تل تر و تازۀ توانه اؤ تانده ده۔ ـپۀ دې منطقه کښې اسلام دَ صوفیاؤ کرامو دَ عملي ژوندد نمونو اؤ تعلیماتو دَر ښا پۀ برکت خور شوے دے۔ـپۀ دې سلسله کښې دَ صوفیاؤ کرامو مشائخ عظام اؤعلما دین دَکوششونو سره دَ شعراء کرام هلې ځلې هم دَ ذکراؤ ستائېنې وړ دي۔۔

دَ پښتو کلاسیکي ادب تر ډېره حده پۀ صوفیانه بنیادونو اړانه لري۔ بلکې تنقید نګاران ئې پۀ لویو لویو ادبي تحریکاتو حسابوي۔ـدَ سلیمان ماکو دَ تذکرة الولیا نه راوخلې دَ اخوند درویزه بابا، دَ حضرت شیخ رحمکار کورنۍ، دَ خوشحال خان اؤ رحمان بابا سبکونه ، محمدي صاحبزاده چې دَ څوکنو دَ میا عمر دَ لوئې ګدۍ اؤ خانقاه وارث ؤدَ علم اؤ عرفان ، سلوک اؤ تصوف دا وړدې سلسلې کړۍ پۀ کړۍ رارسیدلي دي اؤ لا پۀ مخه رواني دي۔۔

دَدې غټو غټو سلسلو نه علاوه دَ پښتو عامو شاعرانو کښې هم دَ پخوا نه دا روایت راروان دے چې دَ خپل کلام اؤ کتاب ابتدا دَ باري تعالیٰ دَ حمد نه اؤ ورپسې دَ نعت شریف نۀ کوي، اؤ بعضې کسان دَ تبرک دپاره دَ خپل پیر منقبت هم پۀ دے قطار کښې ځایوي۔ـکۀ یو خوا اولسي شاعرانو دَ شاعرۍ پۀ هر صنف کښې دَ حمد باري تعالیٰ ، نعتونو اؤ منقبتونو تجربې کړې دي نو بل خوا دَ جدید دور دَ پښتو شاعرانو هم دا روایت برقرار ساتلے دے۔ـدې خاورې ډېر نامتو نعت ګو شاعران اؤ خوش اوازۀ اؤ خوشحالحانه نعت خوانان ځېږولي دي چې دَ تفصیلي ذکر ئې دا موقع نۀ ده۔ ـ پۀ داسې نوموړیو کسانو کښې یو دروند شخصیت سید شبیر احمد کاکا خېل هم دے چې *دل بہ یار و دست بہ کار* ئې دَ ژوندانۀ لاره ده۔ دوی پۀ لږه موده کښې پۀ اردو کښې دَ ایمان افروزایمان پۀ ژبه شاهراهِ محبت اؤ دَ پیغامِ محبت غونډې دوه شاهکار کتابونه چاپ کړي دي اؤ دَ نورو لیکلو ئې اراده ده۔۔دَ سید شبیر احمد کاکا خیل دَ خپلې صائبې اؤ ایمانانه رائې ﷻ مطابق هغوی خپلو ماشومانو ته وئیلي دي چې بهر دَ ضرورت مطابق چې هره یوه ژبه وایۍ خو پۀ کور دننه به پښتو وایۍ۔ کۀ داسې نۀ وي نو دا به دَ پښتو سره بې وفائۍ وي۔۔

زۀ اکثر دا خبره کوم چې پښتو دَ الله تعالیٰ اؤ دَ هغۀ دَ رسول ﷺ پۀ مینه دَ مست قام ژبه

ده ځکه دَ دې دَ ارتقا اؤ ترویج دپاره غېبې لارې چارې پرانستے شي۔ ۔داسې درانهٔ اؤ سپېڅلي شخصیتونه پیدا شي چې دَ هغوي بې لوثه هلې ځلې دَ پښتو ژبې دَ ترقۍ اؤ ودې باعث وګرځي۔۔
سید شبیر احمد کاکا خېل صاحب وائی چې ما پهٔ اردو کښې دوه شعري مجموعې شاهراه محبت اؤ پېغام محبت چاپ کړې نو یوه ورځ مې پهٔ زړهٔ کښې دا خیال راغلو چې زهٔ خپلو بچو ته خو دَ پښتو ژبې سره دَ وفادارۍ تلقین کوم ۔اؤ پخپله مې پهٔ پښتو کښې لا یو کتاب هم نهٔ دے چاپ کړے۔۔دا دَ مورنۍ ژبې سره بې وفائی نهٔ ده؟ دا دَ شاه صاحب هغه تاریخي اعتراف دے ۔چې پښتو ژبه به پرې مدام ویاړ کوي۔۔ دَ پښتو دَ ادب پهٔ تاریخ کښې به تل روښانه اؤ معتبره حواله ګڼلے شي۔ بلکې پهٔ زرزري تکیو کښې دَ لیک جوګه حواله ده ۔۔
کاکا خېل صاحب وائی چې دَ دې احساس بېدارېدو سره ما سمدستي اراده وکړه چې هم پهٔ دې نومونو هم دَدې شعرونو پهٔ رڼا کښې به پهٔ پښتو کښې دوه کتابونو لیکم۔۔الله تعالیٰ دَ دوی پهٔ دې نېکه اراده کښې برکت واچولو اؤ شاه صاحب پهٔ دې کار کښې بریالے شو۔۔دَمینې شاهراه اؤ دَ مینې پېغام پهٔ نومونو ئې دوه کتابونه ولیکل اؤ دَ دواړو کمپوز شده نسخې زما مخې ته پرتې دي۔۔ ، ډېر زر به دا انشاء الله چاپ شي ۔۔
ډېرو سترو اؤلویو شاعرانو دا اعتراف څهٔ چې اقرار کړے دے چې زمونږ شاعري دَ یو پېغام دَ رسولو ذریعه ده۔۔علامه اقبال خو پهٔ!

"سوئے منزل می کشم ناقۂ بے مہار را"

کښې ډېر ښکلے مثال ورکړے دے چې دَ شاعرۍ پهٔ ذریعه خپل قام منزل ته راکاږم۔ ۔۔ بعینه دغه مطلب، مقصد اؤ مدعا دَ ښاغلی شبیر احمد صاحب هم ده چې دَ شاعرۍ پهٔ قالب کښې خپل پېغام قام ته، مسلمانانو ته، یا دنیا ته رسؤل غواړی ۔
دَ شبیر احمد صاحب پېغام څهٔ دے؟ دا هم هغه پېغام دے چې دَ زرګونو کالونو راسې پهٔ مختلفو وختونو کښې پېغمبران، انبیاء کرام، اولیاء الله، پیرانِ عظام ، واعظان، علماءِ دین، فلسفیان اؤ شاعران دَ انسانیت دَ خېر ښېګړې دپاره انسانانو ته رسول غواړی۔۔۔ دا هغه حق، رښتونے اؤ ابدي پېغام دے چې دَ قرآن پاک دَ تعلیماتو اؤ دَ حضورﷺ دَ اسوۂ حسنه پهٔ شکل دَ نني دور دَ انسانانو دَ جملوؤ اخلاقی، سماجی، خرابیو،ذهنی رنځونو، مادي ضرورتونو یو شافي علاج اؤ جامع حل دے۔۔۔دَ دې پېغام بنیادي نکته عشق دے، مینه ده ۔، خالصه، سوچه، بې لوثه مینه۔۔ دغه مینه پهٔ ټول کائینات کښې خوره وره، جاری اؤ ساری ده۔۔۔ دَ کائینات ژوند اؤ موجودګی دَدې مینې نه عبارت دي۔۔۔ مینه اؤ ښائیست دَ یو بل دپاره لازم اؤ ملزوم دی۔۔۔ پتنګ ته پهٔ شمع کښې حسن ښکاری، اؤ بلبل پهٔ ګل کښې ښائیست وینی۔۔ ۔انسان خو اشرف المخلوقات دے یقیناً دَ دهٔ دَ مینې دَ اظهار انداز اؤ مقدار دَ حسن معیار اؤ دغه حسن ته دَ رسېدو

اؤ دغه حسن دَ خپلؤلو سوچ اؤ اپروچ به يقيناً ډېر ستر، لوړ اؤ هسک وی۔
دَموصوف دَشاعری تنه بوده کۀ هغه دَمينې شاهراه دے اؤ کۀ دَمينې پېغام، هم دَ دې پاکې سپېڅلې افاقی اؤ الوهی مينې نه وودلې شوې ده۔ دا دَ رڼا اؤ نُور هغه پلوشې دی چې دَ کومو پۀ حقله رحمان بابا وائی چې

## کۀ رڼا ده پېروي دَ محمد ﷺ ده

داسې شاعری نه ځپکېدلې پېغامونه دَ انوارو اؤ تجلياتو پۀ شکل کښې دَ شاعر پۀ روښانه ذهن دَ ملکوتی حسن دَ پرخې پونه وروی اؤ شاعر دَ راپاريدلی قلبی وارداتو لۀ کبله دَ جذب او انجذاب دَ پرکېفه لمحاتو پۀ بهير کښې لوستونکی ځان سره پۀ دې سرور کښې شريکول غواړی۔۔۔ دغه بهير دَ دين محمدی ﷺ پېروی ده۔۔۔
دَ مينې پېغام شاعری مونږ نۀ دَ شعر پۀ فنی پېمانوځېرلې شو اؤ نۀ ئې دَ تنقيد پۀ زرکانی سنجولې شو۔۔۔ دَ دې دوه وجهې دی۔ يو خو دَمينې پېغام کښې شاعری عامه شاعری نۀ ده بلکې دَ يو لافانی، ابدی اؤ افاق پېغام دَ خوررولو ذريعه ده۔ چې زيات تعلق ئې دَ قلبی وارداتو څخه دے۔۔۔ بل دا دَ اردو شعر من و عن ترجمه نۀ ده بلکې دَ پښتو جامې وراغستولے شوي دی۔۔۔ پۀ حالاتوکښې خامخا لرے برے راځی۔۔۔ دلته به دَ شاعر نيت پۀ نظر کښې ساتل پکار وی، فنی باريکۍ اؤ نزاکتونه نه۔۔۔
خو لکه څنګه چې دَ شاه صاحب نېکې ارادې اؤ سپېڅلې مقصدونه دَ کامیابۍ منزلونه غوڅوی دغه شان پۀ مبارکه اؤ بختوره سلسله کښې هم خوش بختانه شبير احمد صاحب ته دَ يو دروند علمی اؤ ادبی شخصيت پروفېسر سيد محمود ظفر صاحب ملا تړ حاصل شو۔۔۔ هغوی پۀ دې سلسله کښې رسا فکر، ژور نظر اؤ تېز ذهن لری۔۔۔ پخپله هم صاحب طرز اديب اؤ دَ ښکاره مقام څښتن شاعر دے۔۔۔ پۀ دې مجموعه هغوی نظر اچولے دے۔۔۔ يوئې نوي املا ته برابر کړی ده، بل ډېر ابيات چې نيمګړي ليکلې شوي وو هغه ئې برابر کړی دی۔۔۔شايد چې دا نيمګړتيا دَ اصل مسودې دَ نقل کونکې لۀ کبله وه۔۔۔ ۔هسې خو دَ موضوع پۀ لحاظ دا شعری مجموعه دَ لعل و جواهرو لړۍ اؤ خشبويه ګلونو ګل دسته ده۔ خو دَ ځنو شعرونو پۀ خوند کښې تاسو هم ځان سره شريکوم۔۔۔

مينه مينه ده دَ مينې مثال نشته ؛ څوک بې مينې پۀ دنيا کښې خوشحال نشته
مينه زړۀ سره خبرې کړی اے عقله ؛ کار پۀ ”قال“ کله چليږی کۀ ”حال“ نشته

يا

بندګی پۀ بندګۍ بس نصيب کيږی ؛ خپله خوښه ئې پۀ خوښه کړه قربان

خپل زړګے ورته  پۀ سچه باندې پېش کړه  چې قبول شی  پۀ دربار دَ پاک سبحان

## دَ نفس دَ بیمارۍ تشخیص داسې ښائی!

نفس کۀ ګاډے دے نو زړۀ ئې ډرا ئیور دے  پۀ اصلاح کښې دَ زړۀ ذکر مؤثر دے
اؤ دَ نفس علاج دے پروت مجاهده کښې  اؤ تشخیص دَ شیخ  پۀ دې کښې معتبر دے

## پۀ دې فتنه انګېزه فضا کښې شاعر ولې مطمَئن دے!

هر طرف ته نن فتنې دی  مشکلات دی اندېښنې دی
شکر مونږ چې چا سره یو  اهل حق دَ زمانې دی

## دَ ظاهر و باطن فرق  پۀ څومره ساده اؤ اسان مثال سره ثابتوی!

چې خالي وي کټورے کوي ټنګا  چې وي ډک پۀ ټنګېدو کوي ټکا
کوي شور چې پۀ ظاهر باندې څوک مست دي  دَ ظاهر باطن جامع نه کوي دا

اخلاص نۀ صرف پۀ صوفیانه تعلیماتو کښې بلکه پۀ عملی ژوند کښې هم یو دَ قدر وړ عمل دے۔ ځکه خو پرې ډېرو شاعرانو طبع ازمائی کړی ده۔ موصوف هم دا انسانی صفت اؤ دَ انسانی معاشرې قدر داسې ستائیلے دے!

چې  پۀ ښۀ نیت دا زړګے صفا سوتره شی  دَ اخلاص پۀ برکت اعمال ښائېسته شی
پۀ هغۀ لره نظر پۀ هر عمل کښې  چې قبول دې شی اعمال اؤ ستا هغه شی

بې شکه چې دَ قرآن پاک سره مینه اؤ دَ کلام پاک تلاوت دَ هر مومن مسلمان دَ ایمان جز دے خو شاعر یوه بله نادره نکته  پۀ ګته کوی اؤ وائې!

دَ قرآن نه تۀ دَ مینې درس حاصل کړه  ځان محبوب سره پۀ دې باندې واصل کړه
هر هر لفظ ډک دَ نُور دَدې کلام دے  پۀ دې نُور باندې معمور دا زړګے خپل کړه

زما پۀ خیال دَ حوالو دا سلسله دَ اندازې نه زیاته وړده شوه۔ خو یوه اخیری حواله دَ نعت شریف دَ لیکلو ضروری گڼم۔دَ نعت شریف دَ سترې مرتبې پۀ حقله خو دَ اللہ تعالیٰ خپل کلام داسې گواهی ورکوی ورفعنا لک ذکرک۔ لوړ یا هسک کړو مونږ ذکر ستا ستا۔۔ دپاره۔دَ ښاغلی شبیر احمد کاکا خېل دَ میني پیغام دې وی اؤ دَ حضورﷺ ذکر دې پکښې نۀ وی۔ پۀ دې مجموعه کښې گڼ نعتونه شامل دی۔ ولې بیا هم دَ حضورﷺ دَ عظمت اؤ لوئی دَ بیان سره ډېرې تقاضې پۀ نظر کښې لری!۔

شوق لرم پۀ زړۀ کښې نعت دَ لیکلو اؤ پۀ دې کښې دَ محبوب دَ یادولو
چرته زۀ چرته هغهﷺ غلط نۀ شمه پۀ نازک ښاخ زۀ کوشش کوم دَ تللو
یقیناً چې هغهﷺ هم دَ خدائے بنده دے نو کوشش کښې یم دَ دې خیال دَ ساتلو

پۀ دې حقله دَ نورو باریکیو اؤ نزاکتونو وضاحت داسې کوی!

نعت لیکل ولې مشکل دی دا پۀ توره باندې تلل دی
کۀ مقام ئې نور اوچت شی نو دَ حد نه مخکښې تلل دی
اؤ کۀ کم شی دَ خپل ځایه نو دَ ځائے راغورځېدل دی

زما دا لیک به نیمگړے گڼلے شی کۀ زۀ دَ صاحب کتاب پۀ حقله دَخو خبرو ذکر و نۀ کړم۔۔۔

دا پیاوړے روحانی شخصیت دَ علم و عرفان، سلوک اؤ تصوف دَ علم بردارې روحانی سلسلو دَ کاکا خېلو میاگانو پۀ درنه علمی کورنۍ کښې دَ صوابۍ ضلعې پۀ مشهور کلي جهانگیری کښې پېدا شوے دے۔ اؤ دَ سید علی شاه کاکا خېل ځوئے دے۔۔۔ دَ پېدائش تاریخ ئې 24 اپرېل 1954 دے۔۔ ۔ابتدائ تعلیم ئې خپل کلی کښې حاصل کړے دے۔۔۔ایف۔ایس۔سی ئې دَ اسلامیه کالج پېښور نه کړې ده ۔ اؤ بی۔ایس۔سی مېکنیکل انجنیرنگ ئې پۀ امتیازی حېثیت سره دَپېښور یونیورسټۍ نۀ کړې ده ۔ پۀ انجنیرنگ کښې دَ کمپیوټر پۀ استعمال ئې تحقیق پۀ جرمنې کښې پۀ کارلسروهے یونیورسټۍ کښې دَ مشهور پروفېسر شناک پۀ سرپرستۍ کښې کړے دے۔۔ ۔نن سبا پۀ اټامک انرجی کمېشن کښې دَ ډپټی چیف انجنیئر پۀ عهده کار کوی۔۔۔

دَ ملازمت پۀ دوران کښې دَ تحقیق اؤ تعلیم پۀ سلسله کښې ئې دَ یورپ اؤ امریکې سفرې کړې دي ۔ پۀ اسلام، سائنس اؤ دینی امورو ئې تحقیقی مقالې اؤ کتابونه لکه فهم المېراث مېراث کا آسان حساب ، فهم الریاضي ،فهم الفلکیات،کشف هلال وغېره لیکلې دی۔ ۔ دَ تصوف پۀ

مېدان کښې ئې زبدة التصوف ،تصوف کا خلاصه ، فهم التصوف ،مکائد شیطان اؤ نور واړه واړه کتابونه لیکلې دي ۔ دَ دې نه علاوه وېب پاڼه " tazkia.org " هم ددوی پۀ سرپرستۍ کښې دَ خانقاه امدادیه نه مستقله چلیږي ۔ پۀ خانقاه امدادیه کښې شاه صېب روزانه پۀ مختلفو موضوعاتو درس ورکوي اؤ پۀ دې کښې دَ خالي پۀ ورځ دَ مثنوي شریف درس هم کیږي ،کوم چې دَ طریقِ جذب ترجمان دے۔ ۔۔ شاه صاحب دَ اسلام دَ افاق اؤ ابدی پېغام دَ خورولو دپاره هره لار خپله کړي ده۔۔ ۔دَ لیک لوست نه علاوه دَ شاه صاحب بله غټه کارنامه ځائے پۀ ځائے دَ خانقاه ګانو جوړول دی۔۔لکه پنډۍ، آله آباد، اسلام آباد، جهانګیره، سخاکوټ ملاکنډ اېجنسی، پېښور، لاهور، فېصل آباد اؤ کراچۍ کښې ئې دا روحانی مرکزونه قائم کړی دی۔۔۔دلته نۀ صرف دَ حال و قال محفلونه، دَ ذکر و اذکار مجلسونه، دَ روحانی تربیتونو اؤ تزکیه نفس غنډې کیږی بلکې دا دَ دین دَ درس و تدریس موثرې اؤ معتبرې ادارې هم دی۔۔۔ اللّٰہ تعالیٰ دې دَ علم و عرفان دا سر چینې دغه شان تل تر تله روانې اؤ تاندې لری۔ چې دَ سلوک اؤ معرفت دَ لارې تنده غری پرې دغه شان سېرابیږی۔ امین۔۔

نننۍ نړۍ خونړۍ ده۔۔ ۔دَ ظلم اؤ بربریت ښکار ده۔۔ دَ سړی خورګۍ اؤ استحصال دَ لاسه انسانیت پۀ اور کښې ولاړ دے۔۔ زیاتی خورګۍ اؤ زورګېرۍ دَ دنیا امن تالا ترغه کړے دے۔۔قامونه دَ امن پۀ تلاش کښې سرګردانه اؤ پرېشانه دی۔۔ انسان پۀ رنګ رنګ زنځوریو کښې اخته اؤ بلاګانو کښې ګېر دے۔۔دَ زړۀ دَ اطمینان پۀ لټون کښې دے۔۔ پۀ داسې حالاتو کښې دَ مینې،ورور ولۍ اؤ دَ امن پېغام دَ شریعت محمدیﷺ پۀ پیروۍ کښې پټ دے،۔دَ کوم دَ خپرونې دپاره چې شاه صاحب شپه اؤ ورځ لګیا دے کار کوی۔۔ اللّٰہ تعالیٰ دې وکړی چې دَ سید شبیر احمد کاکا خېل دا بې لوثه کوششونه دَ لوی اللّٰہ پۀ در کښې قبول شی چې دوی خپل مرام حاصل کړی۔۔ دا دې دَ دوی دپاره دَ دین دنیا توښه وګرځی، امین۔۔ دا ګناه ګار اؤ پروفېسر سید محمود ظفر دې هم پۀ خپلو دعاګانو کښې یاد لری،تشکر کوم۔

پروفېسر میا عنوان الدین کاکا خېل
236 بی۔ شیخ ملتون مردان
18 اکتوبر ۲۰۱۳
بمطابق 13 ذوالحج 1434 ھ

# تقریظ دَ پروفیسر سید محمود ظفر لۂ خوا نه

بسم اللہ تعالیٰ

زمونږ بزرګانو عالمانو چې کله دَ "حسن" "احسن" او"حسین" معنیٰ پۂ خپلو سپیځلو تحریراتو کښې کړي ده نو دَ "ښکلي" اؤ "ښائسته" پۂ توری ئې نه ده راوړی بلکې دَ "ښۂ" پۂ توری ئې دا معنیٰ ښکاره کړي ده۔۔ ۔۔ دَ محترم شبیر احمد کاکاخېل صاحب کتابونه ما ته زما زوی پۂ دې غرض راوړی وو چې زۂ ئې املا صحیح کړم۔ اؤ دا اجازت ئې راته هم دَ شبیر احمد صاحب لۂ طرفه راکړے ؤ چې کۂ پۂ اشعارو کښي څۂ اصلاح پکار وی نو هم کولے شی۔۔۔ ما املا صحیح کړه خو پۂ اشعارو کښي دَ اصلاح ضرورت مې محسوس نۂ کړلو۔ ۔ولې چې کۂ دَ شاعرئ دَخوند او مزې پۂ نظر ورته ګورۂ نو پکار ده چې رد و بدل پکښې وشی ۔خو دَکوم لوړ ا ؤ عظیم مقصد دپاره چې دا اشعا ر لیکلی شوی دی چې زړونو کښې دې ورسره دَ"اللہ" اؤ دَ رسول کریمﷺ سره دَ مینې څرېکې راپورته شی نو دَ مقصد څلا ورسره دَ شاعرئ ښایَست هم شریک کړے دے۔۔اؤ زما یقین دے چې څوک دَ لوړ اؤ مقصدی شاعرئ خوند اخستل غواړی نو هغه خوند پۂ "دَ میني پېغام" کښې موجود دے۔۔ ۔۔۔ خبره دَ خپل زړۂ دَ اندرونی څرېکې ده۔ اؤ ځکه زۂ دَ شبیر احمد کاکاخېل صاحب شاعرئ ته دَ"ښکلي" اؤ " ښائسته" نه زیاته " ښه" شاعري وایم لکه دَ رحمان بابا کلام چې دے۔۔۔ اؤ یقین مې دے چې لوستونکی به زما دې رائې سره اتفاق وکړی ولې چې دَ ډېر نیک اؤ لوړ مقصد دپاره شوے دے۔۔۔اللہ تعالیٰ دې شبیر احمد کاکا خېل صاحب ته ژوند اؤ توان ورکړی چې دا سپیځلے تحریک جاری وساتي۔۔۔

سید محمود ظفر

۲۹ ستمبر ۲۰۱۳

اللہ آباد پنډئ

# سریزهٔ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ○ اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیِّیْنَ ○ اَمَّا بَعْدُ

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ○ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ○ وَالَّذِیْنَ آمَنُوْا اَشَدُّ حُبًّا لِلّٰه ○

دَ مؤمنانو دَ الله تعالیٰ سره ډېر زیات محبت وي۔ اؤ کهٔ نهٔ وي نو پکار ده چې وي۔ پس هره هغه ذریعه چې دَ الله تعالیٰ دَ محبت ذریعه جوړېدے شي دَ هغې استعمال به ضروري وي ۔حضرت تهانوي رحمة الله علیه یو ځل وفرمایئل چې زهٔ تاسو ته دَ اصلاح دَ ټولو نه زیاته اسانه طریقه و نهٔ ښایئم؟ ۔خلقو ووې ولې نه؟۔۔ حضرت وفرمایئل چې دَ محبت پوړۍ وخورئ ۔ ۔خلقو ترې نه تپوس وکړو دَ محبت پوړۍ به کوم ځائے کښې ملاویږي؟ هغوئ وفرمائیل دَ محبت پهٔ دکانونو کښې۔ یعنې دَ عاشقانو پهٔ صحبتونو کښې۔ پس دَ عاشقانو صحبتونه دَ دې دَ حاصلولو اسانه طریقه ده۔ اؤ کهٔ دا میسره نهٔ وی نو بیا دَ صحیح جذب کلام دا کار کوي۔۔۔نن هم کهٔ څوک دَ اصلاح پهٔ نیت مثنوي مولانا رومؒ ، دَ مولانا جاميؒ یا دَ حاجي محمد امینؒ کلام واوري نو ترې ډېرمتاثر شي۔ یقیناً پهٔ دې کلام کښې ډېر زور دے اؤ دَ مشائخو دَ صحبت اثر لري۔

پهٔ اردو ژبه کښې دې عاجز دَ بزرگانو کیفیات دَ شعر پهٔ ژبه کښې قلمبند کړي وو۔ نو زما ذهن ته دا خبره راغله چې تاخو خو خپلو ماشومانو ته وئیلي ؤو چې کهٔ بهر هره ژبه وایئ خو کور کښې به پښتو وایئ ځکه چې دا دَ خپلې مورنۍ ژبې سره بې وفائي ده۔ خو تا خپله پهٔ اردو کښې کتابونه چهاپ کړل اؤ پښتو کښې نه۔ حالانکه اول بنده باندې دَ خپلې ژبې حق وي۔ خو زما پهٔ مخکښې یو مشکل ؤ اؤ هغې راته یو بل مشکل هم پیدا کړو۔۔هغه دا چې اګر چې ما پهٔ طالب علمۍ کښې شاعري پهٔ پښتو کښې کړې وه اؤ دَ اسلامیه کالج دَ خیبر یونین پهٔ مشاعرو کښې مې هم شرکت کړے ؤ اؤ زما کلام ته هغه وخت ډېر داد هم حاصل شوے ؤ۔ خو دا برکت ؤ ۔دَ پښتو دَ ماحول، دَ یو پښتون مشهور شاعر روغ لېوني صحبت، اؤ دَ کالج بې فکره ژوند۔ ۔دا درې واړه ځیزونه زما نه پنجاب کښې، پهٔ کوم کښې چې زهٔ دَ 1980راسې اوسم ، ورک شو۔ ۔اوس زما سره ماحول نشته، پښتانهٔ سامعین نشته، اؤ غټه خبره دا چې دَ شاعرۍ دَ مزاج خلاف مصروفیت۔ ځکه زما شاعري بالکل پهٔ ټپه ودرېده۔۔ ۔ماوې جوړې اوس زهٔ شاعر پاتې نهٔ شوم اؤ دغه دَ روغ لېوني هم خیال ؤ۔ لیکن حضرت مولانا اشرف صاحب رحمة الله علیه چې یو کامل ولي ؤ اؤ زما شیخ ؤ ،هغهٔ ماته دَ ښې شاعرۍ دعا کړي وه هغې به هم لاره کوله۔ آخر هغې لاره وکړه اؤ زما جذبات دَ نن نه درې کاله مخکښې حج کښې انګېښت شو۔ اؤ ما دَدې پهٔ برکت بیا شاعري شروع شوه۔ ۔یقیناً دا یو الهامي شاعري وه۔ ۔ما لیکل کول اؤ نهٔ پوهېدم چې څنګه

مې کول۔ ۔ماحول دَ اردو اؤ کیفیات دَ مکې مکرمې اؤ دَ مدینې منورې وو۔ نو آمد پۀ اردو ژبه کښې وشو اؤ دا کتابونه دَ خبره سره چاپ شو۔۔ دې نه پس چې څۀ وخت هغه برنے خیال پۀ پښتو کښې دَ لیکلو راغلو نو حقه خبره ده چې کیفیات خو الوزي ۔البته کۀ چا دَ لیک پۀ لوښې کښې کښېښودل نو محفوظ شي۔ نو دا کیفیات دَ آمد دَ اردو شاعرۍ پۀ لوښې کښې محفوظ شوي وو ۔ نو داسې کیفیات خو چونکې مادلته نۀ شول پېدا کولے نو کۀ دلته مې شاعري کولے نو هغه به آورد ؤ نو ځکه مې دَدې اردو کلام پۀ پښتو کښې ترجمه کړې ده۔۔ البته چونکه مقصد پېغام رسول وو نو کۀ پۀ دې کښې څۀ نور کیفیات هم مېنځ کښې رانغوتي وي نو ما حصار کړي نۀ دي ، ځکه چې دا دَ پښتنو امانت ؤ، اؤ امانت رسول مستحقینو ته ضروري وي۔۔ ۔الله تعالیٰ دې ما پۀ دې مقصد کښې کامیاب کړي۔ ۔

دا خو جواب شو چې پښتو اګرچې زما مورنۍ ژبه ده خو ما پکښې دَ اردو نه ترجمه کړې ده۔ ۔اوس یو بله اهمه خبره کول غواړم ۔۔هغه دا چې زما کلام به بعضې خلقو ته ډېر ساده ښکاره شي۔ ۔دَدې یوه وجه ده چې پۀ دې کښې یو خو ما دَ ښائسته شاعرۍ نیت نۀ دے کړے۔۔ شاعري پۀ خپله یو ښائسته صنفِ ګفتار دے۔ ۔زما رنګ دَ بې تکلفه شاعرۍ دے۔۔ غواړم چې خبره ورسي۔ ۔۔دَمشکلو الفاظو استعمال زما پۀ طبعیت بوج اچوي۔ زۀ غواړم چې زما اؤ دَ قاري مېنځ کښې دې تکلف حائل نۀ وي۔۔۔بل غواړم چې کوم الفاظ دَ عوامو پۀ استعمال کښې ورځ اؤ شپه وي هغه پۀ شاعرۍ کښې راشي۔ ۔۔دَ کومو اشعارو دَ الفاظو دَ معنیٰ دپاره کۀ څوک دَ لغت محتاج شي نو دا زما پۀ نزد دَ شاعرۍ سره زیاتے دے۔۔۔زۀ ګورم چې دَ ډېرو ښو ښو شاعرانو کلام دَ خلقو دَ سینو نه ووتو، صرف پۀ کتابونو کښې دے۔ ۔اؤ دَ رحمان بابا کلام اوس هم دَ خلقو پۀ زړونو کښې دے۔۔ ۔نن هم چې دَ رحمان بابا کلام څوک وائي نو هر پښتون پرې پوهېږي۔ ۔کۀ دا دَ رحمان بابا یو طرف ته کرامت دے نو بل طرف ته دا دَ رحمان بابا دَ اسلوب برکت هم دے چې پکښې سادګي ده ، بې ساختګي ده ،معرفت دے، اساني ده۔۔۔الحکمة ضالة المؤمن، کۀ پۀ دې اصول مونږ دَ کفارو ښۀ عادتونه چې کوم دَ اسلام مطابق دي اخستے شو نو دَ رحمان بابا ولې نه۔؟ پۀ دې کلام کښې زما کوشش خو دادے چې دَ قاري قلب و ذهن دَ الله دَ محبت یو ننداره وکړي اؤ ذهن ئې هغه څیزونو ته تیار شي چې کوم دَ زړۀ دَ ربا دپاره ښۀ ګرزي۔۔ پۀ دې وجه دَدې کلام دوه غټې حصې دي۔ یو پۀ زړۀ کښې دَ الله دَ مینې دَ انګېښت کوشش کوي، اؤ دویم چې کله دا مینه زړۀ کښې راشي نو بیا دَ زړۀ څۀ حال وي اؤ دَدې اثر پۀ اعمالو څۀ پرېوزي؟۔ ګویا کیفیت احسان حاصلولو نه پس اعمال ځنګه وي؟۔الله تعالیٰ دې مونږ پۀ دې عظیم مقصد کښې کامیاب کړي۔۔۔زما دا یقین دے کۀ دَ یو کس زړۀ هم دَدې پۀ برکت الله تعالیٰ طرته مائل شو نو زۀ کامیاب شوم۔ اؤ کۀ دا هم نۀ وي نو دَ مشرانو نه مو اوریدلي دي چې کۀ څوک طریقه صحیح واخلي اؤ نتیجه دَ هغې مطابق رانۀ شي هم هغه دَ الله پۀ نظر کښې محروم نۀ وي ځکه چې !

"میخانے کا محروم بھی محروم نہیں ہے"

مونږ چې کله ليکل کول هغه وخت دَ پښتو املا بدله وه -ـوروستو پهٔ باره ګلۍ کښې دَ پښتو ژبې دَ ماهرينو ټولنه وشوه اؤ هغوي ډېرې مفيدې فيصلې وکړلې- ـهغې نه پس چې کوم ليکل ما کړي دي دَ هغې مې کوشش کړے دے چې دَ دوی دَ فيصلو پهٔ رڼا کښې وليکم- ـدَدې دپاره پروفېسر سيد محمود ظفر صاحب زما ډېر مدد کړے دے- الله تعالی دې دَ دې هغوی ته ډېر اجرونه ورکړي- يو تجويز مې زړهٔ ته راغلے دے هغه پيش کوم- هغه دا چې دَ باره ګلۍ دَ فيصلې وړومبۍ فيصله داوه چې:

"هغه کلمې چې د عربۍ او فارسۍ نه پښتو ته راغلې دي او معنا ئې هم هغه ساتلې ده هغه به خپل اصل شکل کښې ليکلے شي، لکه قصه، قميص ، ضعيف. او هغه کلمات چې پښتو خپل کړي دي، معنا يا شکل يې بدل شوي دي ، هغه به په پښتو کښې په اوښتي شکل ليکلی کېږي، لکه تپوس ، پام او د عربۍ مخصوص ټکي به د پښتو په کلماتو کښې نه ليکو - مثلاً: (( تورخم )) به په (( ت )) ليکو په (( ط )) به ئې نه ليکو"

نو تر اوسه خو مونږهم داسې کړي دي لېکن عوامو ته دَ دې پته لګېدل ډېر ګران دي چې کوم ټکے دَ فارسۍ نه يا عربۍ نه پښتو ته منتقل شوے دے-ـدَ دې دپاره په دې فيصله عوامو ته عمل کول ګران دي- که داسې وکړے شي چې دغه ټکي هم دَ پښتو دَ املا دَ عام قانون مطابق وليکلے شي نو دَ دې دَ املا فيصله به صرف صوتي بنياد باندې کول اسان وي -مثلاً خيرے اؤ خير کښې پهٔ وړومبي ټکي کښې به يائےمعروفه راځي اؤ بل کښې به يائے مخصوصه راځي اؤ خېر به ليکلے شي ـدَ باره ګلۍ دَ قانون مطابق دا خير ليکل پکار دي ځکه چې دا ټکے دَ عربۍ نه اخستے شوے دے اؤ پهٔ فارسې کښې هم راځي ليکن پهٔ صوتي بنياد دې دا خېر وليکلے شي ـ ـ- دغه شان حيثيت به حېثيت اؤ بعينه به بعېنه ليکلے شي- دې کښې بهٔ عوامو ته ډېر سهولت وي اؤ پهٔ مفهوم اؤ پهٔ لوسته ئې هم څهٔ فرق نهٔ پرېوځي-ـالبته که مکمل جمله دَ فارسۍ يا دَ عربۍ څوک نقل کوي نو هغه لکه چې نورو ژبو کښې هم په اصل حالت کښې ليکلے شي پهٔ پښتو کښې به هم داسې ليکلے شي-ـ

الله تعالیٰ دې مونږ ته صحيح نيتونه نصيب کړي-ـ پهٔ اخر کښې دَدې اردو شعر ترجمه دې ولې ؤنهٔ شي چې دا پېغام هم ورسي-!

حقيقت دې شي مونږ ټولو ته معلوم   چې محروم دَ مېحانې نهٔ دے محروم
څهٔ چې کيږي هغه لاس کښې دَ الله دي   پهٔ ښهٔ نيت   پهٔ ژبه واخله دَ خدائے نوم

شبيّر احمد کاکا خيل

## حمد باري تعالیٰ

ولټوه ډک دَ مینې زړونو کښې موجود هغه
اؤ دَ عاشقانو پهٔ خیالونو کښې موجود هغه

هم رڼا دَ نمر کښې هواګانو کښې لیدلے شي
هم ستورو سپوږمۍ کښې اؤ پهٔ غرونو کښې موجود هغه

کوم چې بصیرت لري هغه زړهٔ ئې لیدلے شي
ښکلي نظارو کښې پهٔ سیندونو کښې موجود هغه

بې لهٔ کار کونکي کله کار خپله کېدلے شي
دادے سوال دَدې پهٔ جوابونو کښې موجود هغه

ټیک څیز هم خراب شي چې ئې څوک پهٔ حفاظت نهٔ وي
داسې سائنسي حقیقتونو کښې موجود هغه

لږ غونډې کهٔ کله خپل تخلیق باندې مونږ غور وکړو
دې کښې پهٔ بېشماره نظامونو کښې موجود هغه

عقل کهٔ لهٔ نفس متاثر نهٔ وي اؤ حق لټئ
نو دَ کائنات ټولو رازونو کښې موجود هغه

کړه طلب پېدا تهٔ دَ بیدار زړهٔ اے شبیّره نو
لرې مهٔ ځه ستا پهٔ دې شعرونو کښې موجود هغه

## پهٔ بندیا نو رحم

پهٔ بندیا نو دَ هغهٔ رحم کهٔ تا وکړو پهٔ تا به
رحم وکړي دَ جنت لاره شي تاته بیا صفا به

مخلوقات عیال دَ خدائے دي نو دَدوی پهٔ دښمنانو
کول رحم غلط کار دے که کوې دا وي خطا به

طریقه دَ مصطفےٰ چې کړه چا خپله خوش نصیب دے
پهٔ دې باندې هغه کس محبوب بیا جوړ شي دَ الله به

دَ کافر سره دَ زړهٔ دوستي دَ ځان سره دے ظلم
پهٔ دې باندې ځان پهٔ خپله دَ رحمت نه کړي جدا به

دَ دنیا پهٔ مینه باندې چې دَ چا زړګے ککړ وي
پهٔ اووۀ سمندرونو دَ دهٔ زړهٔ نه شي صفا به

آخرت کښې دَ شبیّر باره کښې دا اواز کهٔ راغے
دے زما دے، دے راځي دې کامیابي وي دا زما به

## حمد باري تعالیٰ

شپه اؤ ورځ، سپوږمۍ کښې، اؤ پهٔ ستورو اسمانونو کښې
تهٔ موجود یې خدایه دَ فطرت ټولو څیزونو کښې
دا دَ بوج وړلو انساني دا سهارې چې دي
دو کښې ، سمندر کښې پهٔ کشتیانو جهازونو کښې
شپه کښې دَ شبنم پهٔ دې خاموشه فوارو کښې هم
اؤ سیلۍ باران ، پهٔ دریابونو ، اؤ نهرونو کښې
دومره اوچت غرونه فلک بوس پهٔ زمکه ښخ چې دي
دو کښې ، دَ شینکي پهٔ خورو ټولو څادرونو کښې

شین اسمان کښې چاودے چرته نشته دے، صفا دے دا
داسې دَ بې ستنو دَ چت ښکلي منظرونو کښې

دے هر زره کښې کائنات په دې کښې تا وینو
هم دَ الېکټران پهٔ رفتارونو حرکتونو کښې

چرته دَافلاک وسعت اؤ چرته بارېکۍ داسې
داسې لاتعداده اشارو ، اؤ شاهکارونو کښې

زمکه ده کرهٔ پهٔ خپل مدار، دَدې اثر چې دے
ورځې شپې ورې لوېې، اؤ رنګ رنګ موسمونو کښې

نه پهٔ انتها خبر ، اؤ نهٔ لهٔ ابتداواقف
داسې مو دَ ذهن لهٔ حیرت پهٔ جوړو غرونو کښې

ستا دَ یو ذرې نه بې خبره چې شبیّر کوم دے
هغه وینې تا ، ده عجیبه ، دَ زړهٔ ټوپونو کښې

## دَ خدائے پاک عظمتونه

که دا ټول سمندرونه سیاهي شي ، ونې جوړې شي دا ټولې قلمونه
پوره نهٔ به شي پهٔ دې باندې هېڅ کله ، دي زما دَ خوږ الله چې تعریفونه

زهٔ قاصریم له تعریف ئې خو بیا هم به ، کړم کوشش دا چې څهٔ حمد کښې حصه واخلم
خدائے دې وکړي چې قبول مې دا کوشش شي، چرته زهٔ چرته دَ خدائے پاک عظمتونه

خدائے خو خدائے دے فعال لما یرید دے ، مونږ بندیان یو حق زمونږه پرې څهٔ نشته
په مونږ حق دَ بندګۍ دَ هغهٔ دادے ، چې پهٔ هر حکم ئې مونږ عمل کؤونه

هغهٔ لاره پهٔ خپل فضل مو آقا ته ، ده ښودلې پهٔ هغې چې څوک روان وي
نازولي دَ الله شي ، پهٔ قران کښې ، دي راغلي دغه شانې آیتونه

شریعت ظاهر ته ګوري نو ظاهر مو ، دا پکار ده چې وي ټیک پهٔ هر صورت کښې
خو خدائے ګوري مو باطن ته پهٔ عمل کښې، چې ظاهر دي دَ هغهٔ مخکښې ټول زړونه

ګناهګار شبیّر دَ فضل امېدوار دے ، پهٔ طفیل دَ خوږ نبي ورنه دا سوال کړم
چې قبول مې مال اؤ ځان وخت و اولاد شي ، پهٔ دربار کښې ورسره دغه شعرونه

## نعت شريف

تعريف زۀ څنګه دَ حضور وکړمه ژبه زما دَدې طاقت نۀ لري
دَ هغۀ زړۀ زړۀ نۀ دے کاڼړے دے بس چې دَحضور څوک محبت نۀ لري
هغه محبوب دَ رب کريم مصطفیٰ
دے چې مظهر دَ هدايت مجتبیٰ
ځکه پۀ ژبه لرم صل علیٰ
درود سلام دې پرې همېش استوم زړۀ مې پۀ دې باندې حيرت نۀ لري
زمونږ دپاره دے رحمت مسقل
دَ هغوئ لاره هدايت مستقل
منبع دَ فيض اؤ دَ حکمت مستقل
چې څوک ترې کټ شو نو هغه پۀ دنيا چرته يو ځائےئ کښې به بچت نۀ لري
دے محبت ئې دَ ايمان تکمېل
اؤ اتباع ئې دَ احسان تکمېل
ښکلے تعليم ئې دَ برهان تکمېل
نوم اخيستونکےئې کۀ پاتې نۀ شو نو دا دنيا بيا څۀ حاجت نۀ لري
څوک چې ئې سېرت لولي انسان جوړ شي
متبع ئې مردِ مېدان جوړ شي
چې څوک ئې پرېږدي نو شيطان جوړ شي
د خدائےئ لۀ فضل شي محروم شبېره څوک چې عمل ئې پۀ سنت نۀ لري

## دَ خپل شيخ پۀ ياد کښې

فضل پۀ ما وشو يقيناً دا دَ سبحان
شيخ کامل ملاؤ شو چې اشرفِ سليمان
هغه شفقتونه چې پۀ مونږ ئې وو څه وايو به
دومره وو ډېر زيات چې مونږ نه ورک به شو خپل ځان
هغه چې زمونږ دَ زړۀ خبرې به پۀ خولۀ ئې وې
مونږه خوشحالۍ سره به پاتې شو حيران
هغه دَ سوالونو پۀ جواب کښې دَ علمونو زور
خپله پۀ نظر راتلل عيوب چې وو پنهان
هغه ملاقات کښې دَ سکون و اطمينان حالت
شو به مطمئن پۀ ملاقات هر پريشان

هغه تکلیفونو بیمارو مصیبتونو هم — ونۀ خوزولو ؤ ولاړ دَ غر پۀ شان
کله چۀ درویش اشرف درویش جمات شروع کړلو — پۀ استقامت ئې وو حیران جور دَ سلطان
چا پۀ مصائبو چې دَ نورو به زړل همېش — خپلو تکلیفونو باندې ؤ همېش خندان
نۀ شي ختمولے مناقب ئې دَ شبیّر قلم — غواړو پۀ طفیل ئې مونږ کیفیت احسان

## دَمینې پیغام

دا پیغام دَ محبت دے عاشقان پۀ دې گویا دي
دا خبرې دي دَ زړونو دا خبرې دَ وفا دي
دې اشعارو کښې دَ خپل شېخ کیفیات ما څۀ بیان کړو
دَ الله والو احوال دي دا احوال کله زما دي
څۀ احوال پۀ کښې دَ نورو څۀ احوال پکښې زما هم
دي زما چې کوم خراب دي چې کوم ښۀ دي دَ بل چا دي
داشعارو پۀ صورت کښې کړو مې پیش طریقِ جذب
بنده څنګه دَ الله شي جوړېدے پۀ دې کښې دادي
دَ دنیا دَ محبت نه بنده څنګه خلاصیدے شي
بې دَ یار دَ محبت نه پنجې کلکې دَ دنیا دي
زړۀ بادشاه دے اے شبیّره دا دَ خدائے کره چې دَ خدائے شي
پۀ هغو کښې تۀ شامل شه چې مئین څوک پۀ الله دي

## نۀ شم

دې مرض کښے لۀ خپل ځائے خوزېدے نۀ شم — بې دَ یار دَ دارو زۀ جوړېدے نۀ شم
زما زړۀ دَ پاک الله سره تړلے — دَ مخلوق سره اوس زړۀ تړلے نۀ شم
زۀ دَ رب دَ محبت حلقه کښې بند یم — زۀ دَدې حلقې نۀ کله وتے نۀ شم
زۀ دَ خدائےئ دَ محبت پۀ اور یم سوے — زۀ دَ نفس دَ اور لمبو ته کتے نۀ شم
اوس دَ خپلو سره خپل یم پۀ خپلوۍ کښې — بس کوشش دے زما دا چې پردے نۀ شم
نۀ ملا یمه نۀ پیر اؤ نۀ زۀ شېخ یم — زۀ عاشق یمه دا عشق پرېښودے نۀ شم
زما سترګے دَ جانان پۀ لور غړېږي — دَ جانان پۀ حیثیت بل لیدے نۀ شم
پۀ هرڅۀ کښې مخامخ راته ښکارېږي — پۀ شبیّر افسوس کۀ بیا هم سړے نۀ شم

## دَمينې شراب

کۀ چا وڅښل کله هم شراب دَ مينې　　ورته بيرته به شي بيا کتاب دَ مينې
بې له دې وي صرف هسې قيل قال ، دے　　سوال دَ مينې ته پکار جواب دَ مينې
چې سبق چاته وي ياد نه چهټي کيږي　　مدرسه کښې دے جدا حساب دَ مينې
تريو تندے دَ محبوب کله برداشت کيږي　　عذابونو کښې دے سخت عذاب دَ مينې
لږ کلام ته ئې فارغ کړه ځان غافله　　ور قربان شه څنګه دے خطاب دَ مينې
دا دنيا به شي ترې پاتې اے شبيّره　　بيرته چا باندې که شولو باب دَ مينې

## دا پېغام دَ محبت

دَ دنيا هر کس دې واخلي دا پېغام دَ محبت
څوک دې مونږ ته هم وښائی څه احکام دَ محبت
پۀ خبره دَ محبوب خپل عمل څنګه عاشق نۀ کړي
دے عاشق څنګه اؤ څنګه ئې څښلے جام دَ محبت
دَ محبوب چې کوم محبوب دے، دے زمونږه هم محبوب
که مونږ نۀ يو متبع ئې يو ناکام دَ محبت
طريقې چې دَ هغۀ دي مونږ ئې څنګه پرېښودے شو
دي پکار چې مونږ اوچت کړو هر يو ګام دَ محبت
کړه خبره تۀ واضحه پۀ هر کس باندې شبيره
نعرې صرف پکار نۀ دي پۀ هنګام دَ محبت

## دَ مينې دنيا

ده جدا اؤ عجيبه دنيا دَ مينې　　تکبر ريا پۀ دې کښې به نۀ وينې
ده تنګي چې دَ نظر پۀ دې کښې نشته　　دا چينه ده دَ وفا اوبۀ ئې سپينې
وسعتونه څوک دَدې معلومولے شي　　عقل دے ګته پۀ خولۀ ، سترګې خيرنې
خواهشاتِ نفساني خو سوزول کړي　　اؤ دَ روح جذبې دَدې ښکلې مهينې
اوس خپل زړۀ دې بس دَدې سره اشنا کړه　　لارې پرېږده اوس دَ نفس سختې سنګينې
دَ هغۀ چې دے محبوب ستا هم محبوب دے　　خوش قسمت ئې چې دخپل محبوب پۀ دين ئې
طريقه کۀ دَ هغۀ خپله کړه تا نو　　بشارت درکوم زۀ دَ خدائے نياز بين ئې
چې څوک نۀ مني داښکلې لاره پرېږده　　خپله اوبۀ خوري دَ نفس غوبې سنګينې
مهربان هغه دےزيات پۀ مونږ زمونږ نه　　ولې توئې نۀ کړم پرې زۀ دَ زړګې وينې
اے شبيّره دا دَ زړۀ نغمې دې بس کړه　　نن صبا هضميږي نه اوبۀ شيرينې

## دَ مينې زور

تنده نهٔ ماتئ چې جام کوم راکوې ‌‌ ‌ بل جام ډک کړه لاس لهٔ دې اونهٔ دروې
دَ عشاقو مېخانه ده څښل راڅښل دي ‌ ‌ ‌ څهٔ سحر اؤ څه ماښام به دلته څښې
دي مدهوش خو دومره هوش پکښې موجود دے ‌ ‌ ‌ تابعدار دي کار دَ دوی کهٔ وګورې
تنهائي کښې څوک پهٔ ما شراب څښوي دا ‌ ‌ ‌ پهٔ اوبو راکوزوي دَ اور لمبې
دَ عشق نُور پهٔ پټولو پټ شي څنګه ‌ ‌ ‌ دې کوشش کښې خو به ئې نور څرګندوې
دا دَ مينې اور دے څنګه پټېدے شي ‌ ‌ ‌ نورشي زيات چې څومره دا دباووې
پهٔ جامونو باندې کله کار کېدے شي ‌ ‌ ‌ ټول دې لرې شي کهٔ ته ئې راسرې
دَ پټرولو اور چې نهٔ مري پهٔ اوبو نو ‌ ‌ ‌ شي به مړ کهٔ جام پهٔ لاس خپل راکوې
زما زړهٔ بې قرار تاته ښهٔ معلوم دے ‌ ‌ ‌ شومه غېر دَ ټولو زهٔ چې تا پسې
حد دداسې مينې څنګه شي کېدے چې ‌ ‌ ‌ اور دے، زيات شي دے چې ئې څومره مړ کوې
مرګے ولې به خوشرنګ نهٔ وي شبيره ‌ ‌ ‌ مرګ نه پس دَ ملاقات چې دي وعدې

## دَ مينې فکر

دَ هغهٔ چې نهٔ شي څوک څهٔ به کوي بيا ‌ ‌ ‌ کوم مقصد دَ خپل ژوندون به خپلوي بيا
چې دَ يار وصل مقصود مو دَ ژوندون شو ‌ ‌ ‌ نولهٔ وصل به ئې ځان څوک صبروي بيا
زهٔ پهٔ خپل جانان به هر څهٔ ورقربان کړم ‌ ‌ ‌ لېونے کهٔ مې دنيا خير دے بولي بيا
دَ انسان دنيا مقصود نهٔ ده نو څنګه ‌ ‌ ‌ دَ دنيا دَ ژوند دپاره غوښې خوري بيا
دا زړګےچې دے جوړ شوے چا دپاره ‌ ‌ ‌ دَ هغهٔ غېر دې کښې څنګه راولي بيا

کوز شبّير شولو دَ زړهٔ پهٔ مېخانه کښې
اوس شراب دې دَ عشق دم پهٔ دم ښهٔ څښي بيا

## دَ زړهٔ خواهش

زړهٔ مې وايي اوس چې صرف بس آغوش کښې دَ خپل يار وے
بس هغهٔ سره مشغول يوازې وے پټ لهٔ اغيار وے

سر سجده کښې زما پروت وے قرآن سترګو ته مې مخکښې
زړهٔ کښې يار ، کعبه ککو کښې وے ، پهٔ خولهٔ مې دا اشعار وے

## دَ مینې سترګې

عقلمنده کړه پېدا سترګے دَ مینې
چې دَ مینې دا دنیا پرې ته وینې
صرف عقل خو به تا یو سوداګر کړي
اخلې څنګه به اسمان که پهٔ زمین ئې
زړهٔ کړه ډک دَ هغهٔ یو دَ مینې ګوره
ستا هر څهٔ هغهٔ سره دي کهٔ ذهین ئې
پهٔ دنیا پسې تهٔ مهٔ مره ده نیمګړې
تهٔ دَدې ټول کائینات چې نازنین ئې
دَ تقویٰ لباس تهٔ واغونده شبیره
پهٔ دنیا پسې دا نهٔ کړې تهٔ خبرنې

## دَ عشق پېغام

زهٔ دَ عشق پهٔ پېغام باندې مامور یم
لهٔ هغې وخته پهٔ داسې لیک مجبور یم
چې پهٔ زړهٔ کښې مې پېغام دا چا القا کړو
نو دَ زړهٔ نه ئې لهٔ وخته زهٔ مشکور یم
اوس پکار مې دي هغه چې ئې پکار دي
چې پهٔ عشق حقیقي باندې مخمور یم
پټ اسباب او پهٔ علل حسن ازل شو
ده مرضي ئې زهٔ عاشق خو دَ مستور یم
دَ هغهٔ دَ در مرهم راته پکار دي
پهٔ زخمونو دَ دنیا زهٔ شبیّر سُور یم

## مینه اور دے

مینه اور دے چې کوم زړهٔ کښې دا بلیږي
هغه زړهٔ دَ یار پهٔ مینه کښې سوزیږي
زړهٔ کښې ئې صرف دَ یار غم وي نور څهٔ نهٔ وي
دَ ده زړهٔ بس لهٔ محبوب څنې تاویږي
چې کوم زړهٔ بلد دَ مینې سره نهٔ وي
نو دَ بل دَ مینې څهٔ هغه خبریږي
دغه زړهٔ دَ خپل محبوب مینه کښې مست وي
اوښکې ئې سترګوکښې بیا کله حصاریږي
یوه ویره پهٔ دې زړهٔ وي مسلطه
کهٔ محبوب شولو خفه بیا به څهٔ کیږي
چې مئین کله پهٔ خدائےځ وي څوک شبیّره
دَ ایمان پهٔ خوږو هغه کس پوهیږي

## دَ مینې جوش

تنده ئې دَ مینې ختمېدے نهٔ شي
څوک ئې بیا لهٔ مینې راوتے نهٔ شي
څومره به وي غرق دریاب دَ مینې دا
مهٔ پرېده ادب معلومېدے نهٔ شي
چپ کښېنه دَ مینې سمندر دے دا
دلته بې لهٔ ټیټ سر څهٔ مونتے نهٔ شي
وګوره جمال ئې تصور کښې لږ
اوس دې جوړې سا بره راتلے نهٔ شي
نفس زما روح بند پهٔ بند تړلے دے
بې لهٔ عشقه دا ازادېدے نهٔ شي
زړهٔ کښې هله وي شبیّره یار زما
غبر ئې چې زړهٔ کښې پاتې کېدے نهٔ شي

## دَ مينې تنده

تنده مې دَ مينې ماتېدے نهٔ شي　زړهٔ مې بې قراره صبرېدے نهٔ شي
بس چې اوس دَ يار پهٔ کار مشغول زهٔ وے　وخت مې بې لهٔ دې نه تېرېدے نهٔ شي
ياد باندې زړګے ئې خپل اباد کړمه　بې لهٔ دې چې دے ابادېدے نهٔ شي
زړهٔ کښې خو رازي پهٔ خيال کښې نهٔ رازي　دې باندې خو څوک هم پوهېدے نهٔ شي
نقش ئې نوم شبيّره کړم پهٔ زړهٔ باندې　ګند دَ دنيا بې لهٔ دې وتے نهٔ شي

## دَ مينې درياب

لامبوزن چې وي دَ مينې پهٔ درياب　دَ هر سوال دپاره وي ئې يو جواب
پهٔ عزت اؤ پهٔ پېسه باندې اړ نهٔ وي　نهٔ لري بيا څهٔ دَ وخت حساب کتاب
خوشحالي ئې ملاقات بس دَ جانان وي　لهٔ جانان ئې جدائي ګرځي عذاب
مينه ښهٔ سره بې شکه ډېره ښه ده　کهٔ وي بد سره نو شي خانه خراب
دَدې مينې بس لائق خو صرف خدائے دے　نورې مينې دَ دنيا خيال اؤ خواب
دَ الله دپاره هره مينه ټيک ده　اؤ دَ نفس پهٔ هره مينه دے عتاب
نورې مينې دَ دنيا تو کړه شبيّره　توبه وکړه ، دَ الله شه ، دے ثواب

## زړهٔ ورکول

نه دي اسان څهٔ پروانه جوړېدل　پهٔ سوزېدلو مستانه جوړېدل
زړهٔ ورکول چاته څهٔ لوبې نهٔ دي　چې دَ بل چا وي ديوانه جوړېدل
چې زړهٔ مئېن وي دَ عاشق وي پکار　بس قيل و قال ته بهانه جوړېدل
پهٔ خپله غواړي لېوني دَ محبوب　دَ دهٔ دَ غشو نشانه جوړېدل
شبيّر خو څکه روزانه اوس ويني　ښکلي اشعار دا جانانه جوړېدل

## عشق

عشق دَ حق بنده هرکار ته کړي تيار　دَدهٔ صرف پهٔ دنيا کښې وي يو کار
چې محبوب رانه خفه نه شي هېڅکله　غواړي داچې پهٔ هغهٔ شي بس نثار
دَدهٔ ژوند ټول دَ محبوب څنې څارېږي　دَ محبوب خوښه بس دهٔ ته وي پکار
دَ محبوب خيال کښې بس دے پهٔ لار روان وي　دهٔ ته نهٔ ښکاري دَ لارې دندوکار

هغه کله طوفانونو نه ويرېږي چې دَ حق دَ لارې څوک وي شهسوار
رهبر وساته تهٔ ځان ته دَدې لارې پهٔ شبيّر پهٔ دې کښې وکړه اعتبار

## دَ مينې تقاضا

ستا پهٔ تکليف باندے داشور اؤداغوغا کومه ده ګوره نادانه چې دَ مينې تقاضا کومه ده
تهٔ ښهٔ خبر دَ تقاضو دَدې دنيا خو لږې اوس لږ خبر کړه ځان دَ عشق دغه دنيا کومه ده
تهٔ دَ هغهٔ چې شوې نو ستا بيا پاتې شوي څهٔ دي ټول دَ هغهٔ چې دي نادانه حصه ستا کومه ده
دا تکليفونه مصايب خو پهٔ هر چا راځي کهٔ وهې چغې نو دَ صبر ادا بيا کومه ده
قدم قدم باندې تهٔ مومې نعمتونه دلته ځان ته وګوره چې دَ شکر ستا ادا کومه ده
عقل نه کار واخله اؤ نفس دباؤ شبيّره کړه خپل هغه کوه بيا چې مرضي دَ پاک الله کومه ده

## پټ پټ بلېږي

دَ عشق اور پټ پټ بلېږي زړهٔ الله ته نزدې کېږي
سترګې ډکې وي لهٔ اوښکو خو لهٔ سترګو نهٔ بهيږي
لکه شمع سوزېدل وي خو لهٔ ځايه نهٔ خوزيږي
زړهٔ کښې اور وي سر ترسره خو ترې څوک هم نهٔ خبريږي
دَ کتو سترګې لېوالې لهٔ خولې لفظ يو نهٔ دوړيږي
دَ محبوب خوږې خبرې اورې دے ، پرې نهٔ مړيږي
څوک چې نوم دَ محبوب اخلي لهٔ هغهٔ ځنې ځاريږي
دَ عشق اور چې کله بل شي بيا شبيّره نهٔ مړ کېږي

## دَ عشق جام

لږ دَ ساقي نه دَ عشق جام واخله اؤ دَدې ښنبل صبا ماښام واخله
دَ زړهٔ دنيا پهٔ دې بدله کړه ته کاميابي بيا پهٔ هر يو ګام واخله
تهٔ پهٔ دربار کښې به حاضر فوراً شې لږ خو پهٔ مينه ئې ته نام واخله
لږ دَ ساقي نه خو دَ يار دَ کوڅې پته اوس ښه پهٔ اهتمام واخله
بيا ترې پهٔ دغه لار دَ تلو طالبه پهٔ رو رو باندې ټول نظام واخله
زړهٔ کړه عاشق پهٔ خپل محبوب شبيّره بيا ترې نه هلته کښې سلام واخله

## مينه به څنګه حاصلېږي؟

چې دَ خدائے سره پهٔ مينه هر څهٔ کېږي نو دا مينه به بيا څنګه حاصلېږي

کۀ عمل پۀ ښو خبرو وکړو چا نو — زړۀ کښې مينه دَ هغۀ به داخليږي
دَ الله ذکر کثرت سره کول دي — دې سره زمکه دَ زړۀ رو رو نرميږي
چې صحبت دَ محبت والو نصيب شي — محبت بيا لۀ هغوئ منتقل کيږي
دَ مرګ ياد کۀ ورسره هم شي ملګرے — چې منزل دَ آخرت ورته ياديږي
دنيا دارو سره ناسته پاسته پريږدي — چې دنيا باندې بيا دے نۀ مئينيږي
دَ الله دَ مينې نُور به ورښکاره شي — دنيا دارو نه به خپله بيا پټيږي
دغه مينه سمندر دے حد ئې نشته — چې پۀ دې شي ښوک روان نو نۀ ختميږي
ترقيدل وي پۀ نصيب دَ عاشقانو — بې لۀ دې دوی اے شبيّره نۀ صبريږي

## عنوان دَ مينې

چې پۀ زړۀ باندې وګورم ، وګورم عنوان دَ مينې
خود پۀ خود ځکه شروع مې شي پۀ خولۀ بيان دَ مينې
زۀ کمزورے يم هر چاته رسيدے نه شم دنيا کښې
چې هر چاته مې ښودلے وے ښائسته جهان دَ مينې
اول مينه تۀ صحيح کړه بس پۀ خدائے باندې مئَن شه
بيا لۀ هر څۀ نۀ يکسو شه طالب جوړ کړه ځان دَ مينې
پۀ مجلس دَ عاشقانو ښۀ ورګډ شه هيله مه کړه
پۀ تندي کښې اؤ په زړۀ کښې دې کړه جوړ نشان دَ مينې
دا پيغام دَ مينې خور کړه چې خبر پرې ټول عالم شي
لۀ پاکوالي لۀ وسعت چې شي خبر انسان دَ مينې
اے شبيّره مفاداتو اور بل کړے دے دنيا کښې
وښايه دَ خدائے پۀ فضل دوی ته اوس ګزران دَ مينې

## لره

مينه دې دنيا کښې آفاقي لره — زړۀ کښې پۀ هر وخت کښې عاشقي لره
دا دَ دنيا مينه خو مرض دے ټول — بس يو دَ هغۀ سره دوستي لره
مۀ کوه هيڅ وخت کښې چالاکي کله — قول اؤ پۀ عمل کښې سادګي لره
ټول هر څۀ فاني دي دا فنا به شي — ځکه زړۀ کښې يو هغه هستي لره

هر یو عمل ستا دَ ګناه ډک خو دے
دې باندې توبه اؤ پښېماني لره

څومره ښکلے رب زمونږ پهٔ زړهٔ کښې دے
دې باندې دَ شکر یو مستي لره

زړهٔ زما سجده کښې ورته پروت دې وي
در دَ هغه ځائے تهٔ دَ تندي لره

تا وته اعلان دَ ملاقات چې کړي
کورته ئې پنځه وخته حاضري لره

مخکښې چې ولاړ ورته تهٔ کله يې
زړهٔ کښې ورته ګوره يکسوئي لره

دوست چې دَهغهٔ دے ستا هم دوست شولو
زړهٔ کښې ئې دښمن ته دښمني لره

غواړه دَ هغهٔ نه ، ورکونکے دے
طمع لهٔ بل چا مهٔ پهٔ زړګي لره

شان دَ لوئي بس هغهٔ سره ښائي
اے شبیّره زړهٔ کښې عاجزي لره

## نعره یو مستانه دَ زړهٔ

ډکه ده دَ میني دَ شرابو مېخانه دَ زړهٔ
زړهٔ زما چې کله نه دے شوے نښانه دَ زړهٔ

زړهٔ کښې مې چې کله نه راغلے دے جانان زما
وينمه چې ډکه ده دَ میني پیمانه دَ زړهٔ

زړهٔ مې دَ هغهٔ، هغه زما، څنګه ئې پرېږدمه؟
ډکه ده دَ میني دَ هغهٔ چې مې خانه دَ زړهٔ

زړهٔ کښې مې هغه دے دَهغهٔ پهٔ کور کښې ناست يمه
ښکلے تصور مې دے رامخکښې جانانه دَ زړهٔ

شور کښې دَ دنيا عقلونه ورک شولو شبیّره خبر
څوک خو دې نن واوري دانعره یو مستانه دَ زړهٔ

## اے زړګیه

اے زړګیه اوس راځه چې هغه یاد کړم
تاپهٔ یاد دَ هغهٔ ښکلے اؤ اباد کړم

چې هغهٔ سره منسوب غم وي غم نهٔ دے
دَ هغهٔ پهٔ غم خو خپل زړګے زهٔ شاد کړم

چې پهٔ قيد وي دَ هغهٔ هغه ازاد دے
دَ هغهٔ پهٔ قيد اوس خپل ځان هم ازاد کړم

ډېر خيزونه دَ زړګي مې ویراني ده
لږ مانوس ورسره خپل زړګے برباد کړم

چې پهٔ یاد ئې خپل ځان هېر کړو اے شبیّره
دَ خپل ځان دَهېرولو ئې استاد کړم

## خو پهٔ زړهٔ کښې دے زما

کهٔ لهٔ سترګو نهٔ مې پټ دے خو پهٔ زړهٔ کښې دے زما
پهٔ هغهٔ زړهٔ زما جوړ دے زما زړهٔ ئې دے اشنا
لرې ټولو نه شوم ، صرف دَهغهٔ شومه خوشحال یم
دَ هغهٔ پهٔ محبت چې زما زړهٔ دے مبتلا

دَ بیمار زړهٔ مې دارو دے ، تعلق مې ورسره دے
زهٔ به هم ورته وریاد یم ذکر کړے ئې چې دے ما
مونږه ئې جخت کړلو خپل ځان ته دَ رحمت حدئې څهٔ نشته
پهٔ مونږ څومره مهربان دے دا زمونږه خوږ الله

دَ شېطان ټول امیدونه پهٔ اوبو باندې لا هو شي
پهٔ توفیق دَ خپل رب باندې چې څوک وباسي توبه
اے شبیّره دَ خپل نفس دپاره پرېږدې جانان خپل
خدائے زمونږ دے غېرتي دا دَ غېرت ده تقاضا

## زهٔ پهٔ یاد کښې ئې مشغول یم

زهٔ پهٔ یاد کښې ئې مشغول یم اؤ سکون محسوسوم
ټول ذرات کهٔ مې دَ جسم شو مشغول پهٔ ذکر باندې
کاش هر وخت مشغول پهٔ ذکر وے چې زهٔ هم ورته یاد وے
زړهٔ مې تخت دَ تجلیو دے دا هم عرش اصغر دے
دا دنیا خو یو ظلمت دے دې پسې ولې مړهٔ کېږو
تکلیفونه دې دنیا کښې دي پوړکۍ دَ درجاتو
کاش چې زړهٔ زما قبول شي نور اعضاء خوئې خادمان دي
زما سترګې پهٔ هغهٔ دي اے شبیره ورته غوږ یم

زړهٔ خپل ډک لرم لهٔ یاد ئې ، هم پرې ژبه خوزوم
نو دَ داسې سعادت به شکر څنګه زهٔ کوم
زهٔ کهٔ خبر وي دا عادت به مستقبل کښې جوړوم
پهٔ دې عرش باندې به څنګه بیا زهٔ بل څوک کښېنوم
دَ الله مینه رڼا ده پهٔ دې ځان روښانوم
عافیت غوښتل پکار دي پهٔ دې هم ځان خبروم
دَ الله پهٔ احکاماتو به دا ټول مشغولوم
چې مې زړهٔ دے دَ هغهٔ ، پهٔ ذکر شونډې خوزوم

## دَ زړهٔ دنیا

کړه دَ زړهٔ دنیا اباده اؤ ښائسته پهٔ ذکر باندې
کهٔ تهٔ غواړې چې تهٔ یاد شې پاک الله ته ښهٔ حالت کښې
پهٔ ژړا دا ابادېږي که ژړا وي خدائے دَ وېرې
قیمتي وینښتهٔ وینښتهٔ لمحه لمحه پېسه پېسه ده
ته مؤمن ئې خدائے دې مل دے ولې وروستو وروستو کېږې

که تهٔ غواړې خوشحالي دنیا پرېږده څه ترې نه وړاندې
تهٔ حاصل به دا حالت کړې کهٔ لږ تهٔ ذکر وکاندې
ځان دې ومونډو محفوظ څهٔ ؟ چې پهٔ برق برق باندې خاندې
دا ضائع نهٔ شي ګني نو بیا وهې به دَ غم ساندې
اے شبیّره پهٔ هیڅ څهٔ کښې نهٔ شې تهٔ کافر ته لاندې

## اسان ولې ګران

چې پۀ لار باندې روان يو    مونږ له ذکر غافلان يو
دا اسان کار اؤ مفيد ډېر    هم پرېږدو ځۀ پاګلان يو
ډېر نقصان به مونږ خپل وکړو    دَ دنيا کۀ طالبان يو
کۀ مو حق ته کړله شا نو    پۀ دښمن کۀ اعتبار کړو
بيا رښتيا چې جاهلان يو    پۀ نقصان ولې خېران يو
ګوره خوښې ته ئې شبيّره    کۀ مئېن مونږ پۀ جانان يو

## ګرم اسوېلے

سکون نشته مې پۀ زړۀ کښې بس يو اور دے لګېدلے    آه مې ګرم، داسې ښکاري چې ځه شے دے سوزېدلے
باران ولې به دَ اوښکو پۀ مخ باندې نۀ ورېږي    لرم مينه دَ هغۀ زۀ چې ئې څوک نۀ شي ليدلے
لرې شه دنيا زمانه، زما زړۀ کښې ستا ځائے نشته    ستا زما تعلق دے ختم زړۀ مې بل طرف ته تلے
اوس پۀ ياد به دَ هغۀ زۀ همېشه رطب اللسان يم    زړۀ مې کور دَ هغۀ، جام مې دَ هغۀ دَ مينې ښکلے
چې ئې غېر دے اے شبيّره اوس دې نۀ راځي پۀ زړۀ کښې    بس هغه دې همېشه اوس زما زړۀ کښې وسېدلے

## ښکه زۀ کوم به

مبتلا دَ يار پۀ مينه کښې زړۀ ښکه لوبوم به    دَ يار وصل ئې مطلوب دے ښکه دا حاصلوم به
دَدې ژوند هره لمحه چې امانت زما دَ يار دے    غواړم دا چې ټول دَ يار شي خو دا ښکه زۀ کوم به
هغه غواړي چې نظر مې پۀ هغۀ باندې مرکوز وي    دَ اغيار چې اشارې دي ښکه ځان ترې نه ساتم به
زړۀ زما پرې مطمئن دے چې هر شے مې دَ هغۀ شي    نفس مې کوږ دے دے زۀ ښکه پۀ دې باندې پوهوم به
شرزما دَ ستر ګوم ځکه کښې دے خبر دې کښې چې مخفي دے    دَدې شر نه خپلې سترګې چې دي ښکه اړوم به
درشل ونيسه دَ شيخ تۀ اے شبيّره ښه مضبوطه    طريقه نوره بهتره درته بله ځۀ ښايم به

## دروازه دَ جانان

لۀ هر چا مونږه واپس شو سرګردان    دروازه يوه وه لرې دَ جانان
دَ مات زړۀ قيمت دې څوک لۀ هغۀ واوري    چې شي مات زړۀ دَهغۀ پۀ نزد شي ګران
يو هغه دے بې غرضه مينه ناک دے    نور کۀ ګورې دَ غرض دي طالبان
غواړه غواړه لۀ کريم تۀ شرم مۀ کړه    پۀ غوښتلو خوشحالېږي پۀ هر آن
چې نظر ئې پۀ ما پرېوت زما زړۀ بيا    اے شبيّره پۀ هغۀ شولو قربان

## پته خبره

دا ښکه به زۀ وايم چې ئې نۀ يم را بللے    کافي ده چې لۀ در نه ئې زۀ نۀ يم پاسولے

هغهٔ یوه خبره پته غوږ کښې زما مې وکړه
دَ خلقو پهٔ وېنا باندې پهٔ خپله شومه غلے
کهٔ خلق بولي ما بې کاره بولي دې چې بولي
اوس زهٔ خو بس دَ یار یم هغه نهٔ شم پرېښودلے
اوس زهٔ یم دَ هغهٔ یم دَ هغهٔ پهٔ هر حالت کښې
اوس هېڅ رشته مې نهٔ شي لهٔ هغهٔ جدا کولے
اوس زهٔ بس دَ هغهٔ پهٔ سهاره باندې قایم یم
بل هېڅ څوک اے شبیّره اوس ما نهٔ شي خپلولے

## پهٔ هغهٔ مې شه قربان دغه ژوندون

پهٔ هغهٔ مې شه قربان دغه ژوندون
هر ویښتهٔ مې دَ تن هم اؤ نن پرون
دَ هغهٔ پهٔ مینه مست یم خو پهٔ هوش شم
چې لهٔ ما غواړي کارونو کښې سمون
سر پهٔ سترګو به کړم پیش ورته خپل ځان زهٔ
کهٔ زما دا ځان څهٔ ګرځي قبلؤن
پیسه ځان اؤ وخت دې ټول پرې ور قربان شي
څهٔ بدبخته انکاري شولو قارون
څهٔ به زهٔ یم څهٔ زما به ملکیت وي
کاش نیستي دا ذریعه شوے دَ تړون
شاعري دې خوش نصیبه ده شبیّره
چې دَ میني دَ هغهٔ لري مضمون

## نېغه لار

پهٔ دې لار باندې ورځه څهٔ خطره نشته
لوئے مقصد دے ، بل مقصد ترې بره نشته
بس دَ یار رشته دَ میني اوس ده پاتې
کهٔ دا مینه نهٔ لرې نو مینه نشته
لامبوزن یمه دَعشق پهٔ دریاب کښې
پهٔ دې سیند کښې دَ ساحل څهٔ پته نشته
کهٔ محفل کښې یم بیا هم هغهٔ سره یم
یو لمحه مِ لهٔ هغهٔ نه جدا نشته
چې پهٔ عشق کښې دَ خپل یار څوک مبتلا وي
دَ زړګي دَدې مرض څهٔ دوا نشته
هر یو ځائے کښې بس هغه راته ښکارېږي
لهٔ هغهٔ نه مِ بغېر مشغولا نشته
دَهغهٔ نوم زهٔ پهٔ خوله ځکه اخلم
دَخوروالي ئې همسر پهٔ دنیا نشته
هر یو رګ کهٔ پهٔ سجده مې ورته پروت وي
دَټول عمر پهٔ سجده حق ادا نشته
بس زړګیه پهٔ هغهٔ پسې ژړېږه
دغه ښه ده ښه ترې بله ژړا نشته
زهٔ شبیّر دَ یار دَ میني چې شراب دي
هغه څښنم دَدې شرابو سزا نشته

## خبردار

لاره یو ده، دغه لاره هېره نهٔ کړې پهٔ هېڅ شان
بیا واپس راتلل دې نشته لهٔ غلطۍ بچ کوه ځان
ښهٔ پهٔ خیال کېږده قدم تهٔ ښوئېدل دې کښې ممکن دي
پهٔ دښمن تهٔ دهوکه نهٔ شې دے دے تاسره هر آن

نفس پوهیږي نه ستا خر دے، دے ناپوهه پۀ هر حال کښې ‏ دے پۀ زور باندې راټینګ کړه ګني ؤ به کړي نقصان

زړۀ پۀ ذکر منور کړه پۀ ښۀ بد چې خپله پوه شي ‏ دا علاج دَ شېخ نه واخله چې پۀ حق شې تۀ روان

زړۀ دَ ستا عرش اصغر دے پۀ دې باندې محنت وکړه ‏ استوا پۀ خپل شان وکړي چې پۀ دې باندې رحمان

پۀ طریق تۀ دَ سنت و صحابه ؓ باندې روان شه ‏ اختلاف کښې رهنما کړه خپل سنت اؤ هم قران

هلته کښې لاس مروړي خلق به شبیّره پۀ نقصان خو ‏ نۀ پرېږدي خلق غفلت بیا ولې دلته په هېڅ شان

## ستا

پۀ هر ځۀ کښې راته ښکاري بس خوبي ستا ‏ پۀ نظرونو کښې مې صرف ده هستي ستا
هېڅ یو څیز ستا مخکښې نۀ شي ودرېدلے ‏ اؤ پۀ ټولو ده لازمه بندګي ستا
دَ ایمان سره بس ستا نه ویرېدل دي ‏ څومره ښه ده اؤ اسانه دا دوستي ستا
زما هر یو عبادت خو پۀ غرض دے ‏ بې غرضه څومره وینم خبر خواهي ستا
چې څوک تا باندې فنا شي نو باقي شي ‏ نګهبانه دَ هغۀ شي خدائی ستا
خوشحالي خپله دَ هر چا خو خوښېږي ‏ زما خوښه ده بس دا، چې ده خوښي ستا
چې تا ونۀ پېژني څوک پېژني څوک ؟ ‏ څومره خوند کوي خوندناکه آګهي ستا
خو ش قسمت ئې چې لګیا ئې پۀ صفت ئې ‏ اے شبیّره شوه قبوله شاعري ستا

## مینه

مینه مینه ده دَ میني مثال نشته ‏ څوک بې میني دې دنیا کښې خوشحال نشته
مینه زړۀ سره خبرې کړي اے عقله ‏ کار پۀ قال کله چلېږي کۀ حال نشته

دَ دنیا مینه قاتله دَدې میني ‏ ځان ترې بچ کړه غټ دَدې نه بل جال نشته

چا چې حسن پیدا کړے دے نو خپله ‏ څومره وي حسین به دې ته دې خیال نشته

دَ مخلوق مینه کۀ غواړې نو مئین شه ‏ پۀ هغۀ چې ئې مثال دَ جمال نشته

پۀ تعریف باندې شبیّره دَدې دواړو ‏ یه لګیا چې ښۀ ترې بل ځۀ مقال نشته

## راسره ئې

کړم چې ځان سره سوچونه راسره ئې
چې پهٔ زړهٔ کړم ښخ نظرونه راسره ئې
پهٔ هر ځائے کښې پهٔ هر لوري زهٔ تا وینم
ولې وکړمه غمونه راسره ئې
دَ قران پهٔ تلاوت کښې تا زهٔ وینم
چې کومه زهٔ نمونځونه راسره ئې
خوږ مې ژوند دَ تنهائۍ شو ستا پهٔ مینه
څومره ښکلي دي خیالونه راسره ئې
دَ شبیرؔ دا شاعري یو حاضري ده
چې زهٔ وایمه شعرونه راسره ئې

## فنا اؤ بقا

پهٔ دربار کښې ئې حاضر شه پهٔ دې شان
چې هغه دې صرف یاد وي هېر کړې ځان
چې شې تهٔ دَ هغهٔ ستا به بیا هغه شي
کړې حاصل به بیا حیاتِ جاوېدان
عشق منزل نهٔ پېژني نو منزلونه
کوې څهٔ چې ورپسې شوې سرګردان
ځان فاني کړه ئې پهٔ مینه چې باقي شې
شه پهٔ ډېره لهٔ زمان او لهٔ مکان
خپل زړګے ورته پهٔ سچه باندې پېش کړه
چې قبول شي پهٔ دربار دَ پاک سبحان
بندګي پهٔ بندګۍ بس نصیب کیږي
خپله خوښه ئې پهٔ خوښه کړه قربان
یو ګل پیش کړه نو ګلزار به درته درکړي
دا زما محبوب دے څومره قدردان
زړهٔ تنګ نهٔ کړې دغه ځائے بل دے شبیرهؔ
لږ تاخیر کهٔ وي نو ناز دے دَ جانان

## حاصل دَ فنا

کړو هېر مې چې خپل ځان ما کړه حاصله بېخودي
فنا مې کړو چې ځان خپل نو هله شومه باقي
مطلب دَ بقا دادے چې باقي سره منسوب شي
دا یافت دے دَ خپل ځان دې ته وئیلے شي خودي
بغیر دَ بېخودۍ نه دَ خودۍ یافت ناممکن دے
دَ غېر پهٔ موجودګۍ کښې بیا هغه کله راځي
اول دے لا اله دے الا الله ورپسې وروستو
دا ستا بې نفسي لاره خپل جانان ته سموي
رومي اؤ اقبال یو دي پهٔ دې باب کښې اے شبیرهؔ
پوهیږي پهٔ دې راز باندې طالب چې کله وي

## دَ ذکر کېفیت

خوره ژبه شي زما پۀ نوم دَ یار دَ اخستلو چې مشغول شمه دَ میني پۀ شرابو زۀ پۀ ځنبلو
لا اله سره چې غبر دے دَ الله لرې گزار کړم الا الله سره کوشش کړم خدائے دَ درزۀ دَ نیسلو
اللهُ الله سره زۀ رنګ دَ خدائے ځان باندې خور کړم دَ الله کړم ځان کوشش کړم شریعت باندے دَ تللو
مست پۀ مینه دَ هغۀ چې شم پۀ درئې فریادي شم بیا نظرئې زۀ دَ میني کړم محسوس پۀ اعضاء خپلو
څۀ به حال مې دَ زړګي وي چې پۀ مینه راته ګوري زۀ یم ستا اؤ ته زما ددے پېغام پۀ اخستلو
چې پۀ ژبه اسم ذات لرم نو زړۀ مې هم جاري شي کړم کوشش پۀ مینه نوم ئې پۀ زړۀ باندې دَ لیکلو
زړۀ زما عرش اصغر دے اے شبیّره تجلي پرې وي هر وختې کوشش کومه دَ پېغام وصولولو

## وجد

وجد دَ میني دَ تحریک یو خوشګوار اثر دے نۀ دا مطلوب دے نۀ ثواب لري اؤ نۀ هنر دے
نۀ پرې اختیار نه پرې ګرفت شته دے یو عذر غوندې دا دَ جذباتو دَ هېجان دَ لطف ډک سفر دے
هر یو پۀ وجد کښې معذور وي اعتراض پرې مۀ کړه اؤ تواجد له دغې عذر یقیناً بهر دے
رقص دَ رومي دے اختیاري دا تواجد کښې راځي دَ دنیا مینه ده دَدې وجې نه در پۀ در دے
څوک خوشحالېږي چې ټوپونو ته دا هم ده دنیا دنیا فاني ده اے شبیّره پۀ دنیا ئې سر دے

## ذکر لوئے نعمت

ذکر دَ ذاکر دَ خدائے سره ملاوَول کوي ذکر دَذاکر زړه لۀ ګندونو پاکول کوي
ذکر علاجي دَ ذاکر زړۀ مئینوي پۀ خدائے ذکر ثوابي دَ میزان تله ډکول کوي
ذکر دے شراب دَ معرفتِ الٰهي ګله دا دَدنیا مینه دَ انسان نۀ هېرول کوي

ذکر علاجي دَ دنیا مینه لر کوي لهٔ زړهٔ   ذکر دَ الله مینه پهٔ زړهٔ کښې راوستل کوي
ذکر خزانه دَ اطمینان ده مطمئن کړي زړهٔ   ذکر چې کوي مهرباني دے پهٔ زړهٔ خپل کوي
ډېر لوئے مصیبت غفلت شبیّره دے ځان بچ کړه ترې   دلته کښې غافل لاسونه هلته به مروړل کوي

## وحدت الوجود

چې زهٔ کوم طرف ته ګورم راځي هغه پهٔ نظر   شي فنا هر څهٔ زما نه دا دَغې دے اثر
تجلي ئې پهٔ هر څیز باندې حاوي ده نو دا ځکه   چې پهٔ کوم څیز هم دا پریوزي شي هغه دَدې مظهر
شعاګانے چې پهٔ لاروي ښکارېدے نهٔ شي هېڅکله   چې کوم څیز پهٔ دې رڼا شي نو ښکاره شي برابر
حقیقت نه چې خبر شي پهٔ دنیا کښې کوم یو کس هم   پهٔ حېرت کښې مبتلا شي اؤ صورت ترې شي مفر
صورت نهٔ ویني شبیّره پهٔ ظاهره هغه کس بیا   چې نظر پهٔ وحدت راشي لهٔ کثرته شي رابهر

## دَ مرګ ښکلے تصور

دَ مرګ ښکلے تصور دوست سره دوست ملاوَوي
څومره زړهٔ به ئې خوشحال وي چې خپل دوست ته څوک ورځي
دا ژوند ښکلے امانت دے دَ محبوب دَ محبت
خوش نصیب دے چې څوک دې نه فائده حاصلوي
داخپل زړهٔ دې ښائسته کړه څومره ورځې چې ژوندے یې
کړه روښانه دا پهٔ ذکر مالک دلته به راځي
خپلي سترګې لهٔ ګند تاؤ دې کړي دَ خپل جانان پهٔ لوري
دَ زړهٔ سترګې دې کړه بیرته چې مقصود خپل ووینې
دَ هغهٔ دَ دښمن زوګ ته خپل غوږ بند کړه خپل غوږونه
کړه دَ یار پهٔ لورچې واورې چې کوم یار دې اوروي

اے شبیّرہ عبادت کښې ګنه دا چې ته ئې وینې
ګني وینې تا هغه خو هر صورت کښې یقیني

## څۀ مې وکړل

څۀ لۀ وم راغلے پۀ څۀ سر شومه
عقل اؤ دَ فکر نه بهر شومه
ملا زما دَ بوج دَ خپل نه ټیټه وه
بوج دَ نورو هم شو ، برابر شومه
ناست زما پۀ زړۀ دښمن زما نزدې
نفس مې دَ هغۀ شو مسخر شومه
غشي دَ وسواس ئې زما زړۀ ولي
پوه نۀ شوم پۀ ځان باندې، اوتر شومه
ولې دَ غفلت کوهي ته پریوتم
ځکه خو لۀ یار دَ در بې در شومه
خبر دے اے شبیّرہ وسله هم لرم
ما وکړه توبه نو څۀ بهتر شومه

## فنا اؤ بقا

پټ طوفان دے سمندر کښې لۀ بهره نۀ ښکارېږي
دَ ضربونو اثر زړۀ باندې زما نۀ څرګندېږي

دَهرضرب سره دَمیني چپې زړۀ کښې مې پۀ زورشي
پته نشته حجابات ورسره څومره لرې کېږي
زړۀ زما ستا پۀ لور ګوري پۀ هر وختې ورته ښکارې
سر مې تاته غورزولے ستا لۀ در نۀ وچتېږي

شکسته شوم ستا پۀ غم کښې زۀ دَدې ځنې بیا جوړ شوم
پته نشته عاشقان څومره پۀ دغه شان جوړېږي

تۀ پۀ ما باندې مئین وې ځکه تا باندې مئین شوم
نقشې څومره دَ زړګو پۀ دغه شانې ښائسته کېږي

هیره جوړه شي لۀ خاورې عاجزئ سره شبیّرہ
چې فنا کله فنا شي دَ بقا ترتیب سمېږي

## اوس څۀ شم

ما خپل سوچ کړو درې ورې اوس څۀ شمه
زۀ پۀ خپل نظر کښې اوس به څنګه یمه
کوم تصویر مې خپل چې جوړ ؤ پۀ زړګي کښې
زړۀ مې غواړي چې دا خپله وشلومه

چې کوم غواړې داسې جوړ زما تصویر کړه تش کاغذ غوندې پهٔ لاس کښې ستا راځمه

زهٔ بس داسې شم چې ته پهٔ هغې خوش ئې دَ خپل ځان باره کښې دغه زهٔ واورمه

زما هر څهٔ کښې نقصان دے ثابت شوے زهٔ پهٔ دې له تکبر راووتمه
دَ کرم ستا دَ نظر شبیّر طالب دے نظر وکړه دَ کرم چې مخکښې ځمه

## بندګي مې کړې قبوله

تکلیفونه ورکوے تهٔ بیا ئې خپله بچ کوے تهٔ
چې دَ لارې نه وي لرې ورته لاره هم ښایې تهٔ
کهٔ غلطیانې ګناه وکړو پهٔ توبه ئې ختموې تهٔ
مهربان پهٔ مونږ لهٔ مونږ ئې ځان ته مونږ نزدې کوې تهٔ
پهٔ هر څهٔ کښې تهٔ ظاهر ئې پهٔ ظاهر ځان پټوې تهٔ
زړهٔ زما پهٔ تا مئین دے خو دا مینه ورکوې تهٔ
ذکر څهٔ به کړم دَ نورو چې پهٔ زړهٔ کښې زما یې تهٔ
بندګي مې کړې قبوله چې بنده مې جوړوې تهٔ
دَ حبیب خپل لاره راکړې چې پرې خپل خلق بوځې تهٔ
وینښیدو ته ئې پرېنږدې رزائیل چې خوبوې تهٔ
زهٔ پروا څهٔ کړم دَ نورو چې پهٔ زړهٔ کښې مې راځې تهٔ
دا اشعار چې دَ شبیّر دي پهٔ خپل فضل راولې تهٔ

## مېخانو باندې به څهٔ کړم

زړهٔ زما خپل مېخانه ده مېخانو باندې به څهٔ کړم چې مې پارنهٔوي کوم ځائے کښې ویرانو باندې به څهٔ کړم

دَ دنیا پهٔ مېخانو کښې خو شراب دَ کثافت دي لهٔ ظلمت اؤ تیروډکو دې کوځو باندې به څه کړم

دَ دنیا پهٔ بازارونو ښهٔ اؤ بد واړه تول یو دي زهٔ پهٔ بیعه اخستونکو دې دهوکو باندې به څه کړم

ماشراب دَ میني څښلي ، ده دا مینه خومره پاکه دَ دنیا دَ فاني حسن پهٔ نخرو باندې به څهٔ کړم

زما زړهٔ اوس یو لیدلے دے مئین پهٔ هغه یو دے
دَ ظاهر دَدې کثرت پهٔ نظارو باندې به څهٔ کړم

داغوړونه مې دَ یار لهٔ لور نغمو سره بلد دي
دَهوس نه چې دي ډکې دې نغمو باندې به څهٔ کړم

چې دَ زړهٔ سترګې بینا شي نو دَ سر سترګې شي پټې
نو دَ پټو سترګو بیا دې نظارو باندې به څهٔ کړم

ما دَ عشق پهٔ ژبه دا غزل لیکلے دے شبیّره
بې مقصده دَ الفاظو پهٔ راوړو باندې به څهٔ کړم

## قال اؤ حال

مزین کړه قال پهٔ حال تهٔ
دا خپل زړهٔ کړه لږ سنبهال تهٔ

نفس پابند دَ شریعت کړه
کړه بهتر پهٔ دې اعمال تهٔ

دَ دنیا مینه پرېږده تهٔ
وشلوه دغه درونده جال تهٔ

زړهٔ دې خدائے باندې مئین کړه
اخله کار لهٔ انفعال تهٔ

تاسره عظیم طاقت دے
لږ خیال وکړه دَ خپل خیال تهٔ

اے شبیّره دَ هغهٔ شه
کړه حاصل دغه کمال تهٔ

## بې غرضه دوستي

دَ غرض مینه ده مینه دَ غرض، دوستي ده کله
بروسه پهٔ داسې خلقو باندې جوړه شي مشکله

بې غرضه محبت کښې اندېښنې خو داسې نهٔ وي
نو بیا داسې دوستي ولې نهٔ پالې تهٔ وایه ګله

لار چې تاته دَ دنیا ښائي هغه دَ ستا دښمن دے
چې دَ خدائے لار درته ښائي پهٔ هغهٔ پسې ورزغله

شیخ دَ زړهٔ ستا تعارف کړي دَ الله سره پهٔ مینه
ستا خبر خواه دے پهٔ اصلاح کښې ورنه ډډه کوې څهٔ لهٔ

زمونږ مینه دَ غرض ده دَ الله سره خو خبر دے
کهٔ پهٔ دې پوه یې شبیّره دې نه نشته لاره بله

## کړم

نن پهٔ مینه دَ محبوب محبوب چې یاد کړم
اؤ پهٔ دغه خپل زړګے ځان ته زهٔ ښاد کړم

مونږ ئې هر وختې یاد کړې یو هرځا ئې کښې
د زړګي خپل کور پهٔ یاد ئې نن اباد کړم

اسانیانې ئې راته خومره دي ښودلي
نو پهٔ دین کښې ئې نور څهٔ بیا ولې ایجاد کړم

صحابیان ئې پهٔ هغهٔ باندې فدا وو
دَ هغوئ عمل دَ خپل عمل استاد کړم

فقهاؤ بیا هغوی نه دي اخستي
دَ هغوی پهٔ شان کښې ځکه زنده باد کړم

زړهٔ مې شي دَ هغهٔ زړهٔ پهٔ شان شبیّره
دې دپاره دَ صوفي پهٔ زړهٔ زهٔ صاد کړم

## زړۂ پۂ تا زما فدا دے

زړۂ پۂ تا زما فدا دے — صرف ستا دے، بل دَ چادے؟
دَ جانان تصویر راسخ چې — پۂ زړګي کښې اوس زما دے
نور سرور دے هر طرف مې — زړۂ مې تاسره تنها دے
دَ دنیا مینه به څۂ کړم — منزل اوس زما صفا دے
چې یې کله نه مې زړۂ کښې — یو رنګ کیف دَ استغنا دے
اوس جلوت اؤ خلوت یو دي — چې مې زړۂ کښې فکر ستا دے
دَ ستا مخکښې سر مې ټیټ وے — اوس دَ زړۂ ذوق زما دادے
ژوند مې ؤ ګڼي به مړوم — چې نظر پۂ ما دَ چا دے
بوج پۂ زړۂ مې ټوله ورځ ؤ — حال دَ شپې اوس عجیبه دے
اے شبیّره دا ده مینه — څکه حال زما جدا دے

## کامیاب

دَ ژوند هره یو لمحه چې قیمتي ده بې حسابه — دَوخت یو لمحه دَ ستا نه پۂ دې کښې نۂ شي خرابه
کۂ پۂ یو ځائې دا څوک غواړي چې ان فن کښې کامیاب شي — نو حصول دَ شهادت ده طریقه بیا کامیابه
زړۂ دې ورکړه پاک الله ته چې دَ خدائے پۂ در قبول شي — دَ الله پۂ در کښې تۂ به پاتې نۂ شې بې جوابه
هوښتیار تیائې پۂ دربار کښې شي ګڼلے ذکر فکر — معرفت اؤ پۂ دعا باندې به بچ شې له عذابه
کۂ پۂ در کښې دَ الله تۂ قبلېدل غواړې شبیّره — در دَ شېخ ته دَ اصلاح دپاره ستون شه زر شه شابه

## ټوټې ټوټې

زۂ ټوټې ټوټې راغونډ شوم شومه بیا ټوټې ټوټې — زما زړۂ ئې امانت ؤ څکه لاړۂ ورپسې
نۂ داخوب دے اؤ نۂ خیال ورکښې نشته قیل و قال — زما زړۂ هلته کښې لاړو چې هغه ؤ چرته کښې
کله قرب راعطا کړي ما پۂ ناز کله جدا کړي — زۂ ملنګ یمه دَ در ئې اؤ هغه دے راسرې
اوس هغه زما سره دے دَ بل جا سره زۂ نۂ یم — نمونځ کښې ماته چې ملاؤ شي نوشي ختمې فاصلې
ټوله ورځ وم پۂ دې سوچ کښې چې به کله راملاؤ شي — چې دَ شپې ئې ملاقې شوم ختمې شولې اندېښنې
دَدې لارې منزل دادې چې پۂ زړۂ کښې هغه راشي — لېونتوب کښې شبیّر ټیک شو عجیبه دي ننداري

## بې قراره زړهٔ

زړهٔ مې بې قراره دے صبرېږي نه — زړهٔ ئې پوهوم خو دے پوهېږي نه
تا ورته پهٔ مینه څهٔ ويلي دي — اوس هډو بل چاته ئې غوږ کېږي نه
زړهٔ مې ورپسې لهٔ ګوتو ووتو — اوس مې پهٔ سینه کښې اېساريږي نه
دے منتخب کړے تا لهٔ کله نهٔ ؟ — ما ته خو دا هېڅکله یادیږي نه
راوړې کهٔ ددهٔ خواهشات مخې ته — دے پهٔ دغو باندې خوشحالیږي نه
عقل قابو شوے دے ددهٔ اؤ دے — بالکل شریعت نه بهر کېږي نه
نفس چې دهٔ ته ګوري نوخپل لاس مروړي — وس ئې چې پهٔ دهٔ باندې رسیږي نه
زهٔ غواړمه صرف دَ خپل یار غیره — دې نه مې بس بله اوس خوښیږي نه
دي دَ زړهٔ خبرې دَ شبیّر پهٔ خولهٔ — دے چې پهٔ بل څه باندې پوهیږي نه

## ذوق و شوق

ذوق و شوق ګورې دین نه دے — کهٔ دَ دین وي نو بیا ښهٔ دے
کهٔ دا نهٔ وي فکر مهٔ کړه — کهٔ وي ، فضل دَ هغهٔ دے
بس دَ دې فکر ساته تهٔ — چې منزل مخکښې مې څهٔ دے
پهٔ عمل کښې کمے مهٔ کړه — ضرورت تاته دَ دهٔ دے
توبه زر کوه شبیّره — دَ مرګي غاښ ډېر تېرهٔ دے

## دَ میني لټونتوب

خلق وايي کهٔ عاشق ته دیوانه — وشو څهٔ کهٔ ستا پهٔ نزد وي فرزانه
سوزېدل دَ پتنګانو خوږ مسلک دے — بس یو دا کهٔ ستا پهٔ نزد وي پروانه
کله منډه تر صحرا کله ځنګل ته — ستا پهٔ یاد کښې ده ادا مجنونانه
زهٔ خو غواړم چې مې راز پهٔ زړهٔ شي پاتې — یم معذور جوړه نعره شي مستانه
اورکي پهٔ شان دَ خلقو رهبري کا — پهٔ تیرو کښې پهٔ طریقِ جانانه
شبیّر غواړي زړهٔ بېدار پاک لهٔ غفلت اؤ — اداګانې پرېښودل جاهلانه

## هم زده کول دي

سر دَ حق پهٔ معرفت کښې ټيټول هم زده کول دي — ''زهٔ زما'' دَ خپل زړګي نه ختمول هم زده کول دي
ډېر کا رونه به خپل تاته دَ فضولو ډک ښکاره شي — تصوردې لهٔ شهرت لرې کول هم زده کول دي
مسٔلې حل نهٔ شوې ستا پهٔ رواجي مال خرچ کولو — چې نادار دې پهٔ هغو مال خپل خوړل هم زده کول دي
تهٔ تر کومې بې مهاره لذتونو کښې به بوخت ئې — دائرې دَ شريعت کښې دوی راوړل هم زده کول دي
مسلح کړه پهٔ اخلاقِ حميده باندې خپل ځان تهٔ — رذائل دَ نفس خپل ټول دبا وول هم زده کول دي
ضروري دغه کار ډېر دے خو اسان نهٔ دے هېڅ کله — دې د پاره شېخ کامل ته خوورتلل هم زده کول دي
دَ دنيا دا ټول څيزونه ستا نظر کښې به وي ښکلي — زړهٔ دَ يار پهٔ تصور ښائسته کول هم زده کول دي
دَهر څيز ويرې دَ ستا نه جوړ بزدل خود لته جوړ کړو — ناراضګئ نه دې دَ خپل رب ويرېدل هم زده کول دي
تا ډېر خلق پخلاء کول خودې کولو کښې نا کام شوې — پهٔ توبه باندې اوس خدائے راضي کول هم زده کول دي
زړهٔ دې ډک دَ محبت وي عقل وي دَ دهٔ خادم دې — دوي پهٔ قېد دَ شريعت دواړه تړل هم زده کول دي
دَ مجرم نه چې محرم شې دې دپاره اے شبيّره — دَ دنيا پهٔ ځائے خدائے زړهٔ کښې راوستل هم زده کول دي

## کښې نهٔ وي

څهٔ به انسان وي چې مشغول پهٔ عبادت کښې نهٔ وي — نهٔ کوي شکرورکښې صبر مصيبت کښې نهٔ وي
عافيت غواړو پاک الله! چې ډېر کمزوري يو مونږ — غوښتل مو دا چرته کمے پهٔ محبت کښې نهٔ وي
مونږ ته بس ستا دَ محبت دا سهاره کافي ده — زړهٔ دې مشغول زما پهٔ مال اؤ پهٔ لذت کښې نهٔ وي
مونږ خو پهٔ تا باندې مئين يو دا زما سترګې — چرته مشغولې دَ دنيا پهٔ وجاهت کښې نهٔ وي
دا جهان ستا دے مونږ دَ ستا يو اؤ دا ټول دَ ستا دي — چرته پهٔ فکر کښې مې زړهٔ څهٔ ملکيت کښې نهٔ وي
تن اسانۍ باندې دا نفس چرته مائل مې نهٔ شي — نفس ته مې شرم اؤ حجاب پهٔ مشقت کښې نهٔ وي
قبول زما دې شي دا قلب و نظر پاکه ربه — تاريک مې ذهن نهٔ شي قلب مې دې ظلمت کښې نهٔ وي
مخکښې دَ ستا وے اؤ دَ زړهٔ نه ستا بنده جوړ شمه — چې زما زړهٔ بې لهٔ احسان بل کيفيت کښې نهٔ وي
زړهٔ دَ شبيّر تهٔ پهٔ خپل ياد باندې روښانه لرې — تهٔ ورته ياد شې داسې کله چې غفلت کښې نهٔ وي

## نامناسب حالت

خواهشات چې دَ نفس کله نه ختمېږي — اؤ پهٔ دې حالت دې زړهٔ نه خفه کيږي
نو ماتم پهٔ دې حالت درته پکار دے — سوچ کوه بياچې زما به څهٔ چل کيږي

دَ ژوند هره یو لمحه دې قیمتي ده چې تېر وخت پهٔ هیڅ صورت نهٔ واپس کیږي
تا دَ نورو فکر کښې ځان ولې هېر کړو پهٔ خپل ځان دې ولې زړهٔ نهٔ خفه کیږي
پهٔ دنیا کښې دې پهٔ نورو بیمارانو کله ځان نه زیات ستا زړهٔ پرې خفه کیږي
دَ شیطان دَ دهوکو جال نهٔ ځان لرې بچ کړه اے شبیّره ګني هر څهٔ دې ورکیږي

## پاره دَ هغهٔ وے

کاش چې زهٔ ژوندے بس پاره دَ هغهٔ وے مرګ زما چې وے بل چا دپاره نهٔ وے
زړهٔ زما بس دَ هغهٔ وے اؤ دماغ هم اؤ پهٔ ژبه باندې ذکر مې کولے
دشمني دوستي هغهٔ دپاره وے بس ماکولے چې لهٔ ما ئې څهٔ غوښتلے
دَ هغهٔ دپاره چپ وے اؤ ګویا وے خندېدلے ، سنجیده وے ، ژړېدلے
بس هغه مې وے پهٔ زړهٔ کښې بل څوک نهٔ وے الاالله نعره لهٔ زړهٔ مې لګولے
له هغهٔ نه مې هر وخت غوښتل جاري وے سر پهٔ در مې دَ هغهٔ بس کښېښودلے
دَ هغهٔ مینه اسره مې ده شبیّره چې څهٔ ما غافلوي ما هېرولے

## دَ دین ظاهر اؤ باطن

ظاهر دین لکه پوستکے دے خبر شه ټول کارونه پهٔ زړهٔ باندې منحصر دي
دا پوستکے محافظ دَ دین دے وروره کېفیات دَ زړهٔ پهٔ دې کښې معتبر دي

لهٔ ظاهر روګرداني دَ الحاد لاره لهٔ باطن غفلت نفاق سره قربت دے
دَ باطن اصلاح الله دَ ستانه غواړي بې لهٔ دې چې دي اعمال غېر مؤثر دي

پهٔ صحبت دَ عالمانو کښې کښېنه لرې چې ظاهر دې برابر شي شریعت ته
هم اعراض مهٔ کړه صحبت نه تهٔ دَ شیخ هم دَ باطن خبرونه ستا کهٔ پهٔ نظر دي

ټول اعضاء دې دي دَ زړهٔ سره تړلي ټول اعضاء اخلي اثر دَ ستا دَ زړهٔ نه
اؤ زړهٔ هم دَ دې اعضاء نه اثر اخلي اؤ له دې ټول مشائخ چې دي خبر دي

پهٔ خلوت تهٔ دَ اعضاؤ حفاظت کړه پهٔ صحبت دَ شیخ دا زړهٔ دې منور کړه
پهٔ طلب باندې زړګے کړه ورته مخکښې پهٔ اثر کښې مشائخ لکه دَ نمر دي

پهٔ ظاهر باندې ډهانچه دَ دین کړه جوړه باطن ټیک کړه دا ډهانچه چې شي جانداره
دَ شبیّر اشعار خواره پهٔ ټول جهان کړه چې دَ لارې دَ اصلاح لال و ګوهر دي

## ظرف مظروف

دَظاهر باطن مثال ظرف اؤ مظروف دے
پۀ ظاهر کښې دا باطن ګورې ملفوف دے
لۀ ظاهر بغېر باطن معتبر نۀ دے
لۀ باطن بغېر ظاهر کله معروف دے
دَ عمل ځائے کښې عمل بس پکارېږي
دَ کوشش ځائے دے کوشش دا نه چې چوف دے
لۀ خیالاتو نۀ بالا روحانیت دے
کار شاربل تشي شملې چې دَ فېلسوف دے
اے شبیّره زړۀ صفا دې کښې جوړېږي
تصوف دے له صفا نۀ چې لۀ صوف دے

## څۀ خبر ئې؟

دَ هو پټې اشارې دي څۀ خبرئې؟
څۀ زما دَ زړۀ قصې دي څۀ خبرئې؟
سټ زما محفل کښې ولې کله ټيټ شي
څوک مې غواړي څۀ دې کښې دي څۀ خبرئې؟
لۀ هغۀ طرف نه څنګه زۀ غافل شم
هر طرف ته ئې چرچې دي څۀ خبرئې؟
خپل نظر باندې نظر محسوسوم ئې
عرش نه زړۀ ته سلسلې دي څۀ خبرئې؟
چې هر کار زما ئې هېر کړلو لۀ مانۀ
اوس دا کومې منصوبې دي څۀ خبرئې؟
لا دې جام جوړې دَ عشق نوش کړے نۀ دے
چې دې زړۀ کښې اندېښنې دي څۀ خبر ئې؟
دعاګانو کښې دَ شپې ئې ملاقې شم
دَ جذب دې کښې چې لمحې دي څۀ خبرئې؟
چې دا وايې تۀ زما يې پۀ هغې وخت
دَ جذب کومې مرحلې دي څۀ خبرئې؟
خپلو اوښکو باندې زړۀ دې اوس صفا کړه
دَ هغۀ راتلل پۀ دې دي څه خبرئې؟
غلے غلے اوس شبیّر چې خموش ګرځي
پټې ئې زړۀ کښې نظارې دي څۀ خبرئې؟

## دَ بزرګۍ جال

اے سالکه خبردار! بزرګي پرېږده
دَ باطن ده ګندګي ګندګي پرېږده
پۀ لور ستا ګوتې کېدل دَ جاه يو جال دے
اے بنده دَ خدائے دَ نفس بندګي پرېږده
که پۀ سترګو کښې دَ خلقو غوث هم جوړ شوې
ستا پرې څۀ؟ بې ځايه دا خوش فهمي پرېږده
ښۀ ګڼل ځان نقصاني دي هر حالت کښې
شه هوښيار اؤ دغه سوچ نقصاني پرېږده
پۀ عيوبو دَ خپل ځان ، ځان ښۀ خبر کړه
دَ غفلت دغه خپل دور تاواني پرېږده
اوس خپل جال دَ بزرګۍ شبیّره وشلو
ځان اوس پوه کړه پۀ خپل ځان، خود رائي پرېږده

## دَ هغۀ شم

بس هغه مې وے پۀ زړۀ کښې دَ هغۀ شم
دَ هغۀ شم ، دَ هغۀ شم ، دَ بل نۀ شم
دا يو يو خپله ذره پرې ور قربان کړم
ده دعا مې چې پۀ دغه قبول زۀ شم
زۀ فنا شمه ، فنا مې هم فنا شي
دَ بقا پۀ دروازه دوباره وشم

چې اغیار دَ زړهٔ اوس زهٔ لهٔ زړهٔ خارج کړم — دَ هغهٔ دَ زړهٔ پهٔ سترګو بیا لهٔ زړهٔ شم
چې پهٔ سترګو ئی دَ زړهٔ شبیّره وینم — دَ هغهٔ چې نهٔ شم اوس هم نو بیا څهٔ شم

## دَ دنیا اؤ دَ خدائے پاک مینه

چې څهٔ سر دَ محبت دَ دنیا نشته — نو دَ حب الٰهي انتها نشته
چې نظر نه ئې څوک پرېوتو هغهٔ ته — تباهیٔ ته ضرورت دَ بل چا نشته
چې چا خپل څیز دَ هغهٔ لار کښې قربان کړو — کهٔ قبول شو څهٔ خطره ورته بیا نشته
دَ بتانو پهٔ دعوت چې چا هم پرېښود — بد نصیب دے زیات ترې بل څوک تباه نشته
پهٔ نعمت کهٔ دَ جنت نعمت دې یاد شو — دې نعمت نه بله ښکلي عطا نشته
زهٔ دَ ژوند نه اے شبیّره یو کار اخلم — دَ هغهٔ شم بل یو شوق اوس زما نشته

## دَ درجو نهٔ کړم طلب

دَ منزل پهٔ تلاش نهٔ یم دَ درجو نهٔ کړم طلب — دا آرزو لرم پهٔ زړهٔ کښې چې ما خپل کړي زما رب
لېونتوب دے چې دا غوارم چې حجاب دې مېنځ کښې نهٔ وي — پهٔ ما څهٔ وشو دا څه کړم دا غوښتل مې دي عجب
هر یو کار لره سبب دے زهٔ به هم اختیاروم دا — زما زړهٔ نه لرې نهٔ کړي البته هغه ، سبب
دَ یوې لمحې غفلت هم پکار نهٔ دے پته نشته — کهٔ غفلت کښې ئی ولیدلم راته جوړ نهٔ شي غضب
الله فضل پهٔ تا وکړه اے شبیّره ته ئې مل کړې — اهل حق سره اوس خدائے دې کړي نصیب درته ادب

## لهٔ نظر نه دَ هغهٔ پټېدے نهٔ شي

لهٔ نظر نه دَ هغهٔ پټېدے نهٔ شي — کهٔ بل څوک ئې پهٔ هېڅ شان هم لیدے نهٔ شي
دَ سر سترګو ته هغه کهٔ نهٔ ښکارېږي — خو لهٔ زړهٔ دَ سترګو دے پټېدے نهٔ شي
کوم نظر چې مانوس نهٔ وي ورسره نو — بیا لهٔ شر نه ئې بل څوک بچ کېدے نهٔ شي
کوم نظر به مې جانان سره ملاؤ کړي — دَ نفس ثقل نه څوک هسې وتے نهٔ شي
زهٔ شبیّره دَ هغهٔ پهٔ لوري ځم به — زړهٔ زما پهٔ بل طرف ګورې تلے نهٔ شي

## رنګ

پهٔ خپل رنګ کښې مې اوس رنګ کړه زما رنګ دے ختم شوے — بس ستا رنګ اوس زما رنګ دے دے دا رنګ اوس زما ښکلے
ستا دا رنګ غالب پهٔ ټولو، ټول رنګونه کړي دا جذب — پهٔ ظاهره باندې تور دے دَ الله پهٔ مینه سوے
زما رنګ اول فنا شو، دے نه پس پرې ستا رنګ راغے — دَ فنا بقا دا لار ده دا یو زور مې اوربدلے
زهٔ یم خاؤرې یم دَ خاؤرو، لیکن یم دَ چا خبر شه — امیدوار یم دَ امید زېرے مې زړهٔ کښې دے راغلے

ته مې مل شې پاکه خدایه سلسله بد نامه نهٔ کړم
پهٔ امید دَ عفو زړهٔ مې سلسله کښې دے ترلے
زهٔ شبیّر یمه حقیر یم سترګې خنګه کړم اوچتې
کهٔ الفاظ ښکلي زمادي دے حالت مې غورزېدلے

## رضا بالقضا

خپل مالک کهٔ مې راغواړي نو سامان لرم تیار
کلمه لرم پهٔ زړهٔ کښې اؤ پهٔ ژبه استغفار
ډېر غفور دے، ډېر رحیم دے، هم سبحان دے، هم عظیم
دَ هغهٔ پهٔ رنګ کښې رنګ شه چې بیا شې باغ و بهار
ګلاب خنګه نال نادانه شي چې نشته ئې ماحول
تهٔ توبې ته تیار نهٔ ئې دَ رحمت کړې انتظار
مخ کهٔ تا دَ ګندګئ نه واړولو نو بیا ټیک ده
عزم وکړه دَ نیکئ اؤ پهٔ ګناه شه شرمسار
هر طرف ته دَ دنیا دي دا نقشې خورې چې ګورم
چې مې زړهٔ ته کله پام شهٔ دے ورکښې تصویر دَ یار
محبت بې وفائی پهٔ زړهٔ کښې خنګه یو کېدے شي
دا قانون دَ محبت دے چې یو ځل کیږي دا کار

## تیارے

وخت به راشي چې به تلل وي تیارے به ئې کول وي
شي لیکلے هر یو کار مو دا به هلته کښې لوستل وي
ننباسه مه خپل زړهٔ ته هر څهٔ دلته دَ دنیا تهٔ
دَدنیا سره ترلي زړهٔ ته تلل بیا ډېر مشکل وي
دا دولت اهل و عیال به لهٔ مونږ پاتې شي ټول دلته
چې اعمال زمونږه کوم دي هغه ځان سره وړل وي
بعضې خلق به خوشحال وي پهٔ جنت کښې، پهٔ مزو کښې
پهٔ عمل خپل پهٔ دوزخ کښې غوپې چاته به خوړل وي
څوک دیدار به دَ الله کړي پهٔ جنت کښې ماشاء الله
هغه څوک چې چا منلي به دنیا کښې دَ رب خپل وي
کهٔ مونږ غواړو شفاعت دَ خدائے دَ دوست مونږ تهٔ نصیب شي
دَ هغوئ ښکلې سنت به مونږ ته دلته خپلول وي
دَ شبیّر علمِ نافع باندې عمل صالح نصیب شه
پهٔ اخلاص اؤ شي قبول دې چې دا ټول به پیش کول وي

## مصیبت اؤ رحمت

خدائے له در نه مصیبت چې کله راشي
اؤ پۀ خوله باندې جاري اِنّا لِلّٰهِ شي
ورسره اِنّا اِلَیْهِ رَاجِعُون هم
چې ځوک ووا ئې رحمت پرې له هر خوا شي
پۀ هر یو تکلیف دے اجر خدائے له لوري
هم دَ بعضې بیماریو دا دوا شي
عبادت کښې بعضې خلق مخکښې نۀ وي
نو پۀ دې ئې بیا اوچته مرتبه شي
مصیبت باندې دَ صبر اجر ډېر دے
معیت ددۀ سره بیا دَ اللّٰه شي
فائده ډېره ده پرته مجاهده کښې
اے شبیّره کۀ یقین دې پرې پیدا شي

## سوز دَ زړۀ

سوز دَ زړۀ دَ زړۀ دَ میني علامت دے
دا دَ میني دَ دنیا یو کیفیت دے
دَدې سوز نه چې زړګے کوم یو خالي وي
دے دَ میني نه خالي دے مصیبت دے
چې زړۀ ښۀ وي هر څۀ ښۀ پۀ خپل خپل ځائےوي
زړۀ بادشاه دے پۀ دې ټولو ئې حکومت دے
البته دا زړۀ لۀ ټولو اثر اخلي
نن صبا دَ زړۀ دپاره ښۀ خلوت دے
ښۀ صحبت البته ښۀ وي لۀ خلوت نۀ
دَ مرید دپاره ښۀ دَ شېخ صحبت دے
هسې نیک کسان هم ډېر ښۀ دي شبیّره
خو دَ شېخ دَ سلسلې ډېر برکت دے

## ګل سره ازغے

ګل سره ازغے هم لګېدلے وي
غم هم خوشحالی سره تړلے وي
مۀ ګوره تۀ دا چې څۀ ملاؤ نۀ شو
ښۀ دے هغه چا چې شکر کړے وي
زیات شي نور نعمت ئې چې ځوک شکر کړي
اؤ دَ ناشکرۍ والا زړۀ ستړے وي
ځوک چې پۀ رضا ئې راضي زړۀ کړي خپل
غېږ کښې ئې هغه بس اخستلے وي
ټول ژوندون پۀ یاد کښې دَ هغۀ تېر کړه
دې کښې خو سکون ئې کښېښودلے وي
خوښه دَ هغۀ کړه ، خپله پرېږده تۀ
در به کړي چې چا به نۀ لیدلے وي
خپل عمل ته ګوره چې څۀ کوې
داسې وي ؟ دَ عشق جام چې چاښلے وي
مینه ابتلا دواړه لازم ملزوم
غم څنګه لري چې فنا شوے وي
غواړې کۀ شبیّره ته ئې وصل نو
زړۀ دَ واصلینو ته راغلے وي

## حسنِ ازل اؤ عارضي حسن

دے همت پهٔ کار پهٔ دې کښې څومره وس چې دَ انسان دے
دَ دنیا عارضي حسن ګورې جال یو دَ شیطان دے

دَ خالق حسن و جمال دے یو طرف ته، ځان لږ پوه کړه
بل طرف دَ عارضي حسن جلوه ده اؤ سامان دے

یو طرف خواهش دَ نفس دے اؤ موقع ده اؤ دعوت دے
بل طرف ته دَ خدائے امر دے حدیث دے اؤ قران دے

یو طرف ته جهالت دے خپلولي ده دوستانه ده
بل طرف ته لهٔ ګناه دَ بچ کیدو دَ رب فرمان دے

یو طرف ته بدعتونه دعوتونه عیش عشرت دے
بل طرف ته محبت دے دَ رسول دَ خدائے احسان دے

اے شبیّره دهوکه نهٔ شې دے نجات پهٔ عاشقۍ کښې
پهٔ الله باندې مېئن شه چې پهٔ مونږ ډېر مهربان دے

## دنیا اؤ عقبیٰ

خلق څهٔ پهٔ شهرتونو پسې سر دي
دَ الله دَ در چې نهٔ شو در پهٔ در دي

څوک مړهٔ کیږي لذتونو پسې هر دم
دَ چا خوښ پهٔ دې دنیا کښې سیم و زر دي

پهٔ دنیا باندې به موړ نهٔ شي هېڅ کله
خواهشات ضرورتونو باندې بر دي

دَ دنیا غمونه ډېر دي سر ئې نشته
څومره خلق دَ دنیا پهٔ دے کسکر دي

تنګ به نهٔ شې تهٔ پهٔ دې باندې شبیّره
کهٔ فکرونه دَ عقبیٰ ستا مستحضر دي

## دَ ذکر اثر

زړهٔ پهٔ جوش مې دے راغلې دا دَ ذکر جوړ اثر دے
څومره کېف دے اؤ سرور دے دَ بیان ځنې بهر دے

لا اله چې پهٔ زړهٔ وایم زړهٔ لهٔ غېر نه مې خالي شي
الا الله سره نیولے مې بیا کلک دَ الله در دے

الا الله سره يوائې پۀ باربار محسوسومه
چې زۀ بس دَ يو الله يم پۀ هغۀ مې بس نظر دے
چې کوم اللّٰهُ الله تصور کوم چې عرش نه
راروان دے نور اؤ دې باندې دا زړۀ مې منور دے
چې پۀ زړۀ کښې ئې زۀ ياد کړم هغه ځان سره مې ياد کړي
دَدې سوچ څومره مزه ده دا سوچ څومره معتبر دے
لۀ خپل نفس نه زۀ ويرېږم مطمَٔن نۀ يم خپل نفس نه
لۀ الله مې ډېر اميد دے ډېر کريم دے اؤ اکبر دے
پۀ خوشبو زړۀ معطر کړه دَ درود شريف شبيره
هم سلام پۀ نبي وايه دَ نبيانو چې افسر دے

## تنبيه

انتها کله لري کلام دَ عشق ودرومه اے نادانه جام دَ عشق
ودرول غواړې دَ دې دا به کړې څنګه شي کيدے چرته کښې اختتام دَ عشق
اخستل دي لۀ هغۀ ډېر ډېر پۀ مينه قدم ږده نور پۀ رو رو پۀ بام دَ عشق
ډک جامونه څښوه خلقو باندې هر وخت ضرورت خلقو ته دے مدام دَ عشق
شريعت پۀ جذب باندې کړه راتينګ تۀ اے شبيره دا کړه فيض نور عام دَ عشق

## نفس يو عجوبه

نفس کۀ ګاډے دے نو زړۀ ئې ډرائيور دے پۀ اصلاح کښې دَ زړۀ ذکر مؤثر دے
اؤ دَ نفس علاج دے پروت مجاهده کښې اؤ دَ شيخ تشخيص پۀ دې کښې معتبر دے
نفس زمونږ دَ خواهشاتو يو مرکز دے زورور دے پۀ ټول جسم ئې اثر دے
دَ فجورو دَ تقوىٰ جړې پکښې دي پۀ فجورو دَ دۀ هر طرف نظر دے
که فجور دې کړلو ختم دا تقوىٰ ده فجور شپۀ ده اؤ تقوىٰ دَ دې سحر دے
دَ تقوىٰ حمام دے بل پۀ خواهشاتو اے شبيّره خبر راوتے لۀ دې شر دے

## دَ مطلب غمے پۀ لاس کړه

دَ ناجنسو پۀ محفل کښې شامل نۀ شې تۀ هېڅکله
لۀ مخلوطو مجالسو نه پۀ هر صورت کښې زغله
چې پۀ وس کښې دې کوم کاروي پۀ سستۍ دا پاتې نۀ شي
چې پۀ وخت وکړې سستي ، ورپسې وروستو ژاړې څۀ لۀ

وسوسې کۀ وي بې شماره ، التفات ورپسې مۀ کړه
وسوسې ګورې تۀ رانۀ ولې خپل زړۀ ته پخپله
ده ګناه لکه دَزهرو، بچ کیدل ترې نه پکار دي
لۀ ګناه نۀ تښتېدل دي دې نۀ نیشته لاره بله
مقاصد متعین دي دین کښې ځان پۀ دې ښۀ پوه کړه
ذریعه ګورې مقصد چرې تۀ ونۀ ګڼې ګله
څۀ کول دي اؤ څۀ نه؟ دَدې نۀ ځان ډېر ښۀ خبر کړه
بې مقصده چې قصې دي دا پرېږده پۀ ډاګ ئې وله
کړه مشغول ژبه اؤ زړۀ پۀ ذکر باندې همیشه تۀ
دا عادت جوړول غواړي عاقبت جوړول ښۀ لۀ
دَ هغۀ میني دپاره اے شبیّره یو راغلې
دَ مطلب غمے پۀ لاس کړه ښه فائده ترې نه اخله

## امان غواړم

زۀ لۀ نفس دَ خواهشاتو نفساني اور امان غواړم
دَ دنیا دَ میني زۀ لۀ شیطاني زور امان غواړم
زړۀ زما دَ هغه یو دے، هغه یو مې دے پۀ زړۀ کښې
دَ دنیا لۀ ټولو مینو بېهوده شور امان غواړم
هر طرف ته دي فتنې برسېره مونږ پکښې راګېر یو
پاکه ربه تاسره له شیطاني دور امان غواړم
مادیت بېحیائی ده پۀ ډېر زور کښې پۀ هر ځائے کښې
اور دَدې دے پۀ غربا اؤ پۀ هر ځائے خور امان غواړم
دَ اصلاح مخالفت شبیّره ورځ پۀ ورځ زیاتیږي
حماقت لۀ دې نه زیات چرته به وي نور امان غواړم

## اعمال اؤ اخلاص

ده دنیا تلونکې راتلونکې دے میدان دَ عملونو
فېصله ده پۀ دې باندې دَهغه ځائے دَ څیزونو
عملونه ښۀ دي ونې دَ جنت، دا ونې نال کړه
اؤ اخلاص دَدې اوبۀ دي معامله دا ده دَ زړونو
قیمتي وخت خراب نۀ شي پۀ فضول کارونو دلته
بچ کول دَ ځان پکار دي ډېر لۀ دې حماقتونو
پۀ ګناه باندې مشغول کۀ ئې نو لږ خو دا سوچ وکړه
څۀ به وي کۀ مرګ دې راغے پۀ دې داسې حرکتونو
پۀ توبه باندې ځان پاک کړه لۀ ګناه نه اؤ دَ وړاندې
ژوند دپاره وکړه نیت اؤ بندوبست دَ ښو کارونو
ژوند زمونږه ویلې کیږي لکه واوره اے شبیّره
دا دَ کار کړه دې دپاره وکړه سوچ پۀ دې شعرونو

## دیوانه یم دیوانه

دیوانه یم دیوانه دیوانه یم دیوانه
کړمه ذکر زهٔ هر دم ئې ده نعره مې مستانه
وسوزم ویلي شم اؤ ګریوان پهٔ خپله سیرې کړم زهٔ
ځان کړم خاورې ، منع ما کړي لهٔ دې څوک هم نه نه نه
ځان پهٔ عشق کښې ئې کړم ویلي
وے مې سترګو کښې هغه بس
زهٔ دَ ستا یم ته زما ئې ده دَ زړهٔ مې ترانه
لګوي دې کهٔ پهٔ ما څوک دَ ریا لېبل لګئ دې
هغه غوارم، دنیا نه ، هغه غوارم دنیا نه
سوزیدونکے ئې دَ میني مومي جسم هر وخت نوے
دَ کاکي دغه ګفتار دے یو طریقِ جانانه
کله مخکښې زما راشي کله سترګو نه پهٔ شا شي
دا دَ عشق دے امتحان یو ، مخکښې څه نور ، پهٔ شا نه
عشق هوس کښې فرق څهٔ دے؟ اے شبیّره جواب واوره
دَ عشق ذوق فدا کیدل دي ، دَ هوس ذوق سوقیانه

## طریقِ جذب

لږ پهٔ رومي دَ شمس اثر وګوره دغه اثر ئې دَ نظر وګوره
قال کهٔ پهٔ حال تهٔ بدلول غواړې پیر ځان ته داسې برابر وګوره
څوک پهٔ دنیا باندې مئن چې دي نو حال پهٔ دنیا کښې ئې بدتر وګوره
شو ارماني دَ زړهٔ سکون دپاره دوی پهٔ دنیا کښې در پهٔ در وګوره
مینه دَ رب مو ژوند جوړئ مقصدي پهٔ ژوند کښې دا سوچ معتبر وګوره
دَ دې دنیا دَ نیمګړتیا شبیّره حال پهٔ ډېر غور پهٔ تېز نظر وګوره

## اخفاء اؤ اظهار

پهٔ ماباندې څښولے چې ساقي ؤ دَ عشق جام دَدې نه جوړ جوړ شوے دے دَ میني دا پیغام
اخفاء خو وه اؤ دور دَدې اخفاء هم ډېر طویل ؤ حاصل شولو له دغې دَ اظهار دا انتظام

شراب چې وي زاړۀ نو هغه نور هم مؤثر شي
دا داسې مېخانه ده چې په کښې نشته ناکام
دَ زړۀ دَ دې دنیا سفر جاري به وي تر مرګه
زیاتیږي ورځ په ورځ به دا سفرِ ناتمام
فنا کړه تۀ هر څۀ پرې هسې هم دا دَ هغۀ دي
کۀ وصل شو پۀ دې درته حاصل دے لوئے انعام
دَ عشق پۀ ژبه ولیکه شبیّره پۀ زړۀ باندې
دا زړۀ مې دَ هغۀ دے پۀ دې ختم شو کلام

## لږ پۀ هوش

اے زړګیه لږ پۀ هوش شه کۀ دَ عشق پۀ لاره تلل کړې
ده ادب وړومبۍ پوړۍ ئې تۀ پۀ دې به هم ختل کړې
پۀ قدم قدم ډاکوان دي پۀ صورت دَ لار ښیونکو
تلل پۀ لار دي خولۀ دوی هم ځان به هرخت بچ کول کړې
دا دَ عشق اور دے وګوره خو پۀ مینځ کښې دا ګلزار دے
پۀ دې اورکښې کوزیدل دي ځان پۀ دې به سوزول کړې
تۀ دَ یار وصل کۀ ژاړې دا ژړا به شپۀ اؤ ورځ وي
دا څۀ ګپ نۀ دے دا عشق دے ځان لۀ ځان به وروکول کړې
چې پۀ کومه لار روان ئې ازغي دې کښې وساوس دي
پۀ زخمي پښو به مرهم دَ تسلۍ تۀ لګول کړې
کله طور پۀ عشق ښکاره شي ، شي معراج کله نصیب هم
عشق دې وي خو چې نۀ ښکاري تۀ چې سر اوچتول کړې
ستا پۀ عشق کښې سوزېدو کښې دے سکون ماته معلوم دے
سوزېدل چې دې قبول کړي ورسره به دا غوښتل کړې
ستا ده لاره نېغه شوي اوس چې وندرېږې لارکښې
در دَ یار چې راشي هم نه ، دَ هغۀ به ځان کول کړې
دَ شبیّر ئې، دَ شبیّر نه، اوس منه چې تۀ دَ چا شوې
داسې کیږي عشق کښې،دا اوس ته هر چاته به ښودل کړې

## مراقبه

دَ هغۀ پۀ لور مې زړۀ دے پۀ هغۀ لرم نظر
دے ماحول لۀ دې جوړ داسې چې پۀ زړۀ لري اثر
یکسو شومه لۀ هر یو نه،ماسوا نه منقطع شوم
بس هم دا مراقبه شي چې شي داسې تصور
دَ الله الله الفاظ مې دي ګویا دَ زړۀ پۀ ژبه
زۀ پۀ غور اورمه دا، دے مې ټیټ کړے ورته سر

ښي طرف ته لطيفه چې نوم لري دَ روح هغې ته — پس دَ قلب مې توجه بيا پهٔ هغې وي برابر
بيا دَسرِ مزې زهٔ اخلم لږ او چت دَ زړهٔ دا ځائے دے — بيا خفي ته ترې نه ستون شم لطيفې دَ روح نه بر
دَ مرئ لاندے اخفا ده بيا دَدې تابيا کومه — دي دَ ټولو پهٔ دې جسم کښې ځايونه مقرر
دي نهٔ پس هر يو ويختهٔ ذاکر پهٔ خپله شي دَ جسم — دّ سلطان الاذکار ذکر شي جاري دننه بهر
بيا دَ دي نهٔ پس شروع مراقبات شي قسما قسم — دَ هر چا ترتيب جدا وي پهٔ طبعيت وي منحصر
ټول ترتيب دے منحصر پهٔ بصيرت باندې دَ شېخ نو — شبیّر وائي چې پرېږدې پهٔ هېڅ شان دَ هغهٔ در

## کړم

زړهٔ زما ؤ ستا ،اوس پيش هم درته ځان کړم — زهٔ ستا يم اؤ تهٔ زما دَدې اعلان کړم
فاني ځان کړمه فنا چې دا باقي شي — پهٔ دې باندې پهٔ خپل ځان باندې احسان کړم
زما زړهٔ کښې خو لهٔ مخکښې ستا ځائے جوړ ؤ — اوس دَ خپل زړګي دَ کور هم تا ميزبان کړم
حسدي دشمن زما کله داغواړي — زهٔ هغه به پهٔ دې باندې پريشان کړم
چې يو ژوند فاني قربان کړم پهٔ تا باندې — نو پهٔ دې به ځان زهٔ زنده جاويدان کړم
دا يو ژوند دے شمه دا قربانولے — شکوه ځان نه دَ تنګوالي دَ دامان کړم
شهادت غواړه لهٔ رب نه اے شبیّره — دا درخواست دَ سعادت به راوېزان کړم

## زړهٔ نهٔ تر خولې سفر

مسافت دَ خولې اؤ زړهٔ لېښت برابر وي — خو دَ دې دَ سمېدلو لوئے سفر وي
اعضاء ټول پهٔ خپل خپل ځائے ډېر زيات اهم دي — نجات ټول پهٔ دې زړهٔ باندې منحصر وي
مونږ خبرې دَ اصلاح پهٔ خولهٔ کړو ډېرې — کاش چې زړهٔ ته رسيدونکے ئې اثر وي
ضرورت دَ ډېر محنت وي دغه کار کښې — خو دَ شېخ تعليم سره ډېر مختصر وي
عقل نفس سره چې مل شي تماشه شي — چې دَ زړهٔ شي بيا جدا دَ دې منظر وي
خولهٔ بيباکه بې حيا سترګې لري چې — زړهٔ ګنده شي دَ هغهٔ ، پهٔ ګند ئې سر وي
دَ دنيا دَ ګندګۍ ظلمت محسوس کړي — زړهٔ پهٔ ذکر دَ الله چې منور وي
دَ دې زړهٔ تار دې اذاد کړه لهٔ خپل نفس نه — نفس دې هم پهٔ رياضت کړه چې بهتر وي
زړهٔ اؤ خولهٔ عادت پهٔ ذکر شي شبیّره — دَ هغهٔ ، کاميابي چې ئې مقدر وي

## الله الله کول

کله تاته چې دَ څهٔ کار هم کول وي — نو پهٔ دې کښې هميشه دې ويرېدل وي
چې هر کار دَ شريعت مطابق وشي — پهٔ هر کار کښې دَ هغهٔ دي بس منل وي

مهربان الله ناراض نهٔ کړې هیڅکله
هر یو حال کښې پهٔ هغهٔ دي زاریدل وي

پهٔ نیکیٔ کښې شرم مهٔ کړه څه ورمخکښې
کهٔ ګناه وي نو پهٔ دې دې شرمیدل وي

لهٔ دې لوئے در نه مایوس چرته کښې نهٔ شې
هیڅ اثر لهٔ وسوسو نهٔ اخستل وي

یو الله الله کوه هر وخت اؤ بل دي
دَ نیکانو صحبت هم اختیارول وي

بد صحبت نه بیا خلوت ښهٔ دے شبیّره
کهٔ دَ شر نه دَ خپل نفس دي بچ کول وي

## زړهٔ

خوښومه تا ، څهٔ نور زهٔ خوښوم به
غواړم ستا دَ میني غېږ ،نور څهٔ غواړم به

غواړم ځکه دا چې ته دا لهٔ ما غواړې
پهٔ لبیک وئیلو ستا پهٔ لور راځم به

تهٔ دا ووائې چې "دا زما عاشق دے
پرېږدئ دے" دغه مقصد حاصلوم به

زما زړهٔ ستا منتظر دے ، دې کښې راشه
کهٔ دا نهٔ وي زړهٔ زهٔ څنګه پوهوم به

دَ رحمت ئې نظر غواړمه شبیّره
شکر څنګه زهٔ دَدې نعمت کوم به

## تهٔ زما ئې

شمه ستا اؤ تهٔ زما شې زهٔ دا غواړم
دا مقصد مې دے دَ ژوند دې پسې ژاړم

دَ محبوب یاد کښې زهٔ هر وخت تړقیدلے
زړهٔ کښې دا مزهٔ لهٔ بل خیز څنګه راړم

زما زړهٔ ستا منتظر دے پکښې راشه
پهٔ راتلو دَ ستا اباد مې شي زړهٔ وایم

زما زړهٔ کښې ستا دَ میني اور چې بل دے
ستا نظر دے پرې ، پهٔ دغه نظر پایم

ځان اؤ زړهٔ مې ستا پهٔ‌یاد کښې ورقربان کړل
کړې چې ماسره کوه چې تول دَ ستا یم

سترګې ستا پهٔ لور، تهٔ زړهٔ کښې، تاته غوږیم
تهٔ مې خپل وګڼې لاس زهٔ پهٔ دعا یم

اوس امید لرم دَ ستا دَ تسلیٔ زهٔ
زهٔ شبیّر بې قرار زړهٔ سره تا ستائم

## علم اؤ کیفیت احسان

دَ علومِ نافعه حاصلول دي
اؤ دَ دې مطابق ژوند هم تېرول دي

دَ کامل شیخ پهٔ صحبت کښې ملاویږي
کیفیت چې کوم پهٔ زړهٔ کښې راوستل دي

انکشاف چې دَ عېبونو خپلو وشي
پهٔ دې شیخ باقاعده بیا خبرول دي

چې علاج هغه دَدې بیا څهٔ بیان کړي
چې څهٔ وائي نو هم هغه شان کول دي

چې پرهیز کوم چاته ووائیې خپل شېخ نو
لهٔ هغې خپل ځان پهٔ خپله بچ کول دي

ذکر اؤ مجاهدے سره شبیّره
مستعد شه پهٔ دې لارې باندې تلل دي

## لا الا الله

لا اله الا الله ، لا اله الا الله
بس مقصود زما الله دے مقصود بل نشته زما

زما هر څهٔ دې دَ خدائے وے اؤ زهٔ هم بس وے دَ خدائے
دا ښائیلي مونږ ته چا دي ؟ محمد رسول الله

طریقه دَ محمد چې پکښې نهٔ وي نو به څهٔ وي
اؤ چې خدائے د پاره نهٔ وي نو ضایع شي ټول دا بیا

دَ هغهٔ خوښه یوه ده طریقه دَ محمد
ټولې لارې بندې شوې لرې لاره ده یو دا

پهٔ الله دې مونږ مئین شو بس پهٔ شان دَ محمد
چې لازمه پهٔ هر څهٔ کښې دَ هغهٔ ده اتباع

دَ دنیا دَ محبت نه خالي زړهٔ کړه اے شبیّره
نهٔ راځي پهٔ هغه زړهٔ کښې چې کوم زړهٔ کښې وي دنیا

## جذب

جذب زړهٔ کښې دَ معشوق اول راتلل کئ
کرشمې خپلې پخپله بیا ښودل کئ

دے هغه غواړي چې غواړي ترې معشوق خپل
یعني دے بس دَ معشوق پهٔ مرضۍ تلل کئ

زړهٔ دَدهٔ عرش اصغر وي ځان پرې پوه کړه
دے هغه غواړي معشوق چې ترې غوښتل کئ

دنیا کله دَ هغهٔ مقصد کېدے شي
اخرت هغه هر وخت چې یادول کئ

پهٔ وَ ما رمیت اذ رمیت کښې ده
اشاره شبیّره تا پرې خبرول کئ

## دَ دیدار عالم

ثومره ښکلې به هغه وي نظاره نو
چې محبوب زمونږ خپل مخ کړي راښکاره نو

خوشحالۍ نه به دَ مرګ صورت پیدا ؤ
څنګه وي بهٔ دَ مرګ نهٔ وي چېء خطره نو

عاشقان به زړګي څنګه صبروي بیا
هر چاباندې مدهوشي به وي خوره نو

احساس وخت دَ تېرېدلو به شي ختم
خو دَ دې فکر بهٔ نهٔ وي چا سره نو

مونږ شبیّره پهٔ دې څنګه پوهېدے شو
عقل نهٔ شي اخستے دې کښې حصه نو

## دَ لیونتوب شوق

لرم شوق زړهٔ کښې دَ حق دَ بندګۍ ادا کولو
لاس کښې څهٔ لرم زهٔ څهٔ یم دغه سوچ زما راتللو

یو اوازمې لهٔ زړهٔ راغے چې دا نفس چې مې باغي دے
تابیا وکړمه دَدهٔ پهٔ سلاسل کښې دَ تړلو

ځان مال وخت ئې ماته راکړل دَ یو کار د پاره دلته
کوشش وکړم دَ هغې کار دلته کښې دَ پېژندلو

چې کول راته پهٔ دې باندې دي څهٔ، زهٔ هغه وکړم
چې ممنوع دي لهٔ هغو کوشش وکړم دَ بچ کیدلو

زهٔ ئې خپل کړم پهٔ دې امر چې دَ غیر کله جوړ نهٔ شم
کوشش وکړمه لهٔ غیر نه همیشه ځان دَ ساتلو

لېونتوب زما شبیّره دَ هغهٔ یادول غواړي — بیا دَدې مستۍ کوشش کړم پهٔ بیاض زهٔ دَ لیکلو

## دَ میني یو ښکلے انداز

کله دَ فردوس پهٔ لور دَ خپل ځان بره تلل وینم — کله تماشا دَ زمکې لاندې دَ ځان خپل وینم
داسې عجیبه انداز دَ میني دے نصیب ماته — خاورې وینم دې نه ملغلرې سازېدل وینم
کله دَ خیالاتو پهٔ صحرا کښې پریشان ګرځم — کله دَ عزت پهٔ منارو هم کښېناستل وینم
زهٔ ړوند پهٔ تلاش کښې دَ نور اووځم بهر ولې — ناساپه دَ ځان دَ پاسه نور زهٔ ځلېدل وینم
سترګو نه مې اوښکې راخطا دَ بې وَسۍ شولې — سیورې دَ رحمت نه پهٔ دې لاندې بیا راتلل وینم
بیا کله پهٔ ناز چې دَ هغهٔ دَ خوښون مست شومه — نیاز باندې لهٔ شرمه بیا خپل ځان ویلي کېدل وینم
ماخپله رضا کړله قربان ئې پهٔ رضا باندې — ځکه هر یو کار خپلې رضا ته سمېدل وینم
دا دَ عشق دنیا ده هر څهٔ هېر کړه اے شبیّره تهٔ — دے دَ زړهٔ ټکور مې چې پهٔ کوم ځان زارېدل وینم

## پهٔ خانقاه کښې پناه اخستل

لهٔ دنیا که امان غواړې پهٔ خانقاه کښې پناه واخله — دَ دنیا له کثافت نه لرِ ځان پټ کړه اؤ سا واخله
کوم زخمونو نه دَ نفس چې بې ارام ئې پهٔ دنیا کښې — دَ هغې دپاره شیخ نه دَ خانقاه څهٔ دوا واخله
اؤ پوښۍ دَ محبت هم پهٔ خانقاه کښې ملاوېږي — کهٔ طالب دَ محبت ئې دَ الله ، پوښۍ دا واخله
دَ ناجنس دَ اختلاط نه ځان لرې پټ کړه پهٔ خانقاه کښې — دَ صحبت دَ شیخ دپاره هم مدد لهٔ خانقاه واخله
پهٔ جمات کښې عبادت کړه مدرسه ځائے دے دَ علم — تربیت وي پهٔ خانقاه کښې دا دَ رب وي عطا واخله
لهٔ درې واړو مستفید شه دَ یو هم مخالف نهٔ شې — شبیّر وائي پهٔ اشعار کښې نصیحت دا زما واخله

## دَ خدائے مینه

چې دَ خدائے ده هغه مینه ده پکار — دَ دنیا مینه خو دے بس سور انګار
هره مینه چې دَ خدائے دَ میني شاخ وي — نو دَ خدائے پهٔ مینه کښې ده هغه شمار
دَ دنیا مینه دے سر دَ خطاګانو — تهٔ پهٔ دې کښې چرته نهٔ شې ګرفتار
دَ خدائے مینه به دې خدائے سره واصل کړي — دَ دنیا مینه به زړهٔ دې کړي بیمار
بیمار زړهٔ سره اعمال بیا ټول خراب شي — دا خراب اعمال به ستا کړي خراب کار
دَ الله والو صحبت دَدې علاج دے — پهٔ خبره دَ شبیّر وکړه اعتبار

## دَ عشق سفر

پهٔ ظاهره کهٔ سکون دے پهٔ ما خور — خو پهٔ زړهٔ کښې مې بلېږي دَ عشق اور
ژبه ده زما خاموشه يقيناً خو — يو لوئے غم دے چې پهٔ زړهٔ دے زما سور
شهوتونه دَ دنيا راته خرنډان دي — جنګ جاري دے اؤمنم دَ دښمن زور
دَ لاحول چاړهٔ پهٔ لاس زما راغلي — وسوسې دي دَ شيطان دَ زړهٔ پهٔ لور
قدمونه مې ونښويږي خدايه — پهٔ قيامت کښې تاته نهٔ شمه مخ تور
وخت کوتا دے فکر وکړه دَ خپل ځان ته — ګورې بوج دَ ګناه زيات نهٔ کړې تهٔ نور
دَ عشق لاره خپل محسن راته ښودلې — دَ زړهٔ باغ به پهٔ دې باندې کړم سمسور
دا دَ عشق سفر جاري دې اے شبيّره — دښمن ځکه دے دَ غم نه پروت نسکور

## دَنبي ﷺ دَ زړهٔ مبارک نور

ابادېږي چې دَ زړهٔ پرې لاړې ورانې — دا دَ نور دي نوراني لاړې ودانې
نور دَ زړهٔ نه دَ نبي پهٔ دې رارسي — پهٔ دې کار کښې پکارېږي خانقاه ګانې
سلسلو دَ رواياتو نه خبر ئې — دَ صحبت پهٔ سلسلو ولې حيران يې
دَ صحبت پهٔ برکت ځان ښهٔ خبر کړه — که تهٔ هم دَ برکتونو پهٔ ارمان يې
برکت دَ دغه نور دے سلسله کښې — زمونږ زړهٔ ته وي فائدې پرې راروانې
دَ شبيّر اشعار پهٔ هغو بس اثر کړي — چې پهٔ چا باندې خبرې دا وي ګرانې

## کېفيات

زهٔ دَ هجر پهٔ اور سوزم انتظار کښې زهٔ ترسکېږم
دا ګپ نهٔ دے، حقيقت دے، دا ده مينه ښهٔ پوهېږم

څنګه چپ شمه، خاموش شم، زړهٔ مې پړق ونهٔ چوي غم نه
ځان معلوم دے ماته دا چې پهٔ هېڅ شمار کښې نهٔ شمېرېږم

اے زړګيه څهٔ خبر ئې چې تهٔ چا باندې مئين ئې
تا سنبهال کړمه زهٔ څنګه؟ بې اختياره غوندې کېږم

سوزېدل مينه کښې؟ دا خو دے دَ مينې حق ، خبر يم
چرته سيرې نۀ کړم زۀ خپلې جامې پۀ دې ويرېږم

ساقي مابانديې څښولي دومره زيات دي اے شبيّره
پټول دَ راز مشکل شو جوړې دې کښې ناکامېږم

## ښائسته يادونه

ښنګه چې يادونه دَ زړګي مخکښې راوړل کوم
څۀ دي کښې کړمۀ هېر اؤ څۀ دَدې بيانول کوم

کړې هغه مې ياد دَ ځان سره چې زۀ ئې ياد کړمه
يادمې پۀ مجلس کړې پۀ مجلس چې ئې يادول کوم

ياد دي ماته دا چې فخر ما باندې ئې کړے ؤ
ځکه پرېږدم هر څۀ، دَ هغۀ پۀ لور ورتلل کومۀ

زۀ به مينه څۀ کوم هغه ماسره مينه کړي
زۀ کړمه ګړېږ اؤ پۀ دې شرم نۀ کول کوم

دے هغه ظاهر اؤ دَ هغۀ مينه واضحه ده
هر څۀ ئې ظاهر کړل نو اوس څۀ به ئې پټول کوم

وسولو دښمن زمونږ پۀ مينه چې خبر شولو
اوس شبيّره نور به دے دې باندې سوزول کوم

## څۀ وشو ؟

پۀ وينا وينا کښې چپ شوم چپ کيدو کښې څۀ ګويا شوم
چې مې زړۀ کښې هغه راغے لۀ خپل ځان ځنې فنا شوم

دَ جانان زما خبره دَ جانان سره کېدے شي
دا پيغام راته وصول شو، بې صبرى کښې چې خطا شوم

جانان ماته اشاره کړه چې بس ماته ګوره صرف
جانان ما ته چې کتل کړل پۀ ژړا کښې پۀ خندا شوم

جانان ښومره مهربان دے پۀ مونږ، دې نه ښوک خبر دي
چې خبر پۀ دې ادا شوم نو وربانديې بس فدا شوم

هغه وائي صبر وکړه وخت نزدې دَ ملاقات دے
زۀ لۀ شرمه شومه ويلي چې خبر پۀ دې ادا شوم

## حیا

که پهٔ سترګو کښې رڼا ستا دَ حیا شته
نو خبر شه چې پاکي پهٔ زړهٔ کښې ستا شته
بې حیا سترګې دَ چا دې مولیٰ نهٔ کړي
رکاوټ هرې بدۍ ته کله بیا شته
که حیا نه لرې ، کړه چې څهٔ کوې بیا
عربۍ کښې دې دپاره یو قول دا شته
پهٔ کور کور کښې پهٔ ژړا شریفانان دي
دَ حیا نه چې عاري ډېر مبتلا شته
ده سوره بې حیائې پهٔ کل جهان نن
چې دا لرې له ماحول کړي ، خیال دَ چا شته
کاش شبیّره اهمیت مونږ. دې ته ورکړو
ګني خدائے سره دَ دې ډېره سزا شته

## دَ نظر حفاظت

دَ نظر خپل حفاظت ډېر ضروري دے
دَ الله چې محبت ډېر ضروري دے
مخ ترې واړوه لهٔ ګند چې پهٔ نظر شي
پهٔ خپل روح کښې دا طاقت ډېر ضروري دے
غشي سم دي ستا پهٔ زړهٔ راورېدو ته
اؤ دَدې نهٔ ئې حفاظت ډېر ضروري دے
دا نظر زمونږ ، دَ زړهٔ مو دروازه ده
پهٔ دې باندې اوس محنت ډېر ضروري دے
پهٔ نفس پښه کېږده ګني نو خرابېږې
دَ خپل نفس چې تربیت ډېر ضروري دے
عافیت هم لهٔ خپل رب غواړو شبیّره
ورسره هم هدایت ډېر ضروري دے

## ذکر

ذکر داسې دے پکار چې کله کیږي
دَ هر څهٔ پهٔ لیدو هغه بس یادیږي
هره پاڼه دے دفتر دَ معرفت ئې
کهٔ دَدې پهٔ طریقه څوک هم پوهیږي
دا چشمې ، غرونه ، مارغان اؤ څناور ټول
غور پهٔ دې چې څوک کوي لار ئې سمیږي
پهٔ اسمان چې دا بې شماره ستوري کوم دي
لهٔ دې نور دَ معرفت زړهٔ ته کوزیږي
اسم کوز کړه دَ هغهٔ یو ځل زړګي تهٔ
چې پهٔ دې باندې هغه ګورې خپلیږي
لره ذکر تهٔ پهٔ ژبه اے شبیّره
زړهٔ سره ، نو بیا هر څهٔ پرې حاصلیږي

## دَ زړهٔ دنیا

عجیبه به درښکاره شي دا دنیا
کهٔ پهٔ عشق تهٔ دَ هغهٔ شوې مبتلا
دَ دنیا پهٔ فکر باندې خلق غرق دي
تهٔ دا پرېږده کوه فکر دَ عقبیٰ
پهٔ شرابو کښې لذت به وي پوهېږم
خوند دَ مینې دَ هغهٔ دے بس جدا
چې حاصله شي شاهي فقر کښې چاته
مثال نشته دے دَ دغې ارتقا
اے شبیّره دَ هغهٔ یاد کښې پرې راشم
مفید څومره دے دا ذکر دَ مولیٰ

## دَ عاشقانو اجتماع

مئین زړونه پهٔ هغهٔ، کله چې یو ځائے جمع کیږي
دَ هغهٔ پهٔ یاد مشغول شي فکرمند شي اؤ ژړیږي
بس خبرې دَ هغهٔ کړي دَ هغهٔ یاد وي پهٔ ژبو
دَ دنیا نورو خبرو ته بیا کله دوی سمیږي
زړهٔ دَ مینې دَ هغهٔ وي ډک، نظر هم پهٔ هغهٔ وي
غواړي داسې لهٔ هغهٔ نه لکه ساه چې ورنه خیژي
دَ اذکارو شورو زوګ جوړه خوشرنګه نظاره کړي
زړهٔ لهٔ جوش وهي ټوپونه پهٔ کوشش را قابو کیږي
اے شبیّره چې پهٔ داسې محفلونو کښې څوک ناست وي
دَ الله دا فیصله ده چې دوی هم نهٔ محرومیږي

## اعلیٰ ذوق

دَ دین ذوق دَ مینې ذوق ذوقِ اعلیٰ دے
څهٔ دے؟ مینې نه خالي چې زړهٔ دَ چا دے
خو معیار دَ محبت هم پېژندل دي
مبغوض وګڼه چې کوم حبِ دنیا دے
دا دنیا ده دَ څو ورځو پهٔ دې څهٔ کړې
دغه پرېږده دا مطلب دَ لا اله دے
بې غرضه مینه څوک چې مونږ سره کړي
کلمه کښې دے موجود پهٔ الا الله دے
دَ هغهٔ دَ حبیب مینه لازمي ده
چې خالي زړهٔ وي لهٔ دې هغه تباه دے
لا اله الا الله چې څوک هم وائی
هم پهٔ خوله ئې محمد رسول الله دے
غلامي ئې دَ در غواړي شبیّر هم چې
دا مضمون دَدې غزل دَ مدعا دے

## عاشق

عاشق څنګه دَ محبوب دَ قول کولے شي تاویل
دَ محبوب ځنې عاشق غوښتلے څنګه شي تسهیل
عقیدت نه یقیناً دَ عاشقۍ مقام اوچت دے
عاشق نه غواړي پهٔ قول کښې دَ محبوب څهٔ قال اؤ قیل

دَ عاشق خودا یو کار وي چې جانان ترې خپل خوشحال وي
خپل کوشش باندې دے جوړ کړي دَ وصال ځان ته سبیل

نفساني عشق عارضي دے ایماني عشق ته ځان سم کړه
ایماني عقل حاصل کړه پرې دَ زړهٔ وکړه تشکیل

دَ دنیا دَ مینې زړهٔ کړه خپل خالي چې دے قابل شي
دَ الله دَ مینې ، څښنه شبیّره بیا لهٔ سلسبیل

## کلمه طیبه

لااله الا الله دَ توحید غر دے
د الله پهٔ مینه مست مؤمن بشر دے

محمد رسول الله طریقه ښائي
دَ خدائے پاک دَ خوشحالۍ، چې پیغمبر دے

لا اله سره اعلان دَ نفي وشي
لهٔ هر یو مخلوق پهٔ کوم چې هم نظر دے

الا الله سره اثبات وشي دَدې چې
صرف یو بس دَ خدائے حکم مؤثر دے

هر مخلوق تابع دَ حکم دَ الله دے
څوک دے کوم لهٔ حکومت ئې چې بهر دے

دَ یو در دَ غلامۍ نهٔ چې انکار کړي
نو شبیّره ورته ګوره در پهٔ در دے

## دَ مینې اندېښنې

پهٔ نصیب کښې دَ عاشق ویلي کېدل وي
دَ یار مینه کښې هم دهٔ ته سوزېدل وي

دَ یار یاد کښې چینې سترګو نه بهیږي
پهٔ خولهٔ بنده ، پټ پهٔ پټه ژړېدل وي

هر سیکنډ دَ یار سره چې وي دَ هغو
بیا شکوه دَ جدایۍ څنګه کول وي

وي سکون بهر ، طوفان دننه سخت ډېر
هېڅ بې هېڅه لهٔ هرڅهٔ نه ویرېدل وي

هسې نه چې پهٔ څهٔ یار زما خفه شي
دَ محبوب دَ ناراضګۍ نه بچ کېدل وي

زړهٔ پهٔ اوښکو عاشقان وینځي چې ژاړي
دا پهٔ اوښکو کښې دَ مینې لمبېدل وي

پېژني دَ دوی مقام څوک اے شبیّره
راز چې چاته دې حالت کښې هم ساتل وي

## دَ مولیٰ مینه

ګند دے ګند دے پهٔ رښتیا دَ دنیا مینه
کامیابي ده کامیابي دَ الله مینه

پهٔ جمال کمال احسان پهٔ هر چا بر دے
زړهٔ کښې ځکه راوله دَ مولیٰ مینه

دَ هغهٔ مینه خالصه لهٔ غرضه
دَ هغهٔ مینه بې لوثه صفا مینه

تهٔ پهٔ داسې مینه ناک باندې مئین شه
پهٔ انجام کښې قیمتي چې شي ستا مینه

وګټه دَ هغهٔ مینه اے شبیّره
تاسره به وکړي ارض و سما مینه

## دَ مولیٰ مینه

دَ مولیٰ مینه  به ستا هر ځائے پکار شي | دَ دنیا   پۀ مینه باندې هر څۀ خوار شي
یو  باقي بله   فاني ده  کله   یو دي | باقي پرېږدې کۀ سر دې هم   پۀ دار شي
چې دَ نفس لۀ اصلاح څوک کله غافل شي | دَ شیطان دَ مکر خپله  به دے ښکار شي
دَ دنیا پۀ مینه مست خپل ځان تباه کړي | پۀ  نصیب  دَ  جهنم  ئې  دندوکار  شي
زړۀ دې پوه  کړه چې بس یو باندې مئېن شي | لۀ  باقي  ټولو  درونو  دې  انکار  شي
هغه  یو  درته  کافي  دے  اے  شبیره | پۀ هر څۀ کښې ، کۀ پۀ مادې اعتبار شي

## تهجد

تهجد  دَ  نوافلو  دے  سردار  نمونځ | دغه  نمونځ دَ هر ولي دَ غارې هار  نمونځ
کۀ تۀ غواړې چې مراد دَ الله جوړ شي | دې دپاره تاته دغه دے پکار  نمونځ
کۀ تۀ غواړې حاضري درته نصیب شي | کوشش وکړه صحتمند کړه خپل بیمار نمونځ
فرائض خو پۀ هر چا باندې لازم وي | اضافي ورپسې دا چې شي اختیار  نمونځ
کۀ دَ زړۀ    پۀ سترګو وینې خپل الله نو | شه نصیب دې ارزښتناک باغ و بهار  نمونځ
لۀ  جائزې  دنیا  تا  منع  کوي  نه | کله نۀ کړې دې دپاره تۀ حصار  نمونځ
دې کښے  جُهد دا دَ نفس ښکلے علاج دے | پۀ دې ذکر شي  علاج دَ  زړۀ بیمار  نمونځ
چې الله سره پۀ دې کښې ملاقي شي | دغه وخت وایه وي څومره مزیدار  نمونځ
دَشبیر(امام حسینؓ) نه تپوس وکړه چې نمونځ څۀ وي | چا چې کړے اخري    پۀ سر دَ دار  نمونځ

## یو خواهش

زما ژبه همیشه ستا دې پۀ ذکر باندې تر وے
ستا دَ در  پۀ چوکټ باندې همیشه مې  پروت خپل سر وے
خپل زړۀ ستا  پۀ مخکښې پیش  پۀ عاجزۍ کړمه اے خدایه
اؤ دَدې نور پۀ رڼا مې روښان خپل قلب و نظر وے
تۀ مې یاد شې خپل ځان هېر کړم دا ارمان مې دے اے خدایه
ستا   پۀ یاد باندې روښان مې هر ماښام اؤ هر سحر وے
پۀ شوق باندې ستا کلام زما پۀ ژبه ښۀ جاري شوے
زما زړۀ چې ستا دے خدایه دا قبول کړې ، دا ستا در وے

لمحې تولې، هر ویښتهٔ مې ،اؤ پېسه پېسه مې ستا شوے
پهٔ اخر کښې دَ نبي ښار مدینه مې مستقر وے
سترګې ژبه اؤ غوږونه حیادار وے دَ شبیّر اؤ
زړهٔ دَ نور نه زما ډک وے زما ژبه کښې اثر وے

## تهجدو کښې دعا

غواړه تهجدو کښې لهٔ خدائے دعا
ځوک سوالي لهٔ ما دے اعلان کیږي دا
تنګ چې لهٔ مرض نه بیماران وي ځوک
اؤ دَ ښهٔ کېدلو پهٔ ارمان وي ځوک
خدائے نه دې وغواړي پهٔ ژړا باندې
دې وخت ملاویږي روحاني دوا
وخت چې ځوک دَ ورکړې مقرر کړي نو
غوښته کښې پهٔ دې وخت بیا باور کړي نو
شي دا چې وئېلے شته سوالګرے ځوک؟
دا دَ غوښتې وخت دے ښهٔ زما دَ ستا
تول چې وي اودهٔ تهٔ عبادت کوې
خومره به دا کار دَ سعادت کوې
ښکلي رب وئیلي چې اوچت شه ته
جوړ تهٔ تعلق کړه دې کښې ما سره
ځان دَ جهنم نه دې کښې بچ کړه تهٔ
دې دپاره اوس توبه پهٔ سچ کړه تهٔ
حل دَ مسٔلو دې کښې شبیّره پروت
اؤ دَ میني هم ده تقاضا دغه

## سوز دَ زړهٔ

سوز دَ زړهٔ به پټومه
تعلق خپل بچ کومه
راته څهٔ چې وائی کوم به
دا خپل زړهٔ چې ورکومه
زړهٔ لهٔ غېر ځنې خالي کړم
چې ئې زړهٔ کښې راولمه
چرته زهٔ چرته دلبر مې
بس خو زهٔ ورپسې ځمه
راسره کهٔ نشته دے څهٔ
زخمي زړهٔ ورته ښایمه
زړهٔ اؤ سترګو کښې زما دے
چې پهٔ زړهٔ ئې وویشتمه
خلق وائي لېونے دے
دا اشعار چې زهٔ لیکمه
اے شبیّره دَ لیدو ئې
بهانه څهٔ جوړومه

## تواضع

دَ هغهٔ دَ عظمت مخکښې چې چا ځان وګڼهٔ کم
قدردان دے دَ هغهٔ عزت سېوا کړي پهٔ کرم
نادان سر کړلو اوچت خپل نو معتوب شولو خراب شو
اؤ پوهانو سر خپل ټيټ کړو شو دَ خېر پهٔ لاره سم
څوک چې پوه وي ځان څهٔ نهٔ ګڼي پهٔ خدائے باندې ئې يقين وي
دَ ناپوهه خلقو ياد وي هيمش خپل خدم شدم
اول مينه بيا فنا ده اؤ فنا پسې بقا ده
بيا بنده شي اؤ محبوب شي پهٔ تقویٰ شي مکرم
لا اله نعره دَ زړهٔ نه چې څوک وائی شبيّره
الا الله سره دَ خدائے شي ، خواهشات شي کالعدم

## دَ مرګ ياد اؤ ذکر

دَ مرګ ياد به دې دَ خوب نه وينوي تل
دَ خدائے ياد به دې غفلت نه بچ کوي تل
پهٔ سنتو به محبوب دَ خدائے شې تا به
پهٔ خپل فضل بيا جنت ته رسوي تل
مړ شه مخکښې نه چې مړ شې حقيقت کښې
اصلي مرګ ته به دا تا تياروي تل
مرګے راشي ناساپي څوک خبر نهٔ وي
مرګے هر څهٔ لهٔ هرچا پاتې کوي تل
هر څهٔ پاتې شي دنيا کښې دے ترې لاړ شي
خوش نصيب وي چې ځان نهٔ غافلوي تل
لهٔ غفلت وتل پهٔ ذکر وي شبيره
چې هوښيار وي نو الله ډېر يادوي تل

## دَ اميد لړۍ

چې زهٔ يم دَ هغه ښکلي نظرونو پهٔ حصار کښې
محسوسيږي راته ځان څهٔ عجيبه غوندې خمار کښې
امتحان زما منزل دے دَ منزل کړمه تا بيا زهٔ
کله يمه پهٔ صحرا کښې کله يمه پهٔ ګلزار کښې
څومره ښکلے اوس جوړ شوے دے زما ذوق دَ حيات چې
زهٔ دَ خپل محبوب پهٔ در يمه ولاړ پهٔ لوئے قطار کښې

محبت کهٔ عقیدت دے پهٔ دې باندې خبر نهٔ یم
بس مدهوش یمه پهٔ مینه کیفیتِ اضطرار کښې
دَ هغهٔ مینه زما دے اوس مرکز دَ امیدونو
کله نمونځ کښې ئې واصل شم کله وینم ئې اذکار کښې

معیت کښې دَ حبیب ئې دَ دیدار پهٔ تمنا یم
کله دا به رانصیب شي یم دَدې پهٔ انتطار کښې
جمع کړي ماشبیّره دي کوټه پیسې خو هلته
امیدوار ئې یم دَ فضل , دي هر څهٔ ئې پهٔ اختیار کښې

## دَ شکر مقام

هر طرف ته نن فتنې دي مشکلات دي اندیښنې دي
مشکلات ګوري پهٔ دین کښې خو دا ټولې بهانې دي
عیاشي دَ ذهن شته دے خو پهٔ زړهٔ کښې ویرانې دي
شکر مونږ چې چا سره یو اهل حق دَ زمانې دي
سلسله باندې شبیّره خدائے دَ فضل نښانې دي

## دَ مایوسۍ فضا

دَ مایوسیو یو فضا راغلې دَ حق خلاف یوه غوغا راغلې
بچ نن ډیوه کړه دَ ایمان لهٔ هغې چې مړه کولو ته ئې هوا راغلې
زمونږ اسره صرف یو خدائے دے صرف کهٔ مو مدد ته وي دنیا راغلې
مونږ کهٔ اوس هم صرف دَ خدائے جوړ شو نو خوشحالي به مو وي بیا راغلې
مونږ به پهٔ لاره باندې بیا سم شو ګني ده اوس خو مو قضا راغلې
شبیّره مهٔ کړه پهٔ اسباب کښې سستي نوربیا حکمونه دَ دعا راغلې

## دَ مستۍ دنیا

دَ هغهٔ پهٔ مینه مست شوم فنا شوم هغهٔ دپاره ښنکه غواړي چې لهٔ ما ځان جوړوم هغهٔ دپاره
نرم زړهٔ لکه دَ موم شوم، شوم دَ موم پهٔ رنګه ویلې ښنکه غواړي چې لهٔ ما ځان سوزوم هغهٔ دپاره

عشق خواوردے،لګېدونه پس دا کله مړکېدے شي زهٔ پهٔ دغه اور کښې ځان خپل اچوم هغهٔ دپاره
دَ هغهٔ پهٔ ما نظر شو نو څهٔ داسې مؤثر شو نور شوم نور پهٔ دغه نور ځان پړقوم هغهٔ دپاره
دَ وفا دا تقاضا ده پهٔ رضا ئې زهٔ راضي شم چې کوم کار کښې ئې وي رضا هغه کوم هغهٔ دپاره
سترګې دواړه مې دیدن پسې ئې ژاړي نن پهٔ وینو څهٔ کوے شم بس دا اوښکې تویوم هغهٔ دپاره
نظر نهٔ دے جام دَ میني دَ شرابو دے شبیّره چا رامخکښې کړو چې جام ئې ډکوم هغهٔ دپاره

## خانقاه ګانې اؤ مدرسې

که ټیک نه ښکاري دا ټولې خانقاه ګانې نن صبا ولې ټولو مدرسو کښې اهل حق دي ؟وایه بیا
چې کوټه سکې چلیږي دے ثبوت چې کره هم شته نو کره خلق هم شته دے خو تلاش ئې لږ کوه
کهٔ دَ علم ضرورت دے مدرسې هم ضروري دي تربیت چې ضروري دے ولې نهٔ منې خانقاه
نو دَدې پاره هم پکار ترتیب دے چې څهٔ جوړشي کاملان جوړیدو څنګه مشران زما اؤ ستا
مدرسې دَ شریعت علم دپاره کهٔ پکار دي تربیت دپاره هم خو ده پکار تربیت ګاه
دغه لاره چې زمونږ دَ مشرانو ده شبیّره سیده دې باندې ورځه تهٔ دغه لار نهٔ کړې خطا

## زُهد

کپړه غټه اغوستل څهٔ زُهد نه دے روټۍ کمه هم خوړل څهٔ زُهد نهٔ دے
دَ دنیا دَ محبت کمے دے زُهد خو دَدې نه تختېدل څهٔ زُهد نهٔ دے
عافیت غواړه لهٔ خدائے ، ځان هېڅ بې هېڅه مصیبت کښې راوستل څهٔ زُهد نهٔ دے
دَ دنیا دَ محبت نهٔ زړهٔ خالي کړه پهٔ دنیا کښې وسېدل خو زُهد نهٔ دے
ټول حقونه دَ مخلوق پوره کول دي ځان لهٔ دې ناخبرول خو زُهد نهٔ دے
آخرت ته تیارے صرف دے دلته دې دنیا نه تختېدل خو زُهد نه دے
خوره اؤ څښه چې ضروري کوم خوړل څښل دي ځان پهٔ زور څهٔ مړ کول خو زُهد نهٔ دے
عارضي مجاهده وي پهٔ خانقاه کښې همیشه بیا دا کول خو زُهد نهٔ دے
اے شبیّره شریعت باندې بس تلل دي مصیبت خدائے نه غوښتل خو زُهد نهٔ دے

## دَ میني شراب

زما کلام عارفانه وګورئ دَدې انداز عاشقانه وګورئ
دغه شراب دَ میني وڅښئ تاسو بیا مو دا زړهٔ خپل نښانه وګورئ

مینه سوچه چې دَ الله نصیب شي
هر څهٔ ملاؤ شي زمانه وګورئ

لږدې کلام کښې مخکښې خوږ خولا ړشئ
دَ معرفت به خزانه وګورئ

مے دَ دنیا به درته ګند ښکاره شي
کهٔ دَ شبیّر دا مېخانه وګورئ

## دَ الله د پاره کار

دَ الله دپاره کار خو اصل کار دے
دَ دنیا دپاره کار خو یو بیګار دے

دَ دنیا کار کهٔ دَ خدائے دپاره څوک کړي
کهٔ جائز وي نو دَ خدائے پهٔ کار کښې شمار دے

ناجائز کار دَ دنیا لوئے مصیبت دے
بې توبې بیا داسې کس اخر کښې خوار دے

کهٔ جائز کار دَ دنیا وشي بې نیته
محرومي ده چې دَ نیت هم اعتبار دے

کاش دَ یو یو لمحې قدر مونږه وکړو
ګني ډېره پښېماني دَ غاړې هار دے

خلق رو رو اوچتېږي دَ دنیا نه
چاته پته ده شبیّره دَ چا وار دے

## خپل ځان پېژندل

چې پهٔ ځان مونږ ظلم وکړو نو زمونږ نه خفه کیږي
پهٔ غوښتو دَ معافۍ بیا ډېر زمونږ نه خوشحا لیږي

پهٔ دې دواړو طریقو مو بچ کوي لهٔ هر نقصان نه
کهٔ مو ځان ته نزدو کئ یا مونږ دپاره خفه کیږي

لا پیدا نهٔ وو زمونږ ضرورتونه ورته یاد وو
اوس هم مونږ ته هر یو شے پهٔ خپل خپل وخت ښهٔ رارسیږي

لږ تکلیف کهٔ راته را کړي چې پهٔ دې ترقي وکړو
چې کوم خلق وي ناپوه پهٔ دې هم ئې مخ ورانیږي

دغه شان پهٔ نعمتونو، چې ئې مونږ ته دي را کړي
کهٔ لږ شکر پهٔ دې وکړو نو پهٔ دې دا نور زیاتیږي

لږ دَ زړهٔ پهٔ سترګو وګوره ربا چې دَ قران ده
زړهٔ پهٔ غوږو باندې واوره تاته څهٔ اورولے کیږي

چې پهٔ ټولو کښې عظیم ؤ پیغمبر ئې راته را کړو
دَ هغهٔ پهٔ طریقه خلق دَ خدائے دوستان جوړیږي

کاش چې پوه شي اے شبیّره ورنه څومره رب خوشحال وي
دَ هغهٔ پهٔ یاد کښې اوښکې چې دَ چا پهٔ مخ بهیږي

## ټنګېدلے کټورے

چې خالي وي کټورے کوي ټنګا
چې وي ډک پهٔ ټنګېدو کوي ټکا

کوي شور چې پهٔ ظاهر باندې څوک مست دي
دَ ظاهر باطن جامع نه کوي دا

باطن اصل دے ظاهر ئې دے پوستکے
دے دَ دواړو ضرورت جدا جدا

چې باطن دَ چا ښائسته وي نو ظاهر ئې
پټول کۀ کوې هم کوي رڼا

دَ باطن اصل دے پروت للٰهیت کښې
اؤ ظاهر ددې هم دغه شرعه ده

ظاهر ښۀ پۀ علم باندې شي شبیّره
اؤ باطن پۀ تربیت شي ښائسته

## وخت لا شته دے

څۀ چې غواړې هغه وکړه وخت لا شته دے
عاقبت دې ځان ته ښۀ کړه وخت لا شته دے

چې وخت تېرشي خلق لاس ورپسې مروړي
پۀ کوو کښې سستي مۀ کړه وخت لا شته دے

که دَ نفس خدمت دې کړے دے تر اوسه
خیر دے ځان اوس دَ هغۀ کړه وخت لا شته دے

روح دې تنګ دے دَ خوراک خپل پۀ تلاش کښې
اوس لږ رحم پۀ دۀ وکړه وخت لاشته دے

ذکر فکر نه کار واخلۀ چې هوښیار شې
ښۀ پۀ دې باندې دې زړۀ کړه وخت لا شته دے

اے شبیّره ضرورت پوره کوه خپل
خواهشات دې لږ اودۀ کړه وخت لا شته دے

## څنګه؟

خبره چې رښتیا وي اؤ پخه ئې کول څنګه دي
کمزوري ته محتاج وته خپل ځان خلاصول څنګه دي

چې ظلم پۀ خپل ځان وکړو خفه پۀ دې لۀ مونږ چې شي
نتواتې دَ احساس نه پس هغۀ ته راتلل څنګه دي

هیڅ نۀ غواړي لۀ مونږه صرف مونږ ته راکول غواړي
نو بیا دَ هغۀ مخکښې دا خپل سر ټیټول څنګه دي

راتلونکو تکلیفونو نه چې مونږه بچ کول غواړي
نو بیا پۀ زړا باندې دا خپل ځان بچ کول څنګه دي

دښمن زمونږ دَ ټولو لۀ هغۀ جدا کول کړي مونږ
پۀ ټېښته دَ هغۀ پۀ رخ راتلل بیا پۀ زغل څنګه دي

څو اوښکې چې پۀ مخ زمونږه راشي هغه هم مني
پۀ در بیا دَ هغۀ پۀ مخه بیا ژړېدل څنګه دي

چې ځان ورته وروغورزو هغه مونږه اوچت کړي بیا
بیا داسې دَ هغۀ مخکښې خپل ځان غورزول څنګه دي

دښمن کله مونږ نۀ پرېږدي نفس هم دے انکاري لۀ دې
دَ داسې نفس شبیّره تربیت بیا کول څنګه دي

## دَ مفهومونو ټیک کول

پوه کړه ځان پۀ مفاهیم
دغه کار کار دے عظیم

څه کول دي اؤ څۀ نۀ
دي دپاره دے تعلیم

هله دا لۀ ستا کېدے شي | چې ستا زړۀ کړي دا تسليم
دَ تقوىٰ نور چې وي زړۀ کښې | وي هغه قلبِ سليم
اؤ نفس هم منل لږ زده کړي | نو بيا ټيک شي هر يو سکيم
تلل جنت ته دي پۀ فضل | اے شبيّره دَ کريم

## دَ مقصود تعين

کوم پېغام چې دَ شعرونو دَ اقبال دے | دے تسخير پکښې دَ زړونو ، باکمال دے
لۀ رومي مو واخستلو چې ئې استاد دے | کوم تطبيق چې ئې مشکل دَ قال اؤ حال دے
"پۀ خودئ کښې دَ اقبال بې خودي پټه | دَ رومي ده ، دغه فکر بې مثال دے
دَ مفهوم صحيح کېدل ډېر ضروري دي | ګڼي بيا خو دَ هر چا خپل خپل خيال دے
که خودي مونږ کړو جدا لۀ بې خودئ نه | پۀ الټه سمت کښې تلل دي الټه چال دے
چې فنا شي نو بقا مومي شبيّره | حقيقت دے باقي هسې قيل و قال دے

## دَ تصنع نه بچ کېدل

کۀ زۀ وائم ستا عاشق يم دا وئيل کله صحيح دي | ستا وئيل زما عاشق ئې ، وئيل دغه خو اصلي دي
وايم زۀ چې ستا بنده يم دا وئيل کله ثابت دي | څۀ وييلے شم تر کومې چې ساګانې مې جاري دي
دا وئيل مې ملاوېږم تاسره مراقبه کښې | داالفاظ صرف الفاظ دي تش الفاظ کله کافي دي
کۀ تۀ غواړې چې مې ياد شې يادول ستا بيا اسان دي | فېصلې چې کومې ستا دي پۀ هر څۀ باندې حاوي دي
کۀ زۀ وايم بسترې نه پاسم زۀ دَ ستا دپاره | احسان ستا دے دا زما خو بس کارونه ظاهري دي
تۀ ريښتينے ئې ريښتيني مې احوال کړې پاکه ربه | تصنع نه ما کړې بچ زما کارونه مصنوعي دي
ډېر جالونه دَ نفس سخت دي اے شبيّره دا حکمت دے | نوره کلکه کړه خبره دا الفاظ دې سرسري دي

## منصوبه

وخت ، ځان ، مال صلاحيتونه | مونږ کوو پۀ دو کارونه
استعمال ئې ښۀ پکار دے | دَ سزا ئې چې بچ شونه
پۀ دې باندې نيکئ کيږي | هم بې شماره ګناهونه
چې زړۀ سم شي اؤ نفس هم ټيک | بيا ګټه پۀ دو اجرونه
کۀ تۀ زړۀ بچ کول غواړې | حفاظت کښې کړه نظرونه
اؤ پۀ غوږو باندې مۀ اوره | چې غلط دي اوازونه
دَ شيطان حواله نۀ کړې | چې دي زړۀ کښې دې خيالونه
ذهن صاف ساته لۀ ګند نه | خطرناک دي دا ګندونه

همیشه خپل ځان ساته ترې
چې خراب دي صحبتونه
رهنما خپل منتخب کړه
چې دې ښهٔ شي عملونه
اخرت ته استعمال کړه
دَ دنیا دا سامانونه
اطمینان به دې نصیب شي
هم جنت کښې راحتونه
نفس و قلب دپاره وایه
دَ شبیّر دغه شعرونه

## اسباب اؤ مسبب الاسباب

حکم دادے چې اسباب کړو مونږ اختیار
نتیجه حکم ګڼو دَ کردګار
پهٔ مسبب الاسباب مو بهروسه وي
کړو دعا چې الله وکړي زمونږ کار
لهٔ اسبابو مستغني ځان نهٔ ګڼل دي
بزرګانو کښې چرې ځان نهٔ کړې شمار
هر سبب دَ الله حکم دے کچکول دے
دې کښې خېر غواړه همیش لهٔ رب غفار
دغه شان دَ شریعت دغه حکمونه
دي اسباب پرې دَ نیکۍ دے انحصار
ګناهونو نه هم بچ کړه ځان شبیّره
اسباب دا هم دي دَ هغه ځائے دَ نار

## پخې خبرې

دَ دین پوهه ده موقوف پهٔ بصیرت
دې نه مخکښې بیا دَ نفس پهٔ تربیت
کهٔ دَ دین پوهه څوک نهٔ لري نو بیا دي
بچ کېدل دَ صالحینو پهٔ صحبت
دا زیات ښهٔ دے دَ خلوت نه پهٔ اثر کښې
عام حالت کښې بچ کېدل دي پهٔ خلوت
دَ صالح صحبت نچوړ صحبتِ شیخ دے
پکارېږي دې کښې بیا صلاحیت
دا بمبه ده چې دې بیرته کړلهٔ څومره
یعني نفع ده دَ شیخ پهٔ محبت
محبت دَ شیخ سره صلاحیت هم
چې وي بیا ټول انحصار وي پهٔ همت
مستوي دَ درې نقطو وي ښه مضبوطه
فیصله ده دَ الله پهٔ مشیت
ستا اسباب جمع کول دي دا کړه جمع
نتیجې ته دے پکار قبولیت
بیا پهٔ در دَ مسبب باندې ځان جه کړه
ځان پرېږده ګوره دَ زړهٔ چې دے حالت
دَ دعا دَ قبلېدو اسباب کړه جمع
یعني زړهٔ کښې وي پکار ښهٔ کیفیت
ځان هېڅ مه ګڼه نظر ئې پهٔ کرم کړه
چې هغه غواړي لهٔ مونږ مسکینیت
ښهٔ امید ترېنه لره چې کامیاب شې
دې دپاره دے پکار استقامت

شبیرؔ ډېر لري امید ټولو دپاره | چې عمل کوي پهٔ دغه نصیحت

## دنیا

تماشې ما دَ دنیا دي عجیبه غوندې لیدلي | لهٔ هغهٔ نه تښتي بیرته ورپسې چې ځوک ورزغلي
پهٔ څهٔ مینه دروازې بندې کړې ټولې چې جانان مې | بس یوه ئې لرې پرېښوه دَ خپل ځان دَ مینې ښکلي
دَ عاشق سترګې ړندې وي دَ هر غېر لهٔ کتو ځکه | چې هغهٔ دَ خپل جانان جلوې پهٔ زړهٔ کښې وي موندلي
چې غورزیږو کله مونږه نو هغه مو راوچت کړي | اوچت کړي مونږ هغهٔ یو چې یو کله غورزیدلي
ښهٔ خبریم چې موندل دَ هغهٔ صرف دي مطلوب خو | چې موندلے ئې هغه وي هغه نهٔ دي زېږېدلي
ما مخلوق لهٔ هر طرف نه دے کتلے اے شبیرؔه | دَ خدائے مخکښې مخلوقات مې دي لیدلي غلي

## چې دَ زړهٔ نه کله ووځي دنیا

چې دَ زړهٔ نه کله ووځي دنیا | دَ خدائے لاره پهٔ نظر راشي صفا
دَ ګناه پېټے لهٔ سره شي اړتاؤ بیا | چې پهٔ سچه باندې وکړي ځوک توبه
زړهٔ پهٔ ذکر دَ الله باندې روښان شي | اؤ دَ نفس دے ښهٔ علاج مجاهده
هغه ورکړې ته تیار دے صرفه نهٔ کړي | تهٔ سائل خو شه پهٔ در دَ پاک الله
زړهٔ دې جوړ کړه خپل شبیرؔه نو بیا خبر دے | درته زړهٔ چې وائی څهٔ هغه کوه

## دَ دنیا مینه تباهي

تباهي ده دغه مینه دَ دنیا | غوارم خدائے نه محبت دَ پاک الله
اؤ دَ هغو چې مئین پهٔ پاک الله دي | چې هغه دي انبیاء اؤ اولیاء
ذریعو سره دَ مینې محبت کړم | دَ جمات مینه اؤ مینه دَ درسګاه
اؤ صحبت دَ مشائخو شه نصیب مې | مینه شي زما نصیب دَ خانقاه
دَ مال جاه اؤ دَ لذاتو مینه پرېږدم | دَ دنیا مینه ده جرړه دَ خطا
طریقه دَ جذب خپله کړه شبیرؔه | دا اسانه طریقه ده دَ اصلاح

## جنجال

دنیا جال دے اؤ پهٔ جال کښې لوئے جنجال وي | پهٔ جنجال کښې خلق څنګه به خوشحال وي
دې جنجال کښې چې دَ هغه ځائے ځوک سوچ وکړي | نو دَ مرګ پهٔ وخت دَدهٔ به استقبال وي

مسقبل اؤ ماضي مۀ ژاړه دا واوره | دَ بنده پۀ لاس کښې صرف دَدۀ حال وي
چې پۀ قال باندې حال چاته نصيب نۀ وي | خالي لاس وي ورسره بس قيل و قال وي
سليم زړۀ به پکاريږي پۀ محشر کښې | نۀ ځامن به ئې پکار اؤ نۀ به ئې مال وي
عقيده صحيح عمل ښۀ او احسان هم | کۀ حاصل شي علامې دا دَ کمال وي
خلق دې دپاره شيخ نيسي شبيّره | چې پۀ دغې دَ نسبت بيا انتقال وي

## نفس اماره اؤ زړۀ

زړۀ لۀ نفسِ اماره چې اثر واخلي | عقل دې کښې بيا حصه برابر واخلي
دَ شيطان دَ وسوسو بيا غلامان شو | زړۀ خبر پريږدي لۀ هر څۀ نه دے شر واخلي
کۀ دَ نفس دَ تزکئې سامان ونکړو | نو شيطان دَدې بيا بل شان خبر واخلي
پۀ دې نفس کښې خواهشات زمونږه پټ دي | دا شيطان زمونږ هغه پۀ نظر واخلي
وسوسې واچوي زړۀ کښې پۀ دې شان چې | مونږ نۀ غواړو زړۀ اثر ترې مکر واخلي
زړۀ پۀ ذکر منور کړه اے شبيّره | هدايت لۀ هر څۀ زړۀ منور واخلي

## دَ دنيا دار دوستي

چې دنيا سره دوستي کړي هغه دوست کله جوړ نۀ کړې
مطلبي دے، دَ مطلب چې وي څوک يار پۀ هغۀ څۀ کړې
بې غرضه چې دوستي کړي هر مؤمن سره، تۀ ئې دوست شه
دَ هغۀ هر دوست ستا دوست دے کۀ مالک الله دَ زړۀ کړې
دَ دنيا مينه خو ګند دے ، پۀ دې ګند ځان اخته نه کړې
خطاګانې دي لۀ دې برسېره سوچ کۀ پرې تۀ وکړې
پۀ الله چې څوک مئين وي نو هغه ستا دوست کېدے شي
نو دَ داسې دوست سره وايه دوستي تۀ ولې نۀ کړې
پۀ دنيا چې څوک مئين وي ستا دنيا ته به هم غل وي
پۀ دۀ باندې غلط نۀ شې کۀ دَ ځان سره تۀ ښۀ کړې
الله دوست دَ متقيانو مؤمنانو دے شبيّره
پۀ ايمان اؤ پۀ تقوىٰ باندې به ځان تۀ دَ هغۀ کړې

## دنيا څۀ ته وائې

چې الله نه تا غافل کړي | تا پۀ لاره دَ باطل کړي
دا دنيا ده دغه پرېږده | پۀ تا قهر به نازل کړي

ځان فدا تهٔ پهٔ الله کړه — تا به ځان سره واصل کړي
غافلانو پسې مهٔ ځه — تا به ځان سره شامل کړي
دَ دنیا مینه غفلت دے — تا پهٔ پوهه به جاهل کړي
اے شبیّره عقل پرېږدي — چې ځان دې پسې مائل کړي

## دَ میني اور

تهٔ دَ میني پهٔ اور ولې نهٔ سوزېږې — کهٔ پهٔ دغه اور لهٔ بل اور نه خلاصېږې
خواهشاتو کښې دَ نفس ته گرفتار ئې — وایه کله به علاج ته ئې سمېږې
دَ الله مینه دَ دغې اور علاج دے — تهٔ تر کومې به لهٔ دې علاج پټېږې
دلته وژاړه ژړا دلته کښې ښه ده — گني هلته به بیا بل شانې ژړېږې
دَ جانان دَ میني اور دَ زړهٔ راحت دے — ور لاهو شه ته پهٔ دې ولې ویرېږې
ویره دا بس ده پکار چې هسې نه چې — شي ناراض مې یار پهٔ دې تهٔ نهٔ پوهېږې
اخرت ته مستغني دَ ځان نه جوړ کړې — پهٔ دنیا باندې بیا ولې نهٔ مړېږې
بې وفا دنیا پسې پهٔ منډو سر ئې — کهٔ وي داسې نو به دغه شان کړېږې
سکون صرف دَ هغهٔ جولۍ کښې پروت دے — تهٔ پهٔ ذکر به شبیّره وررسېږې

## دَ دنیا محبت

دَ دنیا مینه نقصان دے پکښې نشته دے وفا — دا خو ځائے دَ امتحان دے زړهٔ کښې مهٔ راوله دا
دَ الله پهٔ مینه مست شه هغه قدر کړي دَ میني — بې غرضه محبت تاسره کړے دے بل چا
داچې میني دَ دنیا دي دغه ټولې کالعدم شي — دَ هغهٔ پهٔ مینه باندې کهٔ دې زړهٔ کړو مبتلا
کهٔ دې غم دَ هغهٔ خپل کړو نور غمونه به شي ختم — گني هسې نهٔ ختمیږي دا غمونه دَ دنیا
دَ هغهٔ پهٔ چوکټ باندې دغه سر ولې کښېنږدم — دې دنیا ته دَراتلو بیا څهٔ مقصد گرځي زما
چې هغه لهٔ مونږ راضي شي دا مقصد مو دَراتلو دے — دَ دنیا دپاره ولې دا مقصد پرېږدو مونږ بیا
پهٔ هغهٔ باندې چې پرېوت مې نظر نو شولو پاک بیا — بس دَدې نظر دپاره دَ زړهٔ سترگې کړه بینا
دَ هغهٔ نوم زهٔ پهٔ ژبه هر وخت ولې جاري نهٔ کړم — دَ هغهٔ دَ کرمونو چرته شته دے انتها؟
ما دَ زړهٔ پهٔ سترگو هر وختې کتے ورته شبیّره — پرې قربان مې کړے دا سر خپل، شم وربانديې زهٔ فدا

## مړ احساس

چې پهٔ مینې دَ دنیا کښې چا ژوند تېر کړو | هغهٔ خپله بلا ګانو کښې ځان ګېر کړو
یو بلا ده چې پهٔ خلقو کښې اوچت شم | یعنې خلقو کښې ئې خپله ځان غټ شمېر کړو
بله دا چې څوک پهٔ مال پسې مړ کیږي | چا پهٔ دې باندې خپل مال لهٔ قسمت ډېر کړو؟
بله دا چې پهٔ لذاتو کښې ځان غرق کړي | دَ نفس جال کښې ئې ځان خپله تېر و بېر کړو
لکه مړے دے پهٔ مړ احساس شبیّره | دَ دنیا پهٔ یاد کښې چا چې خپل رب هېر کړو

## ذریعه اؤ مقصد

صراطِ مستقیم باندې هر وختې مونږ ته تلل دي | دَدې دپاره مونږ ته ښهٔ الله کول دي
پهٔ قېد دَ شریعت دي زمونږ بند دواړه غوږونه | جائز چې نهٔ دي څهٔ بالکل هغه نهٔ اورېدل دي
ټکړه دَ غوښې خولهٔ کښې زمونږ بنده ده پرته چې | پهٔ دې باندې خبره ناجائزه نهٔ کول دي
دې سر کښې چې دماغ دے پهٔ کنټرول باندې مامور کوم | نهٔ شي ناجائز کار کښې استعمال دا خیال ساتل دي
دا زړهٔ چې امانت زما دَ رب دے اے شبیّره | دَ چا چې دے هغهٔ ته دا هر حال کښې رسول دي

## دَ نفس اصلاح

پهٔ قسم باندې قران کښې کړي خبره پاک الله | چې الهام ئې کړلو نفس ته ټول فجور اؤ هم تقویٰ
بیا پهٔ شد و مد اعلان ئې ورسره دا هم دے کړے | کامیاب بس هغه کس دے چې دَ نفس وکړي اصلاح
بدنصیب دے چې څوک پاتې شي دَ نفس اصلاح و نهٔ کړي | نو خائب دے اؤ خاسر پهٔ دواړو کونو کښې تباه
دې تشدید نه شوه ثابته چې دَ نفس اصلاح ده فرض | ټول کارونه به خراب وي دَ هر یو، کهٔ نهٔ وي دا
شیطان هم دے دهوکه شوې دَ دې نفس پهٔ مکر باندې | انا خیر منه باندې دا پاګل شولو ګویا
یو طرف دَ خدائے دے حکم چې سجده وکړه آدم ته | بل طرف دَ علتونو کج بحثې شور اؤ غوغا
زړهٔ ډرائیور دے اؤ نفس ګاډے دغه دواړه ټیک کول دي | دَ زړهٔ ذکر اؤ دَ نفس علاج صحیح مجاهده
کهٔ پهٔ خپله خوښه تهٔ مجاهده هم څهٔ تجویز کړې | کله دا مجاهده ده؟ چې دَ نفس خوښه ده دا
چې کوم شېخ در ته تجویز کړي اؤ ستا نفس پرې خوشحال نهٔ وي | بس پهٔ دې کښې ترقي ده پهٔ همت ئې خپلوه
دا دَ قال نه حال ته څنګه رسېدل زمونږ نصیب شي | ځان پامال کړه دَ شېخ مخکښې ستا دپاره ده دوا
دا اخلاص دې کښې شبیّره کله خوښ چې دَ الله شي | نو بې شکه ملاوېږي بیا پهٔ دې باندې فلاح

## نه

نفس دے دَ ماشوم پهٔ شان پوهېږي نه | څکه دَ ورانۍ نه دے صبرېږي نه

لړ کۀ تربیت دَدۀ نصیب شولو بیا به لۀ ښۀ کار نه وروستو کېږي نه
زړۀ کۀ دَ چا جوړ شو هر څه جوړ شولو وران کۀ شو نو وران شو بیا سمېږي نه
میني دَ دنیا سره خیرن شي زړۀ بې لۀ ذکره دا بیا صفا کېږي نه
ټیک ده چې قران کښې هدایت دے پروت زړۀ چې نۀ وي سم نو حاصلېږي نه
مینه دَ دنیا زمکه زن مال نۀ دے میني ته دَخدائے کۀ دا ودرېږي نه
نمونځ به دې دنیا شي کۀ دَخدائے نۀ وي بیا هغه لوئے در کښې دا قبلېږي نه
اے شبیّره زړۀ دې دَ خدائے جوړ کړه زر دے مئین پۀ خدائے نور حصارېږي نه

## نفس

نفس دے دَ ماشوم پۀ شان نادان ګله ځکه شي پۀ ضد کښې نافرمان ګله
لړ کۀ تربیت دَدۀ نصیب شي نو بیا وي دَ خېر کار کښې پهلوان ګله
دے پۀ شریعت تۀ مطمئن کړه چې شي چې شریعت باندې روان ګله
زړۀ دې کړه پۀ ذکر منور تۀ خپل هر نیک کار به تاته شي اسان ګله
زړۀ دې دَ الله کړه نفس پابند دَدۀ ښۀ کار کول بیا هېڅ نۀ دي ګران ګله
سترې دَ دنیا پرېږده شبیّره اوس جوړ دَ آخرت کړه څۀ سامان ګله

## مطلوبه حال

نفس چې کله شي منلو ته تیار اؤ زړۀ هم پۀ ذکر باندې شي بیدار
روح خوشحال ، نفس مطمئن اؤ قلب سلیم وي کله کړي بیا دَ خېر کار نه دوی انکار
چې دَ نفس تزکیه وشي کامیابي ده اؤ پۀ زړۀ دَ هدایت دے انحصار
زړۀ بادشاه دے رعیت ئې ټول اعضاء دي چې دا جوړ شي دَ نیکیو شي بهار
تربیت دَ نفس پکار دے هر صورت کښې ګني دے به جوړ شي شتر بے مهار
خانقاه ګانې ډېرې کمې شوې شبیّره ضروري دے دَدې فکر ډېر پکار

## دَ زړۀ اصلاح

کۀ دَ زړۀ دنیا دَ چا شوله بدله دَ جنت لاره پۀ خپله شي حاصله
زړۀ بادشاه دے نور اعضاء ئې نوکران دي سلطنت صحیح چلېږي بیا پخپله
ټول کارونه بیا پۀ شرع باندې درست شي شي اسانه دَ عمل لاره مشکله
غېر محرم طرف ته سترګې بیا نۀ ګوري غوږ چې منع وي هغه به اوري څۀ لۀ

## دَ زړهٔ اؤ نفس مقابله

زړهٔ چې ښهٔ ، نفس زورور وي
هر خواهش ئې لکه ښکر وي
زړهٔ زړا اؤ انګولا کړي
نفس ګناه باندې مصر وي
امتحان دے لوئے ښشانه
نو علاج دې دَدې زر وي
لهٔ بدۍ نه ويرېږه
کهٔ نېکۍ دې سمندر وي
پهٔ مثال ده دَ بخري
بعضې وخت ئې نقصان ستر وي
اے شبیّره دے علاج ئې
نېک صحبت کهٔ ميسر وي

## دَ زړهٔ ټيک کول

وتي لارې مختلفې دي لهٔ زړهٔ نه
دا غوبرونه ، سترګې ژبه دي لهٔ دهٔ نه
کهٔ زړهٔ ټيک شو کړي دا ټول به ټيک کارونه
نو دَدهٔ پهٔ تربيت وکړه پالنه
کهٔ کامل شېخ کله تاته ميسر وي
ورسره شه نور ويرېږې بيا لهٔ څهٔ نه
چې بغير دَ نېک صحبت نه دې دنيا کښې
کهٔ وګورې دّ خبر لاره ده ازغنه
ګل ازغي ته کله چا دے پرېښودلے
اؤ دَ چا نهٔ ده پکار دَ مېوې ونه
اے شبیّره صفائی دَ زړهٔ پکار ده
بيا دَ دغې پاکۍ ده پکار ساتنه

## زړهٔ اؤ عقل

زړهٔ زما نهٔ دے لهٔ عقل نه بېزار
غير مشروط هم دَدهٔ نهٔ دے تابعدار
خالص جذب دَ الله پاک لوئے نعمت دے
دَدهٔ نشته پهٔ نفس باندې انحصار
فرق څه کښې پهٔ عشق اؤ پهٔ هوس کښې
عشق دے اور هوس دَ نفس دے دندوکار
زړهٔ پهٔ ذکر دَ خپل يار سره ژوندے کړه
تر څو تهٔ به ګرځوې زړګے بيمار
هيڅ صورت کښې لهٔ خپل نفس نه غافل نهٔ شې
دَ تقوئ جامې به کړي درته تار تار
زړهٔ غافل نهٔ کړې چرې ذکر دَ يار نه
يه مشغول پهٔ تصور باندې دَ يار
چې پهٔ ياد کښې ئې اصلاح مې دَ زړګي ده
ګني نشته دے پهٔ دې دَ چا اختيار
دا الهام رباني ګڼه شبیّره
ځان کړه پوه چې نهٔ دي دا فقط اشعار

## عقل اؤ جذبات

دا جذبې خو یو طاقت دے لهٔ طاقت کار اخستے شي
جذبې ښې دي کهٔ ښې نهٔ دي عقل دغه څیز کتے شي
ازاد عقل کهٔ لهٔ دې وي اؤ بیا هم دے ورسره وي
کهٔ پهٔ شرع وي جائز هم نو بیا مخکښې پکښې تلے شي
زړهٔ کهٔ جوړ وي اؤ دا عقل کهٔ دَ دې جوړ زړهٔ تابع وي
دا جذبات اوچت جذبات دي پهٔ دې کار بیا سمېدے شي
فاني حسن بس جذبات دي حقیقت دَدې څهٔ نشته
چې پهٔ دې پسې روان وي لهٔ خپل ځایه رغړېدے شي
فاني حسن امتحان دے کهٔ لهٔ عقل نه کار واخلې
څهٔ به عقل وي هغه چې شریعت ته ودرېدے شي
چې ایمان دَ چا مضبوط وي عقل داسې استعمال کړي
چې لهٔ شرعې ځان خبر کړي هومره څومره چې کېدے شي
بیا پهٔ عقل خپل جذبات ګوري چې کوم وي مناسب نو
پهٔ هغو جذباتو باندې کار کوي چې کوم کوے شي
لهٔ ایمان چې کوم ثابت وي هغه عشق ډېر لوئے طاقت دے
نفساني عقل بیا کله دَدې عشق مخکښې راتلے شي
نفس قابو کړه اؤ خپل زړهٔ الله ته ورکړه چې باقي شي
دنیا وباسه دَدهٔ نه دَ الله چې صرف دے شي
قدردان دے اؤ علیم دے هم قادر دے اے شبیّره
فکر مهٔ کړه پهٔ هغهٔ باندې هر څیز چې پرېښودے شي

## دَ زړهٔ دوه لارې

دې زړګي کښې دَ الهام الٰهي انتظام هم شته
دَ شیطان دَ وسوسو اؤ خیالاتو تېزګام هم شته
خپل زړهٔ پیش کړه ته خپل شېخ ته چې دې باندې ئې نظر شي
چې پهٔ ذکر دَدې هر څهٔ دَ ټیک کولو نظام هم شته
الله زړهٔ کښې وي اؤ سترګې پهٔ دې زړهٔ باندې وي ښخې
چې دَ زړهٔ پهٔ سترګو وینې الله داسې مقام هم شته
شیطان خپله ګمراه شوے پس لهٔ ډېر زیات عبادت نه
عبادت باندې ناز ونهٔ کړې چې داسې انجام هم شته
دَ دنیا مینه چې زړهٔ کښې راشي هر څهٔ دا خراب کړي
زړهٔ نه دا چې رابهر کړې دَ مستۍ داسې جام هم شته

زړهٔ دراییُور اؤ نفس دے ګاډے دغه دواړه ټیک کول دي
چې څوک غواړي دا شبیّره نو دَ دې اهتمام هم شته

## چشتیه نسبت

زده پتنګ شمعې لهٔ مونږ کړل سوزېدل ویلي کېدل
اؤ ګل هم لهٔ مونږ زده کړي دا کپړې خپلې شلول

چې ټول ښکلي ئې پیدا کړل هغه څومره به وي ښکلے
نور لهٔ دې مخکښې لاړ نهٔ شې مخکښې دي حېرانېدل

دَ عاشق مخکښې رسوا ده دا دنیا پهٔ هر صورت کښې
دے ئی زړهٔ کښې هغه، بل ته کېدے څنګه شي کتل

علم لا زوال دولت دے خو کهٔ څوک دَ هغهٔ نهٔ وي
پهٔ دنیا پهٔ مزو زار شي دَ هغهٔ علم بیا خپل

ناز هغه پهٔ عبادت کړي چې میّن پهٔ هغهٔ نهٔ وي
عاشق غواړي بس پهٔ زلفو دَ معشوق کښې ګېرېدل

ؤ شیطان عالم عابد اؤ عارف هم خو دے بچ نهٔ شو
عاشق نهٔ ؤ نو دَ نفس نه ورته ګران شو بچ کېدل

دَ دې نفس جالونه سخت دي پهٔ عاشق ئې وس نهٔ رسي
کېدے څنګه شي دَ نفس دَ دې عشق مخې ته راتلل

عقل هم چې نفساني شي نو دَ نفس شر کله وینې
دَ عشق مخکښې اے شبیّره وي دَ عقل زارېدل

## تواضع

دَ هغهٔ دَ عظمت مخکښې چې چا ځان وګڼهٔ کم
قدردان دے دَ هغهٔ عزت سېوا کړي پهٔ کرم

نادان سر کړلو او چت خپل نو معتوب شو لو خراب شو
اؤ پوهانو سر خپل ټيټ کړو شو دَ خېر پهٔ لاره سم

څوک چې پوه وي ځان څهٔ نهٔ ګڼي پهٔ خدائے باندې ئې یقین وي
دَ ناپوهه خلقو یاد وي هیمش خپل خدم شدم

اول مینه بیا فنا ده اؤ فنا پسې بقا ده
بیا بنده شي اؤ محبوب شي پهٔ تقويٰ شي مکرم

لا اله نعره دَ زړهٔ نه چې څوک ووائی شبیّره
الا الله سره دَ خدائے شي خواهشات شي کالعدم

## اور پهٔ زړهٔ سور

دَ جانان دَ مینې اور عجیبه اور دے
زړهٔ لېواله دے دَ دې، دے پهٔ زړهٔ سور دے

ټول جرمونه مې پهٔ دې معاف کېدے شي
قیمتي څومره دَ دې مینې پېغور دے

دغه اور دَ نورو مینو اور تباه کړي
دَ زړهٔ باغ پهٔ دغه اور باندې سمسور دے

لا اله سره دَ غېر تصرف ختم
الا الله سره راغلے څومره زور دے

دَ خدائے مینه ده کافي هرې فتنې ته
کهٔ هر څومره نن صبا دَ فتنو دور دے

بس دَ دې در رسی پرېنږدې شبیّره
شیطان څکه خو لهٔ دې غم نه نسکور دے

## اوس

غواړي زړهٔ مې چې دا مینې کړمه جمع
پهٔ دې ټولو باندې اور ولګومه

یو دَ خدائے مینه بس پرېږدمه پۀ زړۀ کښې — هله ماته به ملاؤ شي لاره سمه
بل دَ هغو چې هغۀ سره کړي مینه — نازولي دَ هغۀ هم خوښومه
هغه مونږ سره کړي مینه بې غرضه — بې غرضه پرې دا ژوند قربانومه
عشق دَ میني صله کله څۀ غوښتے شي — زړۀ خالي لۀ هر څۀ بس اوس ورکومه
چې پۀ مینه دَ هغۀ کښې خرند جوړېږي — دے دشمن مې زۀ هغۀ ته نۀ ګورمه
دا فاني حسن دَدې ژوند امتحان دے — ازلي حسن پۀ دې کله پرېږدمه
پۀ خپل زړۀ دَ هغۀ نوم پۀ زور زور اخلم — زۀ پۀ دې دَ هغۀ مینه رابلمه
احساسات خپل ئې دَ میني غلامان کړم — هغه ګورم ، هغه وینمه ، اورمه
غفلت کفر دے دَدې لارې شبیّره — زړۀ پۀ ذکر دَ هغۀ ښۀ ویښومه

## علم اؤ ذکر

مدرسه خانقاه دَ علم و ذکر دوه دي مرکزونه — نو دِدو دَ یو ځائے والي مستحسن شو کوششونه
مدرسې نه دَ تعلیم کار اخستے شي، اؤ خانقاه کښې — سالکانو ته حاصل شي احساني کیفیتونه
مدرسه کښې دَ تعلیم وي انتظام دَ طالبانو — خانقاه کښې دَ سالکانو شي کېدے تربیتونه
مدرسه کښې کار لۀ ذهن اخستل پۀ یو ترتیب وي — پۀ خانقاه کښې ټیک کوے پۀ بل ترتیب شي بیمار زړونه
مدرسه کښې دَ استاد شاګرد رشته وي پۀ تعلیم کښې — پۀ خانقاه کښې مرید اخلي لۀ خپل شیخ نه سبکونه
دَ تعلیم و تربیت جوړ راځي علم و ذکر باندې — اے شبیّره تا اوچت کړل پۀ دې ګفت ډېر حجابونه

## تعلیم و تربیت

یو تعلیم بل تربیت دے — دَدې دواړو ضرورت دے
دَ خپل نفس اصلاح زر وکړه — بې دَدې علم حجت دے
دے اشرف انسان پۀ دغه — تزکیه دَدۀ رفعت دے
علم دے عمل دپاره — اؤ عمل خو پۀ همت دے
تزکیه کله دَ نفس چې — دَ چا وشي لوئے نعمت دے
زړۀ پۀ ذکر منور کړه — اے شبیّره دا قوت دے

## پخې خبرې

ژبه سترګې اؤ غوږونه کړه خپل بند — چې داخل نۀ شي پۀ دوی دَ دنیا ګند
کۀ دې زړۀ نوراني نۀ شو نو بیا وایه — ځے خلوت دے دَ خراب صحبت نه ښۀ دے
لږ عمل خو پۀ دې وکړه پند دے پند — اؤ دَ شیخ صحبت ترې ښۀ دے قند ذے قند
دغه ژوند دې کړه پکار سستي ونۀ کړې — چې دې سم شي بیا دَ هغې دنیا ژوند
زړۀ پۀ ذکر مصفا کړه اؤ خپل نفس هم — کړه قابو چې هلته شمېر شې عقلمند

اے شبیّره اوس دَ زړهٔ سترګې بینا کړه    دَدې بله ده دنیا اؤ بل ئې خوند

## پهٔ لار شه

دا خبرې دې اوس پرېږده لږ پهٔ کار شه    دې دپاره دَ خپل شېخ اوس تابعدار شه
وخت پهٔ منډه دے روان دا نهٔ ودرېږي    څه فائده دَدې نه واخله لږ هوښیار شه
دَ دنیا مینه سور اور دے سور انګار دے    لوبې دې سره اوس پرېږده توبه ګار شه
دَ الله مینه رڼا ده دَ زړهٔ ښکلي    اوس دَ دغې حاصلولو ته تیار شه
دا شېطان دَ ستا دښمن دے ډېر چالاک دے    ناساپې ګزار کوي ځکه بېدار شه
بس پهٔ خدائے باندې مئین شه ځان پرې ورک کړه    اے شبیّره دَ الله دَ نوم نه ځار شه

## شېخ کامل

یو خبره ده مشکله ګران پهٔ هغې پوهېدل دي    اؤ دَدې نه جهالت دَ هر یو خبر نهٔ لاس وینځل دي
کهٔ لهٔ لارې خبر نهٔ وي څوک، پوښتل لهٔ چا لازم شي    نامعلومه لاره باندې بې تپوسه څنګه تلل دي
بې رهبره پهٔ دې لاره باندې تللو کښې خطره ده    کهٔ څهٔ وشو ذمه دار دوی پهٔ دې شان دَ نقصان خپل دي
ډاکو کله دَ رهبر جامه کښې خلق ګېروي هم    دَ رهبر پهٔ علاماتو باندې ځان خپل پوهول دي
دَ نبي پهٔ طریقه بس دَ الله شه اے شبیّره    دې دپاره دَ کامل شېخ سره ځان نزدې کول دي

## ښهٔ مرید

دانه زمکه کښې دفن کړي چې مالي    پهٔ اوبو پهٔ سره بیا ئې وپالي
نو دَ بوټي څوکه دې نه رابهر شي    چې دَ خدائے وشي پهٔ دې مهرباني
بچ کول ئې له ګرمۍ سړدۍ پکار وي    ضروري وي بیا دَدې نګهباني
نو یو ورځ دا پهٔ مېوه باندې هم راشي    دَ مالي دَ نېکنامۍ نښه دا وي
خدائے خوشحال اؤ دَ مخلوق پکښې فائده وي    دا قصه خو یو صورت دے مثالي
چې طالب کله دَ شېخ پهٔ لوري راشي    ورته پیش کړي دا خپل ځان، خپله ځواني

شېخ پهٔ لار ئې دَ فنا باندې ورسم کړي    کړي دے پوه پهٔ دې چې دا ژوند دے فاني
دَدهٔ زړهٔ کښې بوټے بیا دَ میني نال کړي    جرړې کټ کړي دَ الهامِ شېطاني
اؤ دَ ذکر پهٔ اوبو ئې خسمانه کړي    کړي قابل ئې دَ الهامِ رحماني
دَ ترخو ترشو خبرو ورته سره    واچوي دي دا اصولِ باغباني
لهٔ هرڅهٔ ئې بچ ساتي پهٔ دې حالت کښې    چې کوم وي ممکن احوالِ نقصاني
نو دا بوټے ورځ پهٔ ورځ پهٔ ترقۍ وي    دې ته وائی کیفیتِ احساني

بیا پهٔ فضل دَ خدائے وصل شي نصیب ئې شي حاصل ورته بیا ذوق لا مکاني
اے شبیّره بیا صحبت دَدهٔ دَ خلقو دارو ګرځي چې ئې ښه شي بیماري

## دَ شیخ دَ مرید دپاره حیثیت

اورېدلي مو دي داسې لهٔ بزرګانو شیخ نائب دَ نبي دے دَ مریدانو
دَ هادي صفت مظهر دَ پاک الله دے ځکه سخت دے دا طریق پهٔ شیطانانو
دَ مرید دپاره ښهٔ دَ شیخ صحبت دے دے مطلب دې کښې مخفي دَ سالکانو
الهامات ئې دَ مرید دَ زړهٔ دوا وي پهٔ صحبت ئې هم شي بچ لهٔ لارو ورانو
هم عیوب دَ مریدانو پرې سرګند شي هم علاج وشي دَ زړهٔ دَ بیمارانو
دَدې لارې کړي مدد الله شبیّره کهٔ یو ځلې خوک شي لاړ تر ښو شیخانو

## مدرسه اؤ خانقاه

مدرسو کښې به دَ علم ؤ خدمت خانقاهګانو کښې کېدو به تربیت
مدرسه شته خو خانقاه نه خبر نهٔ دي ولې نشته دَ اصلاح اوس ضرورت؟
مدرسه کښې قیل و قال ډېر ضروري دے پهٔ خانقاه کښې شي حاصل دَ زړهٔ صحت
مدرسه کښې به دَ علم نه خبر شي پهٔ خانقاه کښې پهٔ عمل به شي عادت
مدرسه کښې خارجي نور به حاصل کړې اؤ دَ زړهٔ دَ نور خانقاه کښې وي محنت
اے شبیّره شي بیا نور علیٰ نور چې دَ تعلیم سره زړهٔ هم شي سلامت

## دَ ژوند کرښه

نفس مې نهٔ پرېږدي هېڅکله دَ هغهٔ ملاوېدو ته اؤ شیطان کله پرېږدي مې دَ الله دوست جوړېدو ته
کهٔ دَ نفس منم هغه بیا لهٔ ما نور نور ډېر څهٔ غواړي مسلسل مطالبات ئې نهٔ پرېږدي مې اورېدو ته
یو خوبي پهٔ کښې داشته دے چې پهٔ زور باندې سمېږي خوزول پهٔ زور دے غواړي تیار نهٔ دے خوزېدو ته
طریقه دَ اصلاح ځکه دَدهٔ دا ده مهٔ منه ئې بې دَدې نه نهٔ پرېږدي خوک پهٔ هېڅ شان بیا مخکښې تلو ته
رهنما داسې پکار دے چې اصلاح دَدهٔ کوے شي هغه کار وکړي پهٔ دهٔ چې تیار نهٔ دے ئې کؤ ته
زړهٔ دې هم خپل منور کړه چې پهٔ لاره باندې پوه شي ګنده زړهٔ خو تیار نهٔ وي پهٔ هېڅ شان دَ حق لوستو ته
نفس دے ګاډے زړهٔ ډرائېور دے دغه دواړه ښهٔ پکار دي کهٔ یو هم دو کښې ښهٔ نهٔ وي نو تیار شه بیا خطرو ته
زړهٔ پهٔ ذکر ټیک کېدے شي اؤ پهٔ نفس مجاهده ده رهبر نهٔ پرېږدي خوک کله پهٔ شیطان خطا کېدو ته
چې دَ ذکر وي مجلس دے دَ جنت دَ څرېدو ځائے شیطان کله پرېښودے شي دې کښې خوک هم څرېدو ته

شر خوریږي ښهٔ بې غمه اؤ پهٔ خبر دي پابندیانې
شېطان نهٔ پرېږدي شریر خلق دَ خدائے نه ویرېدو ته

دروازه دَ کریم لرې دَ توبې ده توبه وکړه
چې دے لفظ دَ مایوسی هغه پرېږدي نهٔ اورېدو ته

بس دَ خدائے فضل چې وشي هر څهٔ ټیک شي اے شبیّره
شېطان نهٔ پرېږدي شوک کله دې دنیا کښې ټیک کېدو ته

## دَ الله نازولي

دَ الله چې نازولي کوم بندیان دي
انسانان دي اؤ دا ټول زمونږ پهٔ شان دي

نور پهٔ دوی باندې خور شوے دَ الله دے
پهٔ دے نور لکه دَ ستورو دوی روښان دي

دوی دَ نفس نهٔ ده منلي مختلف دي
دوی ککړ صرف پهٔ مینه دَ جانان دي

دوی خپل زړهٔ دے خپل الله ته وقف کړے
ګریزانه لهٔ خبرو دَ شېطان دي

دوی بس حکم دَ الله ته صرف غوږ دي
پهٔ تعریف دَ پاک الله رطب اللسان دي

عقل کله مرتبې ته دَ عشق رسي
پهٔ دې پوه دي عقلمند دي عاشقان دي

اے شبیّره دَ الله فضل چې ویني
ځان ته ګوري اؤ پهٔ دې باندې حېران دي

## اهل قلوب سره ملاوېدل

چې ظاهر کښې دې نقصان وي کړي به خلق هغه درست
کهٔ دې زړهٔ کښې خرابي وي نو تا نفس به نور کړي سست

چې دي کوم اهل قلوب هغوی سره هم ملاویږه
ټیک کولو ته دَ زړهٔ کوه دا ، تا به کړي دوی چست

## دَ فکر فکر

تعلق دَ ټولو خلقو سره ټیک خو جوړوې تهٔ
دَ الله سره دا جوړ شي دَدې فکر نه کوې تهٔ

خرابي ټوله پرته دې ده پهٔ زړهٔ کښې ځان خبر کړه
چې دَ زړهٔ دَ اصلاح فکر باندې سترګې پټوې تهٔ

پهٔ دنیا پسې ته سر ئې دې دپاره در پهٔ در ئې
چې کوم فکر دَ عقبې دے هغه شاته غورزوې تهٔ

آخرت ښهٔ لهٔ دنیا دے هم باقي دے الله وائی
دَ قران پهٔ دې خبره کله ځان به پوهوې تهٔ

چې پهٔ وینه شوک اودهٔ شي دَ هغه وینبول ګران وي
اے پهٔ وینه اودهٔ ویښ شه ولې ځان نهٔ وینبوې ته

اے شبیّره دَ ښهٔ فکر اجر ډېر چې دے بې شانه
نو دَ دغې فکر وکړه، وکړه ښهٔ دَ ځان سرې ته

## تصور شیخ

چې خدائے ئې نهٔ ورکوي چاته نو بیا کله ملاویږي

اؤ دَ خدائے پۀ حکم دغه ټول اسباب چې دي جوړېږي
چې اسباب اختیار وي څوک اؤ یقین ئې بس پۀ خدائے وي
عاجزي ورته نصیب شي خدائے پۀ دغه خوشحالیږي
چې اسباب څوک اختیار نۀ کړي
حق ګڼي خپل پۀ خدائے باندې
دغه سوچ ئې خپل غلط دے خوګیله ئې لۀ خدائے کیږي
تصور کۀ دَ شېخ وکړو اؤ پۀ فیض ئې خدائے ملاؤ شي
څنګه دا تصور شرک شو چې پرې خدائے ته څوک رسیږي
دا خو پل دے پۀ دے باندې خپل مقصود ته رسېدل وي
دَ شېخ کار ملاؤول دي خدائے سره کۀ څوک پوهیږي
احتیاط کۀ چا کښې نۀ وي نو هغۀ ته جائز نۀ دے
دَ حاضر صیغه غائب دپاره کله جائزیږي
بزرګان نن صبا ځکه احتیاط کوي دې باب کښې
لۀ عوامو ، لۀ ناپوهو کار هر یو ممکن ښائیږي
کۀ ملاؤ شي خود پخپله نو شېّره بیا دا خبر دے
پۀ صورت وهي دَ شېخ بیا دَ شېطان وس نۀ رسیږي

## شېخ څۀ ته وائی

شېخ یو کړکۍ ده معرفت دپاره — دَ پاک الله دَ محبت دپاره
ده ذریعه دَ اخستو دَ خدائے نه — دَ هر یو قسم سعادت دپاره
لمن دَدۀ پۀ سچه ونیسه تۀ — دَ دې خپل نفس دَ تربیت دپاره
زړۀ کښې دَدۀ کۀ محبت ستا راشي — لکه سرۀ زر دي دې محنت دپاره
کله محنت دا استعمال نۀ کړې تۀ — تصرف کشف کرامت دپاره
کۀ اغستل لۀ دې فائده تۀ غواړې — زړۀ خپل تیار کړه دَ ښۀ نیت دپاره
شېّره کېږده پۀ قدم دَ شېخ تۀ — قدم دا لار ده دَ جنت دپاره

## دَ شېخ سره تعلق

پۀ نیت دَ اصلاح شېخ ته دي ورتلل ډېر ضروري — دَ نفس خپل تربیت چې دي کول ډېر ضروري

تلقين باندې عمل کښې سستي ونهٔ شي، دي دې کښې تعجيل نه نتيجه کښې ځان ساتل ډېر ضروري
اصلاح دپاره شېخ چې معمولات درته درکړي هغه دي پهٔ خپل وخت باندې کول ډېر ضروري
دَ دغه معمولاتو دَ اطلاع دپاره مخکښې دَشېخ،چې خپل احوال دي،دي راوړل ډېرضروري
پهٔ دې مطمئن نهٔ شي دَ همت نهٔ کار اخله همت نه دې کښې کار دي اخستل ډېر ضروري
دَ شېخ سره دَ خدائے دپاره مينه کړه پهٔ سچه شبيّره پهٔ دې ځان دي پوهول ډېر ضروري

## دَ شېخ تصور

پهٔ نظر زما شېخ راشي کله ستا چې سوچ کومه تهٔ زما پهٔ ياد کښې راشې چه هغهٔ ته وګورمه
کار زما دَ شېخ خو دادے چې ما تا سره ملاؤ کړي زهٔ عاشق يمه دَ ستا بس تا پهٔ زړهٔ کښې زهٔ ساتمه
زما شېخ چې کله ماوته وګوري پهٔ مسکا شي شي خوشحال چې زهٔ دَ ستا يم اؤ دَبل چا زهٔ نهٔ يمه
دا دَ زړهٔ دے تعلق دَ زړهٔ سره دا بل څهٔ نهٔ دي چې هغه چرته هم لاړ شي نو بس هلته کښې زهٔ يمه
زهٔ فنا شوم پهٔ هغهٔ کښې خو نظر زما پهٔ تا دے دَ هغهٔ نقشِ قدم باندې چې زهٔ هر وختې ځمه
زهٔ دَ شېخ پهٔ محبت کښې شوم دَ ستا دا شبيّر وائی زهٔ فنا کهٔ پهٔ هغهٔ يم ستا دپاره خاورې شومه

## شېخ ژبه مريد غوږ

شېخ لکه دَ ژبې شي مريد لکه دَ غوږ پهٔ شان بيا تحصيل دَ علم لدني جوړ شي پهٔ دې اسان
داسې دَ وئيلو اورېدلو محفلونو نه جوړ دَ خدائے پهٔ فضل شي دَ عشق و معرفت دکان
ژبه چې دَ پير دَ خدائے پهٔ فضل کړي شروع ګفتار غوږ دې کړي مريد دغو خبرو وته بيا خپل ځان
خدائے پاک دَ مريد دپاره څهٔ چې ضروري وي نو هغه بيا دَ پير پهٔ ژبه راوړي وي مريد حېران
دا دَ حېرانئ خبرې نهٔ دي دا دَ خدائے کار دے جوړ خدائے پهٔ خپل فضل دا تعلق کړي دَ اصلاح سامان
داسې ځائے پکار وي چې دا کار پهٔ کښې کېدلے شي دې ته خانقاه وائی اے شبيّره دَ اصلاح ميدان

## تکويني سبق

چې راغلي دي څوک دلته نو لهٔ دې ځائے ورته تلل دي
دا سبق يو تکويني دے پهٔ دې ځان ښهٔ پوهول دي
ده دنيا تلونکي راتلونکي دَ دې ځائے پهٔ زړهٔ کښې نشته
دا دَ نفس دَ دهوکې جال دے دَ دې جال نه هم وتل دي
دَ دنيا ګند خو لوئے ګند دے ګورې زړهٔ کښې دا پرېښږدې
همتي شه قيمتي شه دَ دې ګند زړهٔ نه وېستل دي
ځان دي ډېر زيات اوچت کړے خو پهٔ دې باندې پوه نهٔ ئې
اوچت ځيزوي پهٔ خطره کښې ځان اوس رو رو کوزول دي

نفس ازاد دې لړ پابند کړه ازادي دَدهٔ ښه نهٔ ده
دَدهٔ پړے دَ چا لاس کښې زر تر زره ورکول دي
دلته وژاړه شبیّره چې تهٔ هلته کښې وخاندې
کهٔ دا نهٔ وي بل جهان کښې خومره زیات بیا ژړېدل دي

## امتحان اؤ امانت

ژوند زمونږ دَ خدائے تعالیٰ یو امانت دے — امتحان دے امتحان هر یو حالت دے
یو دَ مال تپوس به کیږي دَ ګټلو — دې دپاره هم دَ علم ضرورت دے
چې جائز ګټل دي څهٔ اؤ ناجائز څهٔ — پهٔ پاک مال کښې مخفي خپله برکت دے
ناجائزه باندې خوک مړېدے نهٔ شي — بس یو حرص دے بیماري ده اؤ علت دے
دَ خرچ کولو طریقې چې هم صحیح شي — ناجائزې طریقې خو مصیبت دے
کهٔ اسراف کله دَ چا پهٔ مال کښې راشي — مال تباه شي چې دَ دغې نحوست دے
بخل هم مؤمن سره کله ښائیږي — دا دَ مال دَ محبت خراب سمت دے
اخستلو نه دَ قرض بچ کول ځان دي — دا جنده ده دَ خوارۍ اؤ ډېر ذلت دے
بل تپوس به دَ وخت کیږي وخت تېر شوے — پهٔ هېڅ شان نهٔ ملاویږي بیش قیمت دے
دَ یو یو عضو تپوس به دَ تن کیږي — امتحان زمونږ دَدې هر یو صورت دے
دَ هر یو چې استعمال صحیح اؤ درست وي — اؤ دَ زړهٔ خو دوی کښې ډېر زیات اهمیت دے
زړهٔ کهٔ درست وي نو ټول جسم به صحیح وي — پټ پهٔ دې کښې پروت بې شکه هدایت دے
درستګي دَ نفس کنجي دَ کامیابۍ ده — دې دپاره دَ اصلاح ډېر ضرورت دے
دَ اصلاح دپاره ټینګ کړه ځان شبیّره — دې دپاره پکار صبر اؤ همت دے

## دنیا اؤ امتحان

دنیا نهٔ ده مګر یو امتحان ګاه — دَ هر چا پرچه پهٔ دې کښې ده جدا
چا ته ډېر څهٔ ملاؤ شوي چاته هېڅ نه — شکر دے پرچه دَ چا ، صبر دَ چا
مونږ تهٔ فکر دے پکار دَ خپل خپل ځان ډېر — فائده دې کښې یقیناً ده زما ستا
تیارے دَ اخرت هر وخت پکار دے — اهمیت ئې چې لري جزا سزا
دا دنیا خو یو پټے دَ اخرت دے — محنت وکړه دې کښې پاره دَ عقبا
سنجیده تهٔ پهٔ دنیا کښې شه شبیّره — چرې ونهٔ ګڼې دا بس تماشا

## خوف اؤ امید

دَ امید دَ رسۍ نهٔ شي تهٔ محرومه — کریم ذات دے تا ته ښه ده دا معلومه

دومره خوف پکار ضرور دے پهٔ دې لار کښې — دَ عمل لاره چې نهٔ کړې تهٔ معدومه
دَ توبې کهٔ حقیقت درته معلوم شي — ستا لهٔ خدائے به شي پېدا ډېر امیدونه
دَغضب صورت دَ خدائے کهٔ درښکاره شو — درنه هېر به شي فوراً خپل ښهٔ کارونه
خدائے غفور دے اؤ رحیم دے مهربان دے — ورنزدې شه مهٔ کوه غلط سوچونه
تحمل دَ عذاب کله شو لرلے — بچ کړه ځان پهٔ توبه پرېږده ګناهونه
زهٔ شبیّر درته منت کړم غلط نهٔ شې — پهٔ شېطان ، دے ډېر ظالم دے کړي ظلمونه

## تن اؤ عملونه

دا خپل جسم مو مشین دے دَ اعمال — او دا زړهٔ دَ کیفیت اؤ دَ احوال
دَ زړهٔ غوږ سترګې کهٔ ټیک وي هر څهٔ ټیک وي — بیا پوهېږي دوی دَ نفس پهٔ استعمال
نفس هم بیا دَ زړهٔ دَ حکم تابعدار وي — حال لري خو ساتي خیال کښې قیل و قال
ذهن هم بیا تابعدار دَ زړګي جوړ شي — تابعدار نهٔ وي بیا صرف دَ خپل خیال
بندګي دَ خدائے پوره پوره نصیب شي — مزیدار به څومره وي بیا دَدهٔ حال
اؤ کهٔ دا زمونړه صرف تمنا وي — بیا دې نه صرف جوړ شي دَ نفس جال
اراده کهٔ وي پخه اؤ همت هم وي — اؤ شېخ هم چې څوک ملاؤ شي باکمال
نو دَدې نه جوړ شبیّره حقیقت شي — فضل وشي بیا دَ ربِّ ذوالجلال

## کامیابي

کامیابي خو پهٔ کار باندې حاصلېږي — انتظام سره دا کار کهٔ کله کېږي
قال بې حاله لاش بې روح دے نو بیا دا به — دفن کېږي کهٔ دا حال ئې نهٔ سمېږي
هر عمل دَ خدائے دپاره بس پکار دے — پهٔ طریق دَ مصطفٰے کهٔ هم چلېږي
دّ خدائے مینه ده پکار هر یو عمل کښې — بس پهٔ دې به دے دَ نفس څنې خلاصېږي
دَ دنیا مینه هر یو عمل دنیا کړي — پهٔ ښهٔ نیت دغه دنیا هم دین جوړېږي
اے شبیّره دَ خپل ځان فکر زر وکړه — ګني وخت خو درنه دغه دے تېرېږي

## خوش نصیب مسلمانان

زمونږ خدائے دے مهربان ډېر — ولې خلق دي پرېشان ډېر
نېکي یو پهٔ لس ، بدي یو — چې پهٔ لار ئې دَ جانان وي
خوش نصیب دے مسلمان ډېر — دے به خوښ وي دَ جانان ډېر
اخلاص زړهٔ کښې تهٔ پېدا کړه — قیمتي دے دا سامان ډېر

چې پهٔ لار دَ مصطفٰے ئې | ولې بیا ګورې حېران ډېر
ضائع وخت نهٔ کړې شبیّره | ګنې وبه کړې تاوان ډېر

## څوک

خوش نشیب شو چې به ځان ته قهرېدل څوک | ګېر شو خپله چې لهٔ ځانه ځارېدل څوک
چې ګزار مې پهٔ شا وخوړو دَ کانې | چې مې شاته وکتل هغه وُ خپل څوک
دَ دنیا دَ امتحان یو نظاره وه | شرارت کولو چا اوُ ګېرېدل څوک
آخرت کښې به ظاهر شي خود پخپله | خپل عمل به هر څوک نیسي، نه چې بل څوک
کله لاره ترې غلطه شي شبیّره | چرې فکر چې څوک نهٔ کړي دَ منزل څوک

## تنبیه

ستا دا زړهٔ به بیا پهٔ وینو وژړېږي | چې مقام دې لهٔ خپل ځایه وغورزیږي
پهٔ تا باندې غېرت کړے پاک اللّٰه دے | بېوقوف دے چې پهٔ دې هم نهٔ پوهیږي
څهٔ چې دلته پهٔ دنیا کښې چا نال کړي | اخرت کښې به هغه رېبلے کیږي
ژړېدل پهٔ وینو نهٔ ختموي هلته | کوم چې دلته کښې پهٔ دوه اوښکو ختمیږي
دَ هغهٔ شه چې محفوظ شې اے شبیّره | دَ هغهٔ پهٔ کړو هر یو کار چې سمیږي

## توبه

لهٔ ګناه ځان بچ کول کړه کهٔ وشي توبه کول کړه
توبه ګار دَ خدائے پاک خوښ وي
خدائے پهٔ دې خوشحالول کړه

کهٔ تهٔ خومره ځان اوچت کړې هغه ډېر لهٔ ستا اوچت دے
ځان لوئے مهٔ ګڼه هېڅکله صرف هغه لوئے ګڼل کړه

کرم ډېر دَ رب وسیع دے تهٔ جولۍ وته کړه بیرته
مستحق مهٔ ګڼه ځان خو ولې مهٔ مایوسېدل کړه

پهٔ عاجز دے مهربان عاجزي ولې خپلوې نه
دَ منلو پهٔ تابیا تهٔ مخکښې څه نور مخکښې تلل کړه

هغهٔ خپله خپل محبوب ته طریقې خوښې ښودلې
نو پهٔ دغه طریقو باندې محبوب ئې جوړېدل کړه

دَ هغهٔ طریقې ښکلې زمونږ ولې خوښې نهٔ دي

خواهشات دَ نفس زمونږه ډېر راښکل کوي دا زړهٔ مو
دهوکه نهٔ شي ځان خبر کړه دَ دښمن ئې مهٔ منل کړه

خو جائز چې کله نهٔ وي دا پهٔ زور دباؤول کړه
دے دا نفس لکه دَ ګاډي اؤ دا زړهٔ دَدې ډرایئور دے

تربیت دا چې دے پوه شي چې منزل زما کوم ځائے دے
دے ډرایئور ته تربیت ښهٔ پهٔ دې وجه ورکول کړه

لاره کومه دَ منزل ده پهٔ دې باندې ئې پوهول کړه
چې رهبر صحیح ملاؤ شي نو پهٔ لاره تلل اسان شي

سلسلو دَ برکت نه کړه تائید حاصل دَ خدائے بیا
پهٔ دې پوه شه هر مشکل نه ځان هم دغه شان وېستل کړه

پهٔ تائید دَ خدائے پهٔ لاره دَ نبي سفر کول کړه
دا دَ زړهٔ خبرې واوره دَ شبیّر قلم روان دے

دے الله مالک دَ زړهٔ مو دَ هغهٔ صرف کېدل کړه

## کړه پهٔ فضل خپل قبوله مې توبه

کړه پهٔ فضل خپل قبوله مې توبه
خدایه درست کړې دا خراب حالت زما

ستا پهٔ فضل مې پهٔ دې استقامت وي
دې نه پس تېر کړم زهٔ ژوند صفا سوترا

زما سترګو ته حیا داسې نصیب کړې
غېر محرم ته چې ونهٔ ګوري دوی بیا

هم غوږونه زما دواړه حیادار شي
دوي وانهٔ وري چې غلطه وي صدا

ژبه هم زما مشغوله شوے پهٔ ذکر
تر پهٔ ذکر همېشه دې وي دا ستا

سستي پرېږدم دَ چستۍ نه کار زهٔ واخلم
زهٔ شبیّر خالص بنده شم دَ الله

## کوي

وبیالې چې ځان څومره دومره به ګټل کوې
وغورزوې ځان چې خپل هله به بره تلل کوې

خاورې سره خاورے شه خاوره جوړېدل زده کړه
دې پوړۍ دَ خاورو باندې بره به ختل کوې

زړهٔ نه دې غېر وباسه یو پهٔ دې کښې پرېږده بس
وینې چې هغه، څنګه به لاس بل ته نیسل کوې

مرګ نه مخکښې مړ پهٔ تصور کښې دَ میزان شه تهٔ
دې دپاره تهٔ به استعمال دَ وسائل کوې

خیال ساته چې تهٔ یوه لمحه کښې هم غافل نهٔ شي
اؤ پهٔ عبادت به ورته ځان نزدې کول کوې

دے مشکل شبیّره کهٔ دې زړهٔ ورته ونهٔ سپارهٔ
زړهٔ ستا ئې امانت دے ورته دا به رسول کوې

## زهٔ لهٔ خدائے غوارم اللہ

نه پهٔ آه باندې مئن یم نهٔ پهٔ واه — خدائے دپاره زهٔ لهٔ خدائے غوارم الله
بس بنده دَ هغهٔ جوړ شم هر حالت کښې — شي هغه دې رامدد دا کړم دعا
دَ ایمان دولت هغهٔ راته راکړے — اوس دَدې دولت ترې غواړمه بقا
زهٔ طلب دَ هدایت ترې کړم هر وختې — نېغه لاره کړي نصیب مې دَ هدیٰ
زهٔ اګرچه ګناهونو کښې لت پت یم — بیا هم غوارم دَ کرم ترېنه نګاه
دَ کړو لارو نه غوارمه امان ترې — طریقه دَ محمد غوارم صفا
زهٔ چوغه ، دستار بندي ، قبه نهٔ غوارم — غوارم زهٔ ترې چې مقبوله وي ادا
دَ هغهٔ دَ محبت یمه طالب زهٔ — دے خبر پهٔ مدعا چې ده زما
خدایه خپل کړې ما پهٔ خپل فضل تهٔ خدایه — خدایه غوارمه لهٔ ستانه ستا رضا
کرم وکړې اے کریمه پهٔ ما باندې — دَ کرم نظر دې غوارم همېشه
فراست دَ عمر صدق دَ صدیق اؤ — دَ عثمان غوارمه زهٔ جود و سخا
دَ علی دَ شجاعت نه مسلح شم — دَ حسن پهٔ طریقه شم با وفا
دَ شبیّر سجده شبیّر هېره کړي څنګه — ستا دپاره زهٔ پهٔ تا شمه فدا

## دنیا دارالعمل

ریبې هلته به چې دلته څهٔ کړي تهٔ — شې محروم به کهٔ کوې دلته نخرې تهٔ
دلته وژاړه توبه وکړه ګني نو — هلته ژاړې به کهٔ لاړې بې توبې ته
پهٔ ټیټ سر پهٔ چپه خولهٔ کار کښې تهٔ جوت شه — ظالم نهٔ شي مهٔ کوه مطالبې تهٔ
کوم عمل چې پهٔ اخلاص درته نصیب شي — کوه شکر ، ددې خبر به ووینې تهٔ
لمن کلکه دَ شیخ خپل ونیسه لاس کښې — خطرات دي ګېر چاپېر کهٔ دا پرېږدې تهٔ
تش پهٔ علم خلاصے چرته دے شبیّره — کهٔ عمل پهٔ دغه علم نهٔ کوې تهٔ

## دَ اقبال خودي

دَ اقبال دغه خودي کهٔ لهٔ کلمې نه اخستل دي — نو مطلب به دَدې داوي چې خپل ځان فنا کول دي
پهٔ دې لفظ اؤ پهٔ معنیٰ کښې تفاوت راته لیدے شي — نو تطبیق ئې دَ ظاهر اؤ دَ باطن څکه مشکل دي
صرف لفظ دَ خودۍ نه دَ بقا معنیٰ وېستو کښې — خلق ډېر بیا غلطیږي پهٔ دې باب کښې داوئېل دي
بې خودي کهٔ شي حاصله دَ فنا تعبیر دا اخلي — پس لهٔ دې پهٔ اسانۍ بقا خودۍ سره تړل دي
اقبال هغه وخت مجبور ؤ لهٔ حالاتو څکه داسې — ناکافي لفظ ئې واخست چې پهٔ کښې ډېر مسائل دي
اوس معنیٰ دَ لا اله کِهٔ بېخودي واخلي شبیّره
تعبیرونه الا الله ته دَ خودۍ خپله حاصل دي

## ځهٔ غواړمه ؟

نهٔ تسخیر دَ ارض و سما غواړمه — نهٔ دستار جبه اؤ قبا غواړمه
سوچ مې چې کولو چې ځهٔ غواړمه — صرف دَ هغهٔ بس رضا غواړمه
ځهٔ رانه چې غواړي هغه غواړمه — بس دَ خدائے دپاره الله غواړمه
یمه دَ الله بنده نور هېڅ نهٔ یم — زهٔ ورنه مقبوله ادا غواړمه
غواړمه پهٔ ما ئې چې کرم وشي — یم دَدې طالب دا دعا غواړمه
یاد مې وے هغه ، زهٔ ورته هم وے یاد — داسې خپل حالت همېشه غواړمه
دے زما محبوب چې دَ هغهٔ هم دے — زړهٔ دې پهٔ هغهٔ وي فدا غواړمه
واستوم پهٔ لکونو پرې درود سلام — زهٔ ورسره داسې وفا غواړمه
ووائی قیامت کښې دا شبیرؔ چې دے — هرڅهٔ چې هم دے، دے زما ، غواړمه

## پهٔ الله توکل

چې کوي پهٔ الله باندې پهٔ هر حال کښې بهروسه — دَ هغهٔ کمېدے نهٔ شي پهٔ هېڅ حال کښې حوصله
چې دَ کوم ځهٔ مکلف یو نو هغه راته کول دي — بیا پهٔ دې کښې دَ الله دَ مدد مونږ لرو اسره
چې مدد دَ الله نهٔ وي نو هېڅ کار سمېدے نهٔ شي — هم پهٔ لاس کښې دَ الله ده دَ اسبابو نتیجه
اختیاري چې کوم عمل وي استعمال پهٔ کښې اختیار کړه — اؤ دَ دغې عمل پرېږده نتیجه بیا پهٔ الله
سستي ونهٔ کړې شبیرؔه دَ سستۍ علاج چستي ده — دَ مجدِّدِ ملت تهانويؒ دغه ده نسخه

## ځهٔ مو وکړل

ځهٔ کوو سحر ماښام — عمر ځهٔ کښې شو تمام
ښهٔ عمل چې دلته وکړې — وي به هلته پهٔ ارام
اخرت کښې کامیاب دي — چې ئې چا وکړو انتظام
پابندي پرې بالکل نشته — نوم ئې خپل کړو څومره عام
عشق ته فسق خلق وائی — فسق عشق کړلو بدنام
دَ دنیا پهٔ محبت کښې — مبتلا دي خاص و عام
دَ دنیا نه بچ کېدو ته — څښه دَ خدائے دَ مېنې جام
ما دنیا ته اے شبیرؔه
وکړو لرې نه سلام

## دَ مایوسۍ وسوسې

دَ هغهٔ چې شوې نو بیا دَ مایوسۍ وسوسې څنګه
ګورم زهٔ چې خلق خوري پهٔ وسوسو کښې غوپې څنګه
لاره شته دے خو بیا هم متردد دي خلق ولې
چې لهٔ رګ نزدې دے زیاتې دي بیا دا فاصلې څنګه
چې پهٔ یو توبه معاف کړي ګناهونه چې وي شوي
چې دا دومره لوئے نعمت دے نو توبه نهٔ کوې څنګه
پهٔ ښهٔ نیت چې ملاویږي اجر یو بې لهٔ عمله
دَ اجرونو طریقې دا ولې نهٔ خپلوې څنګه
چې دښمن دَ ستا شېطان دے اعلاني تهٔ پرې خبرئې
نو بیا دې دښمن شېطان ته ورځې نور تهٔ نزدې څنګهٔ
ستا دَ نفس سره هروختې معامله چې ده شبّیره
نو دا نفس بې تربیته پهٔ کوم سوچ تهٔ پرېږدې څنګه

## دنیا دَ اخرت پټے

مینه مهٔ کوه دنیا سره دا څیز دَ مینې نهٔ دے
دا پټے دَ اخرت دے دَ محنت دپاره ښهٔ دے
ده دنیا دَ اخرت پټے حدیث کښې دي راغلي
ښهٔ پهٔ دې باندې ځان پوه کړه چې دَ دغې مطلب څهٔ دے
دَ الله پهٔ لار کښې تول ولګوه چې تول باقي شي
دغه تول کښې ستا پیسه هره لمحه اؤ هر ویښتهٔ دے
یو ځل ځي به لهٔ دنیا نهٔ هر یو کس چې نن ژوندے دے
اخر مرګ دے وړي دَ ځان سره عمل به چې دَدهٔ دے
ښهٔ عمل چې دَ چا ډېر وُ نو جنت تهٔ به ورستون شي
بدعمل وته دوزخ دے بدنصیب بیا دَ هغهٔ دے
دَ ځان هر څهٔ دَ الله کړه چې محفوظ شي تول شبّیره
پهٔ دې پوه کړه هر یو کس تهٔ کهٔ څوک ویښ دے کهٔ اوده دے

## آلې ئې یو پهٔ لاس کښې

آلې ئې یو پهٔ لاس کښې لهٔ مونږ څهٔ چې غواړي کیږي
پهٔ شا دَ هر یو کار دے پوهې سترګې پرې پوهېږي
چې څهٔ غواړي له مونږه هغه خپله ګورو وشي
پهٔ سترګو خپلو وینو بیا اسباب خپله جوړیږي
چې غواړي نو ناپوهه خلق پوه شي پهٔ لمحو کښې
پهٔ فضل دَ هغهٔ پهٔ هر څهٔ خپله ورسیږي
شکرونه دي شکرونه اؤ شکرونه دي شکرونه
دي څومره نعمتونه چې دا مونږ ته ملاویږي
چا باندې کیفیت دے ، اؤ قلم دَ چا جاري دے
دا فضل دَ هغهٔ دے چې قلم زما چلیږي
مخلوق ئې دے عیال پهٔ مخلوق څومره مهربان دے
طالب دَ هدایت ته لارې خپله چې سمیږي

صفت ئې دَ رحمت دے غالب کړے پۀ غضب خپل
وریزو دَ رحمت کښې دَ غضب لهر ختمیږي

دوه ګوتو کښې دَ هر چا زړۀ ئې دے دا رنګې نیولے
چې کوم طرف ئې غواړي پۀ هغې طرف تاویږي

زړګے دَ شبیر څنګه ئې دَ فضل انکاري شي
شعرونه دَ شبیر په زړۀ چې داسې راوریږي

## علم

علم نور یو خارجي دے
هدایت دې کښې مخفي دے

ملاویږي ، چې ملاؤ شي
زړۀ کښې نور ، چې باطني دے

دَ باطن نور زړۀ ته ذکر
باندې راشي ډېر اصلي دے

دوه نورونه چې یوځائے شي
نو هر کار بیا نوراني دے

علم لاره وې ښودونکے
هدایت دا سماوي دے

اے شبیره زړۀ دې سم کړه
پۀ هر څیز چې دے حاوي دے

## دنیا اؤ اخرت

دَ دنیا سره دَ زړۀ لګول مۀ کړه
هېڅکله دَ آخرت هېرول مۀ کړه

اخرت ښۀ دے باقي هم دے خدائے وائی
دَ دنیا دپاره دا پرېښودل مۀ کړه

دنیا پاتې ده نیمګړې تۀ به ځې ترې
پۀ دې زړۀ کښې دَ دنیا کښېنول مۀ کړه

دا دنیا خو یو پټے دَ آخرت دے
څکه دې کښې پۀ ارام کښېناستل مۀ کړه

دَ خدائے پاک قانون واضح دے اؤ محکم دے
کۀ وخت تېر شو ګورې بیا ژړېدل مۀ کړه

دَ شبیّر اشعار مزې دپاره نۀ دي
ځان پرې پوه کړه ترې مزه اخستل مۀ کړه

## نن صبا

فکر دا زما جوړیږي نن صبا
دَ امت به څۀ چل کیږي نن صبا

لۀ هر لور دَ مصائبو خولې دي وازې
خوک پۀ مونږ نۀ خفه کیږي نن صبا

هر طرف بې حیائی ده شروع شوې
اؤ زمونږ ځنې تاویږي نن صبا

دَ رذیل فکر دنیا کښې هر ځائے عام شو
شریفان دي چې کړیږي نن صبا

دَ دولت پۀ پیمانه تللے کیږي
ټول کارونه چې کوم کیږي نن صبا

دَ ځان خیال دَ مسلمان نه جوړې ورک شو
خپلې پښې وهلے کیږي نن صبا

شي زمونږه پۀ پیسو وسله تیاره
بیا زمونږ خلاف چلیږي نن صبا

ټول کفار مخالفت کښې راته یو دي
مؤمنان پرې نۀ پوهیږي نن صبا

دَ الله دَ مدد ژوند لۀ مونږ شو پاتې
شبیّر څکه خو ژړیږي نن صبا

## رومي

دَ طريق جذب يو ښکلے ترجمان رومي ښکاريږي / پهٔ اسمان دَ معرفت دے لکه ستورے اؤ ځليږي
دَ الله دپاره دهٔ خپل ځان فنا کړلو باقي شو / فيض دَ شيخ ئې مثنوي کښې کړلو بند اوس ترې خوريږي
چې کوم اور دَ دهٔ دَ شيخ پهٔ زړهٔ کښې بل ؤ دهٔ ترې واخست / دغه اور دے مثنوي کښې، لمبې ځکه ترې نهٔ خيږي
دا اشعار دي ملغلرې دي دَ جذب ترجماني / دا تحفه ده يو دَ ميني هغه کس ته چې پوهيږي
پهٔ دعوت دَ بې خودئ ئې دَ خودئ ورکؤ زيړے / دَ فنا بقا پهٔ لار کښې اے شبيّره داسې کيږي

## دَ نن صبا حالت

دَ ليلىٰ مينه شوه زياته دَ مولىٰ محبت کم شو / فارمولا شوه دغه جوړه دا دَ عقل جوړ ماتم شو
دنيا خوور ځې ژوندون دے ولې دي باندې مړ کيږې / دَ اخر طلب اصلي، لهٔ زړهٔ نه ولې کالعدم شو
لهٔ دنيا جوړ حقيقت شو اؤ جنت يو افسانه شوه / دَ زړهٔ حال به څهٔ جوړيږي چې پرې دا ظلم و ستم شو
زړهٔ دے ډک دَ نمونځ ګزار نن لهٔ ګندونو دَ دنيا نه / پروت کهٔ سر دے پهٔ سجده کښې خو دَ زړهٔ مالک صنم شو
اخرت ښهٔ اؤ باقي دے پهٔ قران کښې دا رب وائي / کهٔ دَ چا عقل نصيب وي نو دا قول پرې ور محکم شو
دَ شيطان اؤ نفس شبيّره لاس کښې خو مره به لوبيږې / تزکيه دَ خپل نفس وکړه دَ امې خيال پهٔ زړهٔ را سم شو

## يو ارمان

کاش دَ زړهٔ داستان قلم مې وليکلے / مجذوب زړهٔ دَ جذب لاره وښئيلے
دَ محبوب يو يو ادا کړمه رامخکښې / دو دَ غېر دا اداګانې وخوړلے
دَ بيدار زړګي دَ سترګو کهٔ کار واخلې / شي به پوه کهٔ چا لړ دا وروښودلے
يو محفلِ نفساني بل روحاني دے / دَ يو بل ګرېوان ته ئې لاس دے اچولے
دَ عاشق زړګے مېدان ته ئې راکوز کړو / کاش چې عشق دَ نفس دا زور وسوزولے
نفس پهٔ پړې کړه ترلے نفس پکار دے / اؤ دَ عشق هار زړهٔ ته واچوه نن ښکلے
اے شبيّره هر يو کار دې پهٔ سنت کړه / دَ محبوب مينه به بيا تهٔ شې ګټلے

## دَ قلم معذرت

جذبه کله شي قلم بيانولے / پهٔ الفاظو کښې جذبې نهٔ شي راتللے
چې تر څو جذبه حاصله نهٔ وي خپله / نهٔ شي څوک دَ بل جذبې محسوسولے
قال اؤ حال پهٔ فرق کښې زمکه اؤ اسمان دي / آورد کله دَ آمد ځائے شي نيسلے
زړهٔ چې جوړ نهٔ وي نو ذهن به څهٔ وکړي / عقل لاره دَ عشق کله شي وهلے
قلم ډېر کهٔ کوشش وکړي خو معذور دے / دے زړهٔ نهٔ دے چې دَ يار مخ ئې ليدلے
وسيله دَ انتقال دَ مفاهيم ده / کيفيت دپاره دے دے غلے غلے
اے شبيّره شکر ډېر کوه دَ خدائے پاک / چې قلم دې دَ اصلاح لاس ته راغلے

## قا ل اؤ حال

دا قلم دَ زړهٔ اواز رسول غواړي
فکر هم دے پهٔ خپل وس خورول غواړي
قال خو قال دے قیل و قال سره ئې کار دے
حقیقت دپاره حال جوړول غواړي
دَ عمل دغه مېدان دے عمل وکړه
پهٔ عمل خپل ، خپل دښمن سوزول غواړي
چې دَ عشق دې پهٔ مېدان کښې قدم کښېښود
تقاضې بیا پوره هم ئې کول غواړي
ننداره دَ حال پهٔ قال چا بیان کړي
عملاً به پهٔ دې ځان پوهول غواړي
تا دَ حال پهٔ اهمیت به قلم پوه کړي
نور شبیّره به پهٔ مخکښې بیاتلل غواړي

## دینداري

تعریفونه دي ډېر زیات دَ دینداریٔ
مختلفې اندازې غلط فهمیٔ
دَ چا نمونځ اودس ټول دین دے نور څهٔ نشته
پهٔ لېن دېن کښې ئې پرتې وي خرابیٔ
دَ چا دین رښتیا وئیل دي خو مطلب ئې
وي کول خبرې بس دَ بې باکیٔ
د چا دین بل ته تبلیغ دے ځان ئې هېر وي
پهٔ خپل ځان باندې دا دین نهٔ نافذئ
دَ لېن دېن معاملات معاشرت
مسئلو نه دَدې ځان کله خبرئ
دَ چا دین دے رفاهي کارونه هر وخت
دَ بل چا دپاره خپل اخر غرقئ
دَ دنیا دپاره ټول اسباب اختیار شي
دین دپاره اسباب بالکل نهَ لټئ
دین دپاره سیاست خو ضروري دے
طریقه دَ ټول نظام ده دَ خوبیٔ
خو پهٔ دین کښې سیاست کول بل ځیز دے
چې هر شے دَ خپل مطلب دے جائزئ
ضرورت دَ مدرسو دے یقیناً ډېر
نقصانات چې دي ډېر زیات دَ ناپوهیٔ
مدرسه چې کاروبار شي مصیبت دے
باعث ګرځي بیا دَ دین دَ بدنامیٔ
تربیت پهٔ خانقاه ګانو کښې کېدے شي
دے علاج مهم دَ نفس دَ آذادیٔ
پرورش چې شي شروع دې کښې دَ نفس نو
دا خانقاه شي ذریعه دَ تباهیٔ
دین داري خو ځان کښې دین دي راوستل بس
دې دپاره به لهٔ علم ځان خبرئ
بل عمل پهٔ دغه علم هم پکار دے
پهٔ دې باندې به خپل نفس هم پابندئ
لهٔ دې علم چې صحیح فهم وصول کړي
دې دپاره به خپل کوږ زړهٔ هم سمئ
کهٔ تعلیم کهٔ تربیت دے پهٔ همت دے
ضرورت دَ رهنما به هم منئ
رهنما به درته لاره کړي اسانه
پهٔ دې لاره به پهٔ خپل همت بیا ځئ
بل دَ ټولِ دین اخستل ډېر ضروري دي
ادْخُلوا فِی السلْمِ کآفة یاد ساتئ
اے شبیّره دَ الله فضل پکار دے
مونږ دې بچ کړي لهٔ هر قسمه ګمراهیٔ

## مصیبت اؤ رحمت

خدائےلۀ در نه مصیبت چې کله راشي
اؤ پۀ خولۀ باندې جاري اِنَّا لِلّٰهِ شي
وَاِنَّا اِلَیهِ رَاجِعُونَ هم وايي
نو رحمت پرې یقیناً بیا لۀ هر خوا شي
مصیبت دَ خدائےدَ ورکړې ذریعه ده
پۀ دې صبر سره خپل مقام بالا شي
پۀتکلیف کښې هغه کس ډېر خوش نصیب دے
پۀ توبه سره چې خدائے ته پۀ ژړا شي
مصیبت پۀ بې صبرۍ ختم خو نه شي
خو دَ صبر اجر دې باندې خطا شي
غافیت غواړه شبیّره صبر باندې
معیت به دې نصیب دَ پاک الله شي

## حیات انبیاء

انبیاء اول نمبر دویم صادقین دي
شهداء دریم نمبر بیا صالحین دي
شهیدان کۀ دي ژوندي بیا انبیاء نو
چې څوک خلق مړي بولي دوی محرومین دي
پۀ حیات باندې دَ دو پوهېدے نۀ شي
هېڅ کله ،چې کوم دنیا کښې محجوبین دي
گمان هم پرې جائز نۀ دے چې دَ مړو
نو پۀ مړو ئې څنګه مصر معترضین دي
دَ ممات نعره دې بنده کړي بیا خبر دے
کۀ خبر نۀ وي لۀ څۀ نو معذورین دي
اے شبیّره حقیقت منل ډېر ښۀ دي
چې خبرې دا زمونږ دَ ښکلي دین دي

## پۀ شرم پټ

چې دَ حسن ده دنیا ، هغه لوټ کیږي
څنګه باد دَ بې حسۍ دے چې چلېږي
نفس دَ حسن سنګار کړے دے ډېر زیات نن
څۀ پۀ عقلِ ایماني به نن تېریږي
خنداګانې لۀ حیا خالي هر لور دي
حساس زړونه پۀ هر ځائے کښې نن ژړیږي
هر نعمت دَ خدائے دَ شکر ذریعه ده
پۀ نعمت شکر ته کله څوک سمیږي
پۀ دریاب دَ شهوتونو چې لاهو شي
ورځ پۀ ورځ پۀ دې کښې نور هم ور ډوبیږي
زړۀ پۀ ذکر دَ الله چې منورشي
بیا شبیّره خېر و شر ورته ښکاریږي

## دا منظرونه

دا منظرونه اوازونه رنګینۍ اؤ شباب
زړۀ دې خپل ټینګ کړه ګني ځان به تۀ کړې نور هم خراب
ده هره پاڼه دَ الله دَ معرفت ښودونکې
کۀ کله زړۀ کښې ستا موجود دَ الله یاد وي جناب
ستا دغه سترګې، ژبه اؤ غوږونه دي چې واوره
دا دَ بل چادي ، ورکول تاته دَدې دي حساب
ته خو پۀ خوب دَ غفلت پروت ئې دې دنیا کښې، ولې

ځان به لړ وينښ کړې ګني وينښ به تا کړي خپله عذاب
نور دَ ضربونو عمل تېز کړه پۀ خپل زړګي باندې تۀ
چرته اودۀ نۀ شې، ځان وينښ ساته، دے سخت ئې عتاب
دي يادونکي دا مزې چې دَ جنت دَ مزو
زړۀ کۀ ژوندے وي، دے مېدان دَ ذکر دا لاجواب
کړه بېخودي حاصله پوه چې شې پۀ ځان شبيّره
دغه خودي وګڼه والله اعلم بالصواب

## اخلاص

چې دَ نيت پاڼه دَ چا صفا سوتره شي — پۀ اخلاص باندې اعمال ئې ټول ښائسته شي
تۀ خپل ځان کړه دَ هغۀ پۀ هر يو کار کښې — قدردان دے هغه ډېر , ستا به هغه شي
بس تۀ يو فکر کوه بيا فکر نشته — دَدې فکر چې هغه يو تاسره شي
دَ خپل زړۀ تعلق هغۀ سره پکار دے — دې سره معامله بيا هر يو ښه شي
دَ دنيا دَ خواهشاتو مستغني شي — چې پۀ مينه دَ هغۀ باندې نشه شي
ټوپ شبيّره کړه دَ مينې سمندر ته — مۀ ويرېږه لامبو خپله به ستا زده شي

## وسوسه اؤ حديث نفس

کۀ پۀ ګناه کۀ پۀ ثواب وي دا نفس بس دَ خواهش پوره کېدل غواړي
اؤ دَ شېطان دے دا خواهش چې هغه مو عاقبت خرابول غواړي
چې مسلسل وي ختمېدل ئې نۀ وي حديث نفس دے دا دباؤ ساته
چې پۀ رنګ رنګ خراب خيالات راځي دي وسوسې دا پرېښودل غواړي
دَ وسوسو خو څۀ پرواه مۀ کوه دا خو غېل ستا دَ دښمن دي صرف
چې کۀ پۀ لارې سپے ترلے غاپي پۀ خاموشۍ ترې مخکښې تلل غواړي
ستا نفس خبرې به بېشانه کوي دَ خواهشاتو خپلو ډکې دغه
ګاډے دَ سوچ مثبت پۀ دې ونۀ درے چې خپل منزل تۀ رسېدل غواړي
شبيّره نفس او لۀ شېطان بچ کېدل دومره اسان نۀ دي خبرو کښې دا
ددې دپاره دَ کامل شېخ چې وي لاس محبت سره نيسل غواړي

## اپرېل فول

مسلمان سره دهوکه ده اپرېل فول — دَ ورانکارو يو نخره ده اپرېل فول
چې لهٔ خدائے نه نهٔ ويرېږي اپرېل فول کړي — يو بېکاره تماشه ده اپرېل فول
پهٔ دهوکه چې فخر کړي هغه ظالم دے — طريقه يو بې هوده ده اپرېل فول
لعنتيان دي دروغژن دروغ مهٔ وايه — څهٔ بې کاره سلسله ده اپرېل فول
لعنتيانو پسې مهٔ ځه شبيّر وائې — دَ لعنت يوه لانجه ده اپرېل فول

## خو عمل چې وي جاندار

علم ټيک دے خو عمل دے هم پکار — عمل ټيک دے خو عمل چې وي جاندار
پهٔ جاندار عمل چې فخر نه ځان بچ کړي — هغه کس خپلو بنديانو کښې کړي شمار
يوه لاره ده هغهٔ وته قبوله — ده چې لاره دَ احمد نبي مختار
نورې لارې دي پهٔ مونږه باندې بندې — کهٔ فائدې ښکارې پکښې هزار هزار
اوس پهٔ دين کښې اضافه ممکنه نهٔ ده — دا بدعت دے دَدې نشته څهٔ اعتبار
کهٔ ډانچه دَ دين هغه وي نو بيا خير دے — دين دپاره ذريعې کهٔ شي اختيار
وي ممکنه تبديلي پهٔ ذريعو کښې — دَ حالاتو مطابق چار و ناچار
ذريعو کښې تبديلي بدعت ګڼي څوک — څوک بدعاتو نه هم نهٔ کوي انکار
اے الله بيا اعتدال زمونږ نصيب کړې — ونهٔ خېژو دَ افراط تفريط پهٔ دار
کړو قابو دَ يو الله رسۍ شبيّره — چرته نهٔ شو جهنم ته مونږ ګزار

## خواهشات

خواهشات کهٔ کله ستا نهٔ شولو کم — اؤ ستا زړهٔ کښې پهٔ دې باندې نه وي غم
ژوند به ستا وي همېشه پهٔ تراره کښې — دي پکار چې پهٔ ځان وکړې تهٔ ماتم
ضرورت پوره کېدے شي پهٔ اسانه — خواهشات خو نور زياتيږي دم پهٔ دم
خواهشات پوره کېدے شي پهٔ جنت کښې — دَ غفور و رحيم هلته پهٔ کرم
دلته کښې پهٔ ګزاره بس چلېدل دي — دي يقين لرل پهٔ خدائے باندې محکم
نتيجه هلته ده دلته خو عمل دے — اے شبيّره کړه ښهٔ سوچ اؤ عمل سم

## د نظر حفاظت

ضروري دے دَ نظر ډېر حفاظت — ګڼي ګرځي دا باعث دَ هلاکت
غلط ځائے ته نظر لا ر نهٔ کړي قصداً تهٔ — دَ مودو دَ زړهٔ انوار به دي شي ختم
شي ګنهٔلے دا لوئے در کښې خيانت — څوک دي نهٔ شي مبتلا پهٔ دې حيلت
پهٔ دې زړهٔ کښې صرف ځائے دَ هغه يو دے — دَ بل چا پهٔ دې کښې نشته څهٔ حاجت

کرامت دَ اولیاؤ بالکل حق دے خو دَدې نه دے افضل استقامت
دَ الله نه همېش غواړه بس شبیّره چې پۀ تلو کښې دې ایمان وي سلامت

## دَبدمعاشانو

خلق تنګ کړلو ازار دَ بد معاشانو خور دنیا کښې دندوکار دَ بدمعاشانو
خوامخوا جنګ به بَیه باندې اخلي ما لیدلے دے کردار دَ بد معاشانو
سود ، رشوت ، دَ یتیمانو میراثونه خېته ډکه لۀ انکار دَ بد معاشونو
خپل ذره مطلب دپاره خلق مړۀ کړي تېر دې نۀ شي څوک پۀ لاردَ بد معاشانو
دَنېکانو شامت راشي هغه ځائے کښې پۀ کوم ځائے چې وي بهار دَ بد معاشانو
خپل قسمت نه څوک ذره زیاتولے نۀ شي خپل زیاتے نۀ شو پکار دَ بد معاشانو
أخرت کښې ورته څومره پېټے پروت وي پۀ دنیا کښې سر پۀ دار دَ بدمعاشانو
کۀ جنت وي پۀ تکل کښې دَ نېکانو نو دوزخ پۀ انتظار دَ بدمعاشانو
دا دنیا به ورته ډېره لږه ښکاري کۀ لږ عقل شو بیدار دَ بد معاشانو
دَ دنیا دپاره خپل آخر تباه کړي څومره بد دے کاروبار دَ بد معاشانو
یو ساعت کښې شي شبیّره پاک مؤمن به کۀ نصیب شو استغفار دَ بد معاشانو

## نۀ کړي احتیاط

نه کړي احتیاط څوک نن صبا دَدین کارونو کښې ویره پاتې نۀ شوه دَ الله زمونږ پۀ زړونو کښې
ټول دَ شهرتونو سمندر کښې ډوبوي ځان خپل سوچ نۀ کړي چې څۀ دي پۀ قران، پۀ حدیثونو کښې
مونږه مکلف یو دَ جائزو طریقو صرف نشته دے نجات پۀ ناجائزو صورتونو کښې
دین دپاره کار اؤ دَ دنیاطلب دا څۀ وینو څنګه مونږه دین ګڼو پۀ داسې حرکتونو کښې
وي چې پۀ ببنر کله تصویر دَ ملا ، پوه شمه راغلۀ تبدیلي دَ ملیانو پۀ ذهنونو کښې
خلق شو ناراض شبیّرنه، شپې ته چې ورځ نۀ وائی ولې ئې داخبرې دي راغلې پۀ شعرونو کښې

## دَ اغیارو طریقې اؤ مونږ

مونږ دَ غېر پۀ طریقو باندې روان یو لاُرې بندې راته ټولې دي پرېشان یو
روزانه دَ سازشونو زوګ ئې اورو خو اثر راباندې نۀ کړي بیماران یو
چا چې مونږه یو پۀ تورو زخمي کړي هم لۀ هغو دَ علاج خواستګاران یو
کاش چې مونږه کړو خپل عقل استعمال هم مونږ دَ چا یو اؤ څۀ وو دَ چا پۀ شان یو
مفادات چې دَ چا ملک نه عزیز تر وي څنګه شي به زمونږ خپل ؟ څۀ جاهلان یو

عاقل کله لهٔ دښمن نه مدد غواړي
چې مونږ غواړو ګوره څومره سادګان يو

مؤمنان خو پهٔ الله بس بهروسه کړي
دا پکار دي مونږ ته هم چې مؤمنان يو

قيادت شبيّره داسې لهٔ خدائےغواړو
چې دَ خدائےوي بس دَ دغي پهٔ ارمان يو

## دَ چا ملګرے شي؟

کله ونهٔ کړې مدد دَ ظالمانو
دَ شريرو مفسدانو بدمعاشانو

دَ دنيا دَ شان نه کله مرغوب نهٔ شي
تهٔ ملګرے شه دَ حق دَ طالبانو

خپل سوچ پرېږدي لهٔ عقل نهٔ کار اخله
مهٔ ځه تهٔ کله پهٔ ګفت دَ جاهلانو

تجربو نهٔ ته دَ نورو کار اخله
ناسته کړه څهٔ پهٔ صحبت دَ اوښيارانو

چې څوک ذکر فکر کړي هغه اوښيار دے
پهٔ تلاش يه همېشه خدائےدَ دوستانو

دَ خدائےدوست چې شي ملاؤ بيا ورسره يه
اے شبيّره پهٔ دې لار مهٔ ځه تنها نو

## دَ تيرو دَ لارو مسافر

خپل نظر مرکوز کړه لږ پهٔ ځائے دَ امتحان
سوچ لږ غوندې وکړه دَ غزل پهٔ دې عنوان

ځي چې پهٔ تيرو کښې وي اؤ ورک ترې منزلونه وي
چرته کښې به رسي چې پهٔ دې لار وي روان

څوک چې زهر غواړي اؤ پهٔ دې باندې مئين وي بس
کور کور ته رسئ دوی وي خوارهٔ پهٔ کل جهان

نهٔ غواړي رڼا چرته، سپوږمۍ سره پهٔ جنګ وي دوی
غواړي چې سپوږمۍ پهٔ پوکو مړه کړي پهٔ اسمان

عقل سره ډزې کړي ګلشن خرابوي خپله
بد لګي پهٔ دوی دَدې ګلشن څومره باغبان

ډډه کړي لهٔ حق ځنې باطل سره ملګري دي
لګي بد پهٔ دوی باندې دَ حق هر ګلستان

دادي پاګلان، بدبخته، خپله ځان وته کار ګوري
دوی پهٔ دې دنيا کښې دَ هر خېر دي دښمنان

ټولې خزانې دَ دې دنيا قبضه کول غواړي
دا بدبخته ټول دَ تباهۍ دي داعيان

دوی خپله قبضه کښې ټول اسباب دَ معيشت کړلو
غواړي چې هر ځائے کښې حکومت شي دَ شېطان

دوی دَ ماديت ، بې حيايۍ هر ځائے تبليغ کوي
غواړي چې قابو کړي پهٔ دې هر يو مسلمان

دوی دَ مسلمان پهٔ دولت نور مسلمانان وهي
نن صبا ساده شو څومره مونږ مسلمانان

دغه لوټ چې ويني نو عوام مسلمانان ژاړي
نه وهي غوږ دې باندې بالکل حکمرانان

لار چې دَ دوزخ ده دا بدبخته دي روان پهٔ دې
ده دنيا جنت ئې ، هلته وي به دوزخيان

ښهٔ پوه دي حسد اؤ دَ کينې دَ وجې داسې دي
دې کښې شايد دوی خوورو ستوپرېښے دے شېطان

مغضوب عليهم نهٔ ټيک کېږي پهٔ کوشش باندې
ځان خپل بچ کوه ترې ، راته مخکښې دے قران

انعمتَ عليهم پهٔ نظر کښې بس ساتل دي اوس
لاره ده بيا نېغه ، دے منزل بيا ټول اسان

دي څلور قسمونه دَ انعمتَ عليهم ګله
يودي انبياء دويم صديقين دريم شهيدان

هم صالحین دوی سره شامل په دغه لست کښې دي
دوی سره شامل کۀ ئې نو دغه به کمال وي ستا
ضآلین پوهول دي دے دا فرض منصبي زمونږ
کوم مسلمانان چې شي هغه زمونږه ورونه دي
نۀ مني کۀ حق دوی شي مغضوب علیهم سره
دا ده فیصله دَ وخت پکار ده چې شبیره بیا

ټولو کښې موجود زیات دي بس دوی پۀ دې زمان
ضآلین سره یو نۀ شې ګني کړې به ارمان
دي ښودل رښا دوی ته دلیل اؤ پۀ برهان
ځومره ښائسته ښکاري به دا دَ حق ګلان
دي بیا دښمنان چې دَ هغوی شولو دوستان
ومني پۀ ځان ټول چې کلهم دي مؤمنان

## یو فکر

څوک چې فسق ته عشق وائی لۀ مقام خپل اړتاویږي
بیا چې عشق څوک فسق ګڼي نو هغه څومره محرومیږي

حق دے دا چې حق پرېږده مه اؤ با طل ته نزدې ځه مه
اور نه بچ به شي کښېروي چې لۀ فسق نۀ بچ کیږي

فاني حسن ته مۀ ګوره دَ حسنِ ازل طالبه
ګټي هغه چې منل کړي اؤ پۀ حکم ئې چلیږي

وي به ویرې اؤ پۀ غم کښې چې لۀ ویرې ئې څوک ازاد دي
لۀ غم ویرې به ازاد وي ورنه نن چې څوک ویریږي

پردې سترګو باندې واچو پرده دار چې بې پردې شي
سترګې پټې دَ هغوی وي چې پۀ شر ئې نۀ پوهیږي

کاش چې پوه پۀ خپل نقصان شي اے شبیره احساس وکړي
ځان پۀ یاد د خدائے کړي بچ لۀ شر نه کوم چې وررسیږي

## پېسه

دَدې دور دے دَ دوستۍ عنوان پېسه
خلق دې کښې اطمینان ګڼي سوچ وکړه
عزت خرڅ کړي دَ پیسې دپاره هغه
لذتونه پېسه خاورو کښې ملاؤ کړي
هر طرف ته دَ پیسې تشهیر ښکاریږي

دَ هر چا دے دَ زړګي ارمان پېسه
درکوے خنګه شي اطمینان پېسه
دَ لذاتو چې ګڼي سامان پېسه
چې مقصود جوړ کړي څوک هم دَ ځان پېسه
کاش چې جوړ کړي ستا هغه جهان پېسه

یو نسخه دَ دیوانه هم لږ پهٔ غور کړئ
مهٔ ګنئ کله دَ زړهٔ درمان پېسه
اخرت کښې شي پکار کهٔ ئې مخکښې واستې
دے چې ځان سره ئې ساتې نقصان پېسه
پهٔ جائزه کهٔ دا نهٔ وي نو ئې پرېږده
ګني کړي به تا ډېر زيات پرېشان پېسه
پهٔ حلاله طريقو کهٔ شي ملاؤ دا
بیا دَ خېر شي جوړېدے سامان پېسه
زیاتوي خدائے صدقه اؤ غورزوي سود
وکړه غور چې څهٔ ګڼي قران پېسه
دَ انجام نه دَ قارون عبرت لږ واخله
جوړوے ستا نه هم شي شېطان پېسه
جنت درې ځله شبيره چې چا واخست
څهٔ ګڼي وکړه لږ غور عثمان پېسه

## یو سوچ

څهٔ بلا ده تصویرونه ، ځان پرې خلق مړهٔ کوي
دَدې داسې شوق دپاره ځان دوزخ ته اچوي
دا پهٔ کور کښې چې ساتي نو څهٔ نقصان دې سره کیږي
فرښتو نهٔ دَ رحمت کورونه خپل محروموي
کهٔ وي سپے کور کښې یا وي تصویر پهٔ کور کښې دَ جاندارنو
دا زنځیر دے دَ شېطان لوئے پهٔ دې خلق ځان تړي
دَ رحمت نه ځان محروم کړي رحمت خومره لوئے نعمت دے
کاش چې پوه وے پهٔ دې باندې ځان سره دوی څهٔ کوي
شېطانان البته دلته شي راجمع ښهٔ بې غمه
وسوسې زړونو کښې اچوي اؤ خلق جنګوي
تلاوت ذکر دې کور کښې کهٔ هم کیږي فائده نهٔ وي
بیا جذبه دَ حق پهٔ زړهٔ کښې پهٔ دې حال کښې نهٔ رځي
دَ رحمت لهٔ دنیا لر شي دَ شېطان پهٔ دنیا سر شي
پهٔ دې ګند ځان ښهٔ لت پت کړي اؤ دا ګند هر وخت څټي
دَ جادو دپاره دوی بیا دَ اسانې معمولان شي
دوی دې کور ته بیا دَ خپل مطلب فوجونه رالېږي
موسیقي کهٔ ورسره شي ، شي مزې دَ شېطانانو
بیا دې کور کښې شېطانان پهٔ مزه بنګړې اچوي
زړونه تنګ شي پهٔ دې کور کښې پهٔ جنګونو خلق سر شي
عجيبه غوندې شوقونو باندې ځان مشغولوي
کهٔ وي تې وي پهٔ دې کور کښې دَ غفلت یو طوفان راشي

دا لۀ کور تلاوتونه اؤ ذکرونه ختموي
غېر محرم ته خلق ګوري ګنهګار نۀ ګڼي ځان څوک
ګناهونه ځان دپاره پۀ دې نور هم سختوي
اندازه دَ نقصان وکړه چې کوم کور کښې داسې حال وي
شیطان ګاډے بیا دَدوی دَ نفس پۀ خپله چلوي
دے دَ نفس دَ خواهشاتو اور نور هم تېز کړي نو بیا دے
دَ ګناه پۀ مېدانونو دغه خلق لوبوي
دا آلې چې دجالي دي پرېښودل دي اے شبیّره
نیسه لاس دَ هغه کس چې څوک دې خدائےته رسوي

## تکبر

دَ لوئے والي معترف چې څوک دَ ځان وي
تکبر دے تل پۀ دې به پرېشان وي
تکبر ښائي دَ خدائے سره نادانه
تباه حال به داسې کس پۀ هر یو آن وي
تکبر کله راتلے ئې شي پۀ زړۀ کښې
چې زړګے کله مئین ئې پۀ جانان وي
دَجانان مخ کښې چې څوک هم ځان کړي خاورې
نو پۀ لار دَ معرفت هغه روان وي
چې زړګے دَ چا خالي وي دَدې عشق نه
تش کدو دے تړول کارونه به ئې وران وي
زمونږ دننه هر طرف ته ګندګي ده
چې کړي فخر څوک پۀ دې نو پاګلان وي
دَ بل څیز باندې شبیّره فخر څنګه
شي کېدے، چې څوک کوي نو جاهلان وي

## ځان پوه کړه

تۀ چې غواړې چې دَ چا وکړې غیبت
پۀ دې کار کښې کوې څومره حماقت
ورکوې خپلې نېکیانې تۀ دښمن ته
تنګوې ځان خپل پۀ ورځ دَ قیامت
ځان پۀ زور خرابوې تۀ هېڅ بې هېڅه
کۀ دروغ وئیل جوړ شوے ستا عادت
ته پۀ دې باندې عزت بچ کول غواړې
ځان پۀ دې باندې لائق کړې دَ لعنت
توبه وکړه تۀ لۀ ټولو ګناهونو
چې تا کړي وخت پۀ وخت اؤ کت پۀ کت
دا توبه عقلمندي دَدې دنیا ده
توبه وکړه چې ستا وشي مغفرت
ته پۀ ذکر لۀ خپل زړۀ نه خیري لر کړه
چې پۀ تا باندې واضح شي حقیقت
دَ دنیا کموالے تاته به ښکاره شي
توبه ګار به شې دَدې دَ محبت

هغه ژوند څومره دے لوئے، دا څومره کم دے　　نو کوم ځائے ته دے پکار بیا ډېر محنت
چرته دا دنیا فاني اؤ ارماني اؤ　　چرته هلته دَ هغې دنیا جنت
چې څۀ غواړي نو هغه فوراً حاصل شي　　مېلمستیا چې دې کوي رب العزت
اے شبیّره دې دنیا نه زړګے تور کړه　　شې چې دلته اؤ بیا هلته پۀ راحت

## صرف شکو نه کورونه نۀ جوړیږي

صرف شکو نۀ کورونه نۀ جوړیږي　　پۀ هوا لوړ محلونه نۀ جوړیږي
کړه اختیار اسباب چې دا دار الاسباب دے　　بې لۀ دې ګورې کارونه نۀ جوړیږي
چې مرضي دَ مسبب ورسره نۀ وي　　پۀ هېڅ شان بیا سببونه نۀ جوړیږي
نو سبب دعا کړه جمع بې لۀ دې نه　　ستا دَ غوښتې سامانونه نۀ جوړیږي
چې دَ ذکر دَ الله ځنې غافل وي　　اے شبیّره هغه زړونه نۀ جوړیږي

## بزرګي

غالب حال دے پۀ هر چا دَ بزرګۍ　　حال بیان کړه پۀ رښتیا دَ بزرګۍ
پۀ رښتیا کۀ بزرګي کړې شوک حاصله　　نور دے نور هره ادا دَ بزرګۍ
قلب اؤ ذهن به تباه دَ هغه کس شي　　کۀ شوک شولو پۀ هوا دَ بزرګۍ
ځان چې خاورې کړې مسکین شي اؤ فقیر شي　　حقیقت کښې دے بادشاه دَ بزرګۍ
بزرګي دَ بزرګۍ پۀ طلب نۀ ده　　عجیبه ده هیولیٰ دَ بزرګۍ
چې طلب ئے صادق نۀ وي　پۀ دې لار کښې　　زړۀ کښې خیال شي بیا پیدا دَ بزرګۍ
پۀ ظاهره ځان مسکین اؤ عاجز بولي　　وي پۀ زړۀ کښې ئې صدا دَ بزرګۍ
مرور شي دَ خپل پیر نه بیادَخدائے نه　　بزرګۍ کښې شي جدا دَ بزرګۍ
پۀ ساده مسلمانۍ دے خوشحال نۀ وي　　پۀ زړګي لري شوشا دَ بزرګۍ
ځان ساده لره　پۀ ژوند کښې اؤ طالب هم　　کله مۀ څه تۀ پۀ خوا دَ بزرګۍ
ځان وړوکے کړه چې لوئے شې اے شبیّره　　خیال دَر نۀ شي چرته بیا دَ بزرګۍ

## ورو ورو

خلق خپل مُتې کښې ګېر کړل شیطان ورو ورو　　خرابیږي ورځ پۀ ورځ دا جهان ورو ورو
دَ بدکارو خلقو زور هر ورځ زیاتیږي　　کړل پۀ شائي هر یو کار کښې نېکان ورو ورو

دَ نېکۍ کارونه ورو ورو مشکلیږي
دَبدۍ کارونه شولو اسان ورو ورو
عالمانو ته دَ جهل نسبت کیږي
عالمان بللے شي جاهلان ورو ورو
هر یو کور کښې اوس دَ ټي وي اواز خور شو
دې کورونو نه رخصت شو قرآن ورو ورو
موبائل او انټرنېټ ډېر طوفان جوړ کړو
وخت دَ ذکر شو رخصت پۀ هر آن ورو ورو
چې بدي ده څو قدمه کښې پرته ده
دَنېکۍ خلق کوي اوس ارمان ورو ورو
دَ نېکۍ قیمت اوچت شي دې حالت کښې
دَنېکۍ کول پکار دے سامان ورو ورو
چې کوشش څوک دَنېکۍ کړي خدائے ئې مل وي
اے شبیّره محنت وکړه پۀ ځان ورو ورو

## غیبت

کۀ کول غواړې دَ چا کله غیبت تۀ
سوچ کوه لږ چې کوې کوم حماقت تۀ
دښمنانو ته نېکیانې رسول دي
خواروې ځان هم پۀ ورځ دَ قیامت تۀ
دَ بندیانو دَ حقوقو معامله ده
لږ کړه پوه ځان څۀ پۀ دغه حقیقت تۀ
معافي دَدې پۀ صرف توبه نشته
چې بنده ته دَ معافۍ به کړې منت تۀ
که هغه دې کړي معاف بیا به معاف شي
پۀ دې باندې به کوې څومره محنت تۀ
دا ښۀ نۀ ده چې غیبت نه ځان تۀ بچ کړې
اے شبیره واخله دغه سهولت تۀ

## داستان دَ بې وسۍ

کاش زما پۀ شاعرۍ باندې څوک پوه شوے
زما داسې بې وسۍ باندې څوک پوه شوے
زۀ دَ روح پۀ اواز څنګه کړمه پوه ټول
چې پۀدې کښې دي خوبۍ باندې څوک پوه شوے
دَ زړۀ غوږ دَ زړۀ خبره اورېدے شي
دا چې ده پۀ دې کمۍ باندې څوک پوه شوے
نفس شیطان کله پرېږدي څوک اورېدو ته
نو ددو پۀ بدمعاشۍ باندې څوک پوه شوے
بس مدد به لۀ الله غواړو شبیّره
چې هغه چې څۀ خوښۍ باندې څوک پوه شوے

## تماشه

تماشه چرته جوړ نۀ شي تۀ دَ لارې تماشو کښې
چې تۀ ورسې خپل یار ته، خیال ساته دغه کوڅو کښې
لاره کومه چې هغۀ طرف ته تلې پۀ هغې څه
پۀ لار تېز ځه ښۀ پۀ هوش هره لمحه کښې یه پۀ تلو کښې
ته دَ لارو پۀ شناخت کښې کمے ونۀ کړې هېڅکله
هغه یاد ساته هر وختې چې څۀ دي اصلي نقشو کښې
رهبر ولټوه ښۀ ، دا ستا دَ لارې ضرورت دے

ګني ئې به بيا هر وختې پهٔ نقصان اؤ پهٔ خطرو کښې
کمے کله هغه نهٔ کوي پهٔ ورکړه کښې شبیّره
مطمَٔن شه پهٔ هغې چې ستا حصه ده پهٔ حصو کښې

## تکبر

يو دهوکه ده حماقت دے تکبر ناپوهي ده سفاهت دے تکبر
کهٔ دَ خدائےمينه نصيب کښې دَ چا نهٔ وي نو اظهار دَدې حالت دے تکبر
شېطان هم پهٔ دغه وجه ځان مردود کړو دَ بدۍ يو لوئے طاقت دے تکبر
دعوې څنګه دَ لوئے والي څوک کوے شي دا دَ نفس غټ رذالت دے تکبر
زمونږ دننه ګندګي اؤ ګندګي ده پهٔ دې ګند کښې ښهٔ لت پت دے تکبر
سرئې ټيټ دے چې لهٔ ځان ځنې خبر دي دَ ناپوهو بس حرکت دے تکبر
شبیّر غواړي عاجزي تانه اے ربه چې دشمن دَ عاقبت دے تکبر

## دَ کبر نفي

چې څوک لوئے ګڼي خپل ځان ځان به کړي خپل پرېشان
تکبر کله هضميږي ده دا لاره دَ تاوان
تکبر خدائے سره ښائي دے مالک دَ کل جهان
دا دَ خدائےعظيم څادر دے وا دې نهٔ خلي دا انسان
کهٔ چا واخست نو خدائے پاک رېز مرېز به ئې کړي هر آن
پهٔ لويَۍ باندې تباه شو اے شبیّره دا شېطان

## حب جاه دې نهٔ وي

زړهٔ کښې څهٔ خيال دَ حب جاه دې نه وي اؤ زړهٔ کښې هېڅ قسم دعویٰ دې نه وي
مينځ کښې دَ خوف اؤ دَ اميد دے ايمان خيال پهٔ هېڅ شان هم دَ انا دې نهٔ وي
ځان کم ګڼل ده اوښيارتيا حقيقي لوئ پهٔ زړهٔ کښې دَ هيچا دې نهٔ وي

اوچت ګڼل ځان دَ شېطان ده لاره پهٔ دغه لار قدم دَ چا دې نهٔ وي
عاجزي خوښه دَ الله ده ډېره ولې پهٔ زړهٔ کښې زمونږ دا دې نهٔ وي
کهٔ دَ ځان خبر غواړې څوک هم پوه دې شي دَ هغه زړهٔ کښې دا بلا دې نهٔ وي

شبیّره دا همېشه زړهٔ کښې ساته مینه چې زړهٔ کښې دَ دنیا دې نهٔ وي

## خود پسندي

ستا اعمال به ټول ضائع کړي چې دا ستا خود پسندي ده
لږ سوچ وکړه دې حالت کښې دَ زړهٔ ډېره ګندګي ده
کاش پهٔ زړهٔ دې دا ارمان وے چې هغه رانه خوشحال شي
مخکښینې سوچ کښې پستي ده پهٔ دویم کښې بلندي ده
ته کهٔ غوث ئې خپل نظر کښې دَدې څهٔ فائده ده تاته
دا فضول سوچ دې زر پرېږده چې هم دا عقلمندي ده
سوچ دَدې کړه چې نظر کښې دَ هغهٔ ښهٔ شې هر وخت تهٔ
دَ بل غېږ نه کول طمع یو فضوله پابندي ده
ګټه خپله ضائع نهٔ کړې پهٔ هېڅ حال کښې اے شبیّره
دَ ریا ځنې ځان بچ کړه دغه ښه هنر مندي ده

## غصه

لږ سوچ وکړه غصه ډېره حماقت دے ستا دَ نفس دَ جهل دا یو علامت دے
تهٔ دَ نورو دَ غلطیانو سزاوار شې نقصاني ستا دَ غصې دغه حرکت دے
پهٔ وخت سوچ نهٔ کړې بیا ورستو پرې پښیمان ئې دَ غصې انجام بېشکه ملامت دے
زړهٔ کړي نرم چې خبره ډوک کړي نرمه اؤ غصې سره تباه ډېره محنت دے
غصه خدائےدپاره ښه ده بده نهٔ ده چې دَ نفس دپاره وي نو جهالت دے
دَ دښمن ضرورت نهٔ لرې شبیّره کهٔ غصه کول بې ځایه ستا عادت دے

## احساس دَ کمترې

دا احساس دَ کمترۍ ډېر لوئې عذاب دے چې وي دا چا کښې حالت ئې ډېر خراب دے
خرابۍ ورته دَ بل چا ښې لیدے شي ترېنه پټ دَ بل پهٔ ګوته خپل افتاب دے
دښمنانو دي مرض کښې مبتلا کړو مخلوقاتو کښې لهٔ ټولو چې اعلیٰ دے
ځکه مونږ طرف ته پس ورته جواب دے دَ هغهٔ مخکښې دَ بل چا څهٔ حساب دے
مونږ هغه دغو ګنده خلقو دپاره پرېښودل کړو دغه څنګه انتخاب دے
دَ احساس کمترۍ غوږ ته شبیّره
ضرورت دے چې تا کړے ګوم خطاب دے

## حرص

مبتلا ځان تهٔ پهٔ حرص دَ دنیا نهٔ کړې
ګورې ځان پهٔ خپلو لاسو تباه نهٔ کړې

دا دَ ډېرو مرضونو مور یادیږي
تهٔ پهٔ دې کښې ګورې ځان مبتلا نهٔ کړې

ډېرې سختې بیمارۍ ګورې دَدې دي
احتیاط لهٔ دې چرې هم پهٔ شا نهٔ کړې

دومره لږ عمر اؤ لوئې لوئې امیدونه
ځان ساته پهٔ زمکه ، ځان پهٔ هوا نهٔ کړې

پته ده څهٔ چې مرګے کوم وختې راشي
بوج ډېر زیات بې ضرورته پهٔ ملا نهٔ کړې

آخرت ښهٔ دے ، باقي هم دے، ځان پوه کړه
آخرت نه ډېر طلب دَ دنیا نهٔ کړے

حرص ښهٔ دَ دین اؤ علم دے شبیّره
پهٔ بل حرص باندې ځان تهٔ خطا نهٔ کړې

## غضب

کهٔ دښمن باندې وي دا نو دا غضب عظیم طاقت دے
اؤ معیار دَ استعمال ئې مونږ سره دَ شریعت دے

غصه دومره پهٔ هغهٔ کړه چې قابو کښې څوک دَستا دے
دَ مالک دَ غصې څومره دَ برداشت چې ستاقوت دے

کهٔ مغضوب څوک دَالله وي نو دَستا دې هم مغضوب وي
دوی سره ونهٔ ساتې تهٔ چې دَ زړهٔ کوم محبت دے

چا غصې نهٔ تپوس وکړو چې تهٔ کوم ځائے کښې وسیږې
غصې ووئیل زما دَ وسېدو سر کښې صورت دے

سر کښې عقل وي جواب کښې ورته دا شو ووئېلي
پرېښودل ځائے ماته هغه وخت دَعقل بیا عادت دے

دَغصې علاج اصلي خودے سلوک چې مکمل شي
عارضي څو طریقې دي چې هغو کښې څهٔ بچت دے

کهٔ ولاړ ئې کښېنه اؤ کهٔ ئې ناست څمله دې حالت کښې
کهٔ بیا هم وي نو دَ څښلو دَ اوبو بیا ضرورت دے

کهٔ پهٔ چا دې وي غصه ستا اؤدرنه لوئې وي ترې جدا شه
کهٔ وړوکے وي ئې لرکړه لهٔ خپل ځان دَدې حاجت دے

نفس به نور هم پهٔ تا سور شي کهٔ منل دَده کول کړې
کهٔ دباؤ دې کړو دباؤ شي دا دَ دهٔ یو ښهٔ صفت دے

دَشیطان دغه وسله ده اے شبیّره ځان ترې بچ کړه
لهٔ الله ترې امان غواړه خطرناک دغه حالت دے

## دَ نفس دَ شر نه بچ کېدل

شر دَ نفس نه بچ کېدل دي
اؤ دَ حق پهٔ لاره تلل دي

اهل حق سره ځان تل کړه | پرېږده کوم چې پهٔ باطل دي
نفس پرېنږدې بې مهاره | دَدې ډېر زيات مسائل دي
کهٔ څوک دې نه شو بې غمه | وروستو ډېر زيات ژړېدل دي
دَ جاه باه اؤ مال دَ میني | دا زړګے خپل خلاصول دي
وروستو نهٔ شي اے شبیّره | پهٔ دې لار نور مخکښې تلل دي

## ريا

عبادت کښې چې مطلب دَ چا دنیا وي | مبتلا دا بې وقوف بیا پهٔ ریا وي
هر يو کار زما دَ خدائےسره ترلے | پهٔ بل چا نظر دې ولې بیا زما وي
چې اعمال څوک کړي پهٔ حکم دَ الله نو | خواهشمند دَ تعریف ولې لهٔ بل چا وي
قدردان دے دَ اعمالو چې پهٔ دې کښې | نیت دَ چا بس دَ هغهٔ چې دَ رضا وي
زړهٔ نه وباسه هر غېر چې زړهٔ دې پاک شي | شي نصیب اخلاص چې زړهٔ دَ چا صفا وي
ټول اعمال پهٔ دې ریا باندې شي ختم | دې کوڅې ته چې راځي هغه تباه وي
اے شبیّره هغه زړهٔ کښې ریا نهٔ وي | چې کوم زړهٔ پهٔ پاک الله باندې فدا وي

## دَ الله تعالیٰ دَ نظر نه غور زېدل

چې پهٔ زړهٔ کښې دې خیال راغلو چې زهٔ ښهٔ یم | وایه ځان ته کهٔ ښهٔ وم هم اوس ښهٔ نهٔ یم
ولې داچې څهٔ وخت ځان څوک وګڼي ښهٔ | لهٔ نظره دَ خدائےپرېوزي نو اوس څهٔ یم
څهٔ چې ښهٔ دي دَ الله پهٔ فضل شوي | ذمه دار دَ خرابیو خپلو زهٔ یم
دغه سوچ دَ حفاظت لاره ښودل کړي | زهٔ لیکونکے اوس دَ دغې قول پهٔ زړهٔ یم
ټول حالات دَ خبر الله راته جوړ کړي | زهٔ ئې ځان ته منسوب کومه جوړ اودهٔ یم
دا دَ نفس دي کارنامې ټولې شبیّره | ماته کار ګوري هر وختې تنګ لهٔ دهٔ یم

## ريا

مهٔ کړه عمل ته دَ بل چا دپاره | صرف عمل کوه الله دپاره

حال مستقبل ماضي دې خدائےسره دي / څۀ بيا جواز دے دَ ريا دپاره
ذکر اؤ فکر باندې زور واچوه / دَدې زړګي خپل دَ رڼا دپاره
دَ مخلوق خيال لۀ خپل زړګي وباسه / دا رکاوټ نۀ شي دَ ستا دپاره
هر عبادت بس خدائے دپاره کوه / نۀ دي وي دا ستا اؤ زما دپاره
الله شبيّره دې مونږ بچ کړي لۀ دې / لاس اوس اوچت کړۀ دَ دعا دپاره

## کينه

چې کينه زړۀ کښې لري نو زړۀ خراب دے / قبلېدو ته دَ دعا دا يو حجاب دے
ولې زړۀ تنګوې چاته ، زړۀ وسيع کړه / پۀ صفا زړۀ دَ خدائے فضل بې حساب دے
تۀ عاشق شه دَ الله ، پۀ دنيا څۀ کړې / دَ شېطان دَ وسوسو دا ښۀ جواب دے
کۀ غصه کوې نو خپل نفس باندې وکړه / چې کينه هم دَ غصې يو پيچ و تاب دے
کۀ دَ دين دپاره وي غصه نو ښه ده / کۀ دَ نفس دپاره وي نو پرې عذاب دے
آخرت باندې نظر ساته شبيّره / نور څۀ نۀ دي دا دنيا خو خيال و خواب دے

## عجب

خپل نظر کښې ځان اوچت ګڼل نقصان کړي / خومره ښۀ وي چې تعريف څوک دَ رحمٰن کړي
دا ستا ښۀ عمل به خاورو کښې ملاؤ شي / کۀ کتل دَدې دَ نفس دَ ستا چشمان کړي
کۀ دا ښۀ ولګي چاته نو ښه نۀ ده / خپل تعريف باندې به ښۀ کارونه وران کړي
خپل نظر کښې ښۀ کېدل ځان ګېرول دي / دَ هغۀ خوښه کښې ښه ده چې ورک ځان کړي
حقائق دَ معرفت چې راوريږي / دا شبيّر باندې پۀ فضل خپل احسان کړي

## رڼا دَ علم

ضروري ده ضروري رڼا دَ علم / کړه حاصله، دے مقام بالا دَ علم
ترې تيرې دَ جهالت به شي غائبې / کۀ رڼا کړله حاصله چا دَ علم
زمونږ خدائے به لۀ مونږ څنګه راضي کيږي / دې دپاره ونيسه لار دا دَ علم
معلم هم مبعوث شوے دَ خدائے دوست دے / لاره ئې پرېښې مونږ ته ده صفا دَ علم
تربيت کۀ دَدې علم سره مل شي
اے شبيره ګوره رنګ تۀ بيا دَ علم

## اخلي

لۀ قران ببدار زړۀ اخلي هدایت ورکوي الله ذاکر زړۀ ته حکمت
ګېرچاپېره خو پراتۀ وي ډېر ځیزونه چې زړۀ سم وي ترې نه اخلي سعادت
پروت وي څه کوړوالے هم چې زړۀ کښې چرته کوږ نظر څۀ جوړوي ورته حیلت
لا تزغ قلوبنا دعا چې وائی پۀ دې باندې نصیب کیږي حفاظت
تیاریږي کله نفس دَ کار دپاره خو عاقل ترې کار اخلي پۀ همت
پۀ دنیا کښې دا دستور خو ډېر واضح دے مختلف ګني بیا ولې آخرت
پۀ دنیا کښې دے قدري شي همت ناک وي آخرت ته کړي اختیار جبري صورت
اے شبیّره دَ هغۀ به څۀ نصیب وي چې دَ لارې لۀ دښمن اخلي سمت

## حسد مۀ کړه

چې دے مخکښې کوم لۀ تانه حسد مۀ کړه ورسره تۀ ونۀ تختې لۀ دې نه ده دَ ستا مجاهده
تۀ هم ملا وتړه مخکښې دَ محنت دنیا کښې لا رشه چې دې خدائے نصیب اوچت کړي پۀ هغۀ کړه بهروسه
دا دنیا دارالعمل دے پۀ عمل به ښائیسته کیږې پۀ دنیا ښۀ عمل وکړه هلته ستا ګټه ده دا
پۀ څۀ وجه پۀ احساسِ کمترۍ کښې مبتلا شوې تا ته هم خدائے دي درکړي لاس اؤ پښې ذهن اؤ خولۀ
کوشش وکړه چې دَ یار پۀ حکم وکړې ښۀ عمل تۀ هر تکلیف دپاره خدائے پاک راستولي ده دوا
ښۀ محنت کوه سستي ونۀ کړې کار کښې اے شبیّره دي قرآن کښې لیس للانسانِ الاّ ما سعیٰ

## برکت

هر څوک ئې مني خو پیمائش کښې دا راتلے نۀ شي
هر څۀ پرې آسان شي خو بیا هم ئې څوک لیدے نۀ شي
وخت ، مال ، پۀ اعمال کښې برکت دَ چا نصیب چې شي
ډېر وي خوش نصیب ورنه بیا څوک هم مخکښې تلے نۀ شي
دا دَ الله فضل دے ، هنر نۀ دے ، کمال نۀ دے
ورکړه دَ الله چې نۀ وي څوک ئې اخستے نۀ شي
څوک چې تقویٰ دار وي لاره جوړه کړي الله ورته
دا دے کرامت نو بې لۀ دې حاصلېدے نۀ شي
مۀ مره پۀ دنیا پسې شبیّره بې وفا ده دا
دا همېش پردۍ وي کله دا هم خپلېدے نۀ شي

## دَ قبر ژوند

پهٔ قبر کښې رڼا دَ پاک الله دَ معرفت وي
سورۃ دَ ملک دَ کوم چې هره شپهٔ کښې تلاوت وي
يا کنده دَ دوذخ وي پکښې مړے معذب وي
يا دا باغ دَ جنت وي پکښې هر يو سهولت وي
سوالونه دَ منکر نکير چې کيږي به زما نه
دَ بره نه زما دَ پرېښودو دې اجازت وي
چې کله دَ حضرت مبارک مخ پهٔ نظر راشي
هغوی نه هم پهٔ ما دې بيا نظر دَ محبت وي
قران اؤ نمونځ ملګري کړې زما قبر کښې خدايه
حاصل دې ماته هلته دَ روژې هم رفاقت وي
کړکۍ دې دَ جنت راته شي بيرته هغه ځائے کښې
پهٔ يخو هوا ګانو دې حاصل راته فرحت وي
پهٔ دې دارلعمل هغه اعمال راته نصيب کړې
قبول چې شي ، حاصل راته بيا هلته عافيت وي
ما بچ کړې دَ متيازو دَ قطرو دَ ناپاکۍ نه
پهٔ قبر کښې سزا اکثر لهٔ دې چې دَ غفلت وي
پهٔ قبر کښې يواځې دې شبيّر نهٔ وي اے خدايه
ستا دلته ، پهٔ جنت کښې، هم دې هلته معيت وي

## الهام رباني اؤ الهام شيطاني

يو چېنل پهٔ زړهٔ کښې دننه دَ الهامِ رباني دے
بل چېنل دَدې سره دَ وساوسِ شيطاني دے
دا دويم چېنل بنديږي دَ الله پهٔ ذکر باندې
ځان دې پيش کړي خپله شېخ ته چې دَدې ځوک ارماني دے
کله ښهٔ کله خراب وي کله شوق کله زړهٔ بند وي
پهٔ دې باندې حېران نهٔ شې دا مزاجِ انساني دے
عبادت کښې کهٔ پوهېږې چې دَ خدائے مخکښې ولاړ يم
ځان ښهٔ سم کړه پهٔ دې باندې، کيفيت دا احساني دے
شبيّر هېڅ نهٔ دے عاجز دے دے ناپوهه اؤ بېکاره
دا اشعار وئيل برکت خو دَ اشرف سليماني دے

## جنتي خلق

رب زمونږه پاک الله دے دي دا چا چې هم وئيلي
اؤ پهٔ دغه عهد باندې عمر ټول دي پاتې شوي
دَ مرګ مخکښې فرښتې به بشارت ورکوي دوی ته
شي هغو کښې به شامل چې دَ الله دي نازولي
مهٔ وېرېږه اؤ مهٔ غم کړه مونږه تاسره وو دلته

تهٔ زمونږ سره روان یې مونږه وو دَ ستا ملګري
دَ جنت زېرے قبول کړه وعده تاسره دَدې وه
هلته رنګ پهٔ رنګ مزې دي تول ځیزونه دي ډېر ښکلي
هلته ژو ند دَ زړهٔ دَ خوښې چې څه غواړې شي ملاؤ به
مبارک دَ ستا دا ژوند شه اوس کړه هېرې ورځې تلې
خدائے غفور رحیم پهٔ تادے مهربان لهٔ حد نه زیات نن
مېلمستیاچې دَ هغهٔ ده نو به څهٔ وي پاتې شوي
خدایه ته پهٔ فضل خپل اوس شبیّر هم دوی کښې شامل کړې
دَدې وخت نه څهٔ کار واخلم چې دَ تېز اس پهٔ شان زغلي

## تعلیم ، همت اؤ تربیت

صرف علم کافي نهٔ دے ورسره پکار همت دے
دَعمل پهٔ شان پهٔ دې باندې پکار استقامت دے
دَشېطان اؤ کهٔ دَنفس نه بچ کېدل پهٔ دې کښې غواړې
دَ تعلیم سره سره بیا ضرورت دَ تربیت دے
تربیت حاصلول دي دَ تقویٰ چې شي حاصله
دَایمان پهٔ موجودګۍ کښې خوتقویٰ بیا ولایت دے
پهٔ تقویٰ استقامت کهٔ پهٔ دنیا کښې چا حاصل کړو
بشارت به ورته ورکړے شي راځه ستا ځائے جنت دے
پهٔ عمل باندې جنت حاصلېدے نهٔ شي شبیّره
فضل وشي پهٔ دې باندې عموماً دا ئې عادت دے

## پهٔ څلورو ځیزونو جنت

یو سلام دي خورول بل روټۍ پهٔ چا خورول
دریم حق دَ رشته دار دي پهٔ ښهٔ شان پوره کول
څلورم دَ تهجدو نمونځ کول هم کهٔ نصیب شي
پهٔ دې باندې شي اسان جنت ته ځان داخلول
دَسلام عادت دې جوړ کړه هر مسلم وته سلام کړه
کهٔ ئې پېژنې کهٔ نه ورباندې دي مخکښې کېدل
دَ روټۍ خورول ښهٔ کار دے دعاګانې پهٔ دې واخله
دَ امت دا وږي تږي دي پهٔ خېټه مړول
پهٔ تا حق دَ رشته دار دے دَدهٔ حق پهٔ ځان پرېښږدې
دې باره کښې لهٔ الله نه دي هر وختې وېرېدل
تهجدو کښې لهٔ خدائے نه دعا غواړه اے شبیّره
شي نصیب مو دَ الله رضا یعنې کامیابېدل

## دَ الله تعالیٰ معرفت

غور پهٔ ذات کښې ئې ممکن نهٔ دے پوهېدل ئې پهٔ صفات وي
غور کول ئې پهٔ مخلوق وي ، غور کول پهٔ کائنات وي
هر طرف ته هغه ښکاري پهٔ پردو کښې دَ تخلیق خپل
غور کول لږ پهٔ خپل ځان هم وي زمونږ چې نفسیات وي
تحقیقونه خلق ډېر کړي نتیجو کښې کړي غلطیانې
ځان ظاهر کړي خالق بربېږدي څهٔ خراب داسې خیالات وي

فکر ښۀ ذکر سره وي دَ صانع اؤ بې دَدې نه
یو ذهني عیاشي جوړه شي ذهني تکلفات وي
ذکر فکر سره راشي معرفت دَ خدائے سبحان بیا
بیا پۀ دغه معرفت ئې پوه شي کوم چې تخلیقات وي
پۀ تخلیق کښې ئې باطل نشته دا دَ زړۀ اواز بیا راشي
نو پۀ دغه معرفت بیا شې ښکاره چې مو حاجات وي
یو حاجت لۀ اور خلاصے دے آخرت کښې چې ملاؤ شي
نو دَ اور نه دَ خلاصي دپاره ښۀ بیا مناجات وي
چې دَ چا فکر دَ ذکر نه ماخوذ وي معرفت دے
دغه بس اولو الباب دي لوړ دَ دوی ډېر مقامات وي
چې دَ فکر نه بغېر وي عیاشي ده بیا دَ ذهن
دي طالب دَ شهرتونو اؤ ضائع دَ دوی اوقات وي
دَ فاني دنیا دپاره لافاني فائده پرېږدي دوی
دَ دوی لاره کښې به وینې دَ شهرت چې کوم ظلمات وي
تۀ هغو کښې وې خو بیل شوې اے شبیّره وجه څۀ ده
دَ خدائے فضل دے بې شکه دَ بزرګانو برکات وي

## دَ دنیا فکر اؤ دَ اخرت فکر

دَ دنیا فکر لږ کم کړه
پرې غالب دَ آخر غم کړه
حال پۀ دې کښې استعمال کړه
مستقبل دې پرې محکم کړه
ډک پۀ مینه دَ خدائے باندې
دَ زړګي دا خپل حرم کړه
پۀ دې باندې ټول کارونه
چې کوې تۀ محترم کړه
دَ حضور پۀ طریقه بیا
دغه ټول کارونه سم کړه
خواهشات پۀ ریاضت دَ نفس
شبیّره کالعدم کړه

### یوه منصوبه بندي

جرأت څنګه دَ ګناه وکړم دَ شمار ولې ونۀ کړم پۀ دې زۀ استغفار

زۀ انسان یم ، خطا کار یم ، ګناه ګار یم
اصرار ولې پرې وکړم ، شم به نور خوار
زۀ بنده یم دَ هغۀ ، هغه مې رب دے
دے مئین پۀ مونږ ، زمونږه رب غفار
دَ هغۀ پۀ فضل باندې هر څۀ کیږي
ګني هېڅ نه کۀ کوشش کوو هزار
فضل یا الٰهی فضل ، دعا ګو یم
چې پۀ تا باندې هر څۀ کړمه نثار
ګمراه نۀ شمه خودرائے نۀ شمه خدایه
پۀ تا اؤ ستا پۀ محبوب مې وي اعتبار
دَ محبوب ستا سنتونه ټول زۀ خپل کړم
اؤ دَ مرګ پۀ وخت زۀ نۀ شم شرمسار
مرګ پۀ وخت مې کلمه پۀ خولۀ نصیب کړې
زۀ پۀ دې وخت دَ شېطان جوړ نۀ شمه ښکار
پۀ لیدو مې ووایې شبیرؔ زما دے
اؤ پۀ دې وکړم دَ شکر بیا اظهار

## معرفت الٰهی

دَ چا زړۀ چې نۀ وي خدائے پاک پېژندلے
لۀ دنیا نه هغه نۀ شي اوړېدلے
چې دَ خدائے سره مانوس دَ چا زړګے وي
دَ دنیا پۀ طرف نۀ شي هغه تللے
چې پۀ سترګو وي پټۍ دَ خواهشاتو
هغه کله هدایت شي بیا موندلے
پۀ قران کښې هدایت خو واضح پروت دے
چې زړۀ سم نۀ وي هغه نۀ شي لیدلے
چې پۀ مینه دَ خدائے پاک باندې ککړ شي
لۀ هر څۀ نه هدایت شي اخستلے
معرفت دَ زړۀ پۀ سترګو اخستے شي
اے شبیرؔه زړۀ پۀ ذکر کړه سپېځلے

## شرفِ انسانیت

چې اشرف پۀ مخلوقاتو کښې انسان دے
منتخب پۀ دې کښې هر یو مسلمان دے
کوم کلام چې لۀ محبوب څنې راغلے
ډېر دے خوږ اؤ نوم دَ دې کلام قران دے
دَ حاکم امر دے اؤ یاد دَ محبوب هم
دے پۀ مونږ کښې دے موجود دَ رب احسان دے
کوشش وکړه چې پۀ دې باندې ځان پوه کړې
دَ احکم الحاکمین چې دا فرمان دے
دَ محبوب لۀ لوري مونږ ته دے راغلے
سترګې ډکې مې لۀ اوښکو زړۀ حېران دے
تراؤ کښې چې پۀ مینه دغه اورم
برکت دَ خدائے پۀ فضل دَ رمضان دے
زړۀ شبیرؔه حواله دَدې کلام کړه
پۀ لوستلو چې ئې خوشحال دَ ستا جانان دے

## تواضع اؤ شکر

پرېوځه دَ هغهٔ پهٔ قدمونو تهٔ     خېژه پهٔ پوښکو دَ رفعتونو تهٔ
شکر دَ الله پهٔ نعمتونو کړه     بيا ګوره باران دَ نعمتونو تهٔ
دا درته درکړي چا دي سوچ وکړه     واچوه نظر پهٔ دې څيزونو تهٔ
داسې محنت وکړه کامياب چې شي     پرېږده بې مقصده محنتونه تهٔ
تاته خدائے درکړے څومره خوږ نبي     ځه ئې شه روان پهٔ سنتونو تهٔ
هسې دَ مزې نهٔ دي شبيّره دا     لږ پوهوه ځان پهٔ دې شعرونو تهٔ

## يوه نېغه خبره

ده صفا خبره دَ الله يو مونږ     مونږ کهٔ دَ هغه نهٔ يو دَ چا يو مونږ
مونږ کهٔ دَ هغهٔ شو هر څهٔ ټيک به شي     اؤ کهٔ دَ دنيا شو نو تباه يو مونږ
مونږه آخرت پهٔ دې ګټلے شو     کهٔ دَ خدائے دپاره پهٔ دنيا يو مونږ
هلته کښې خندا زمونږ نصيب به شي     کهٔ لهٔ خدائے دَ ويرې پهٔ ژړا يو مونږ
صبر اؤ دَ شکر ډېر اجرونه دي     ولې مايوسۍ سره لګيا يو مونږ
زړهٔ دا دَ هغهٔ دَ مينې ډک کهٔ وي     ډېر زيات خوش نصيب شبيّره بيا يو مونږ

## شکر

نعمتونه تهٔ پهٔ شکر زياتوه     پهٔ دې لاره کښې خپل ځان فنا کوه
چې لهٔ ذکر کوم حاصل روحانيت شي     پهٔ خپل ګاډي کښې دَدې تېل اچوه
اؤ بيا خوان نه دَ نعمت دَ الله پاک تهٔ     نعمتونه مختلف خوره اؤ خوروه
پهٔ هغهٔ نظر ساته هغهٔ ته ګوره     داسې ځان خپل دَ هر شر نه بچ کوه
بيا شبيّره دَ خدائے مينه کښې شعرونه     جذب دپاره پهٔ محفل کښې اوروه

## نمونځ

نمونځ دے څه؟ ځان پرېښودل خدائے اخستل دي     عاجزۍ سره ئې مخکښې ودرېدل دي
کنکشن ملاوَول دَ خدائے سره دي     اؤ خبرې رب سره پکښې کول دي
دي اعمال پکښې موجود دَ بندګۍ نو     دې سره دَ خدائے بنده ځان جوړول دي
دَ سجدې پهٔ ځائے نظر زمونږ پکار دے     پهٔ قيام کښې چې خشوع حاصلول دي
تصور کړه دَ مسجود مخکښې ولاړ يم     اودهٔ مهٔ يه شه پهٔ هوش ځان ويښول دي
کهٔ مشکل وي تصور کړه دَ کعبې بيا     تصور کښې کعبه مخکښې راوستل دي
کهٔ دا هم ګڼې مشکل نو پهٔ سوچ سوچ بيا     دَ کچه حافظ پهٔ شان الفاظ وئيل دي
پهٔ هر رکن کښې شامل دَ زړهٔ پهٔ نيت شه     چې اعمالو کښې خپل زړهٔ شاملول دي
خپل منشور دَ ژوند بيا وايه هر رکعت کښې     دَدې ښهٔ احساس پهٔ زړهٔ کښې کښېنول دي
ستا قيام پهٔ عاجزۍ دې مزين شي     عاجزۍ سره رکوع کښې ټيټېدل دي
بيا مقام دَ عبديت يعنې سجده کښې     دَ مالک مخکښې سر دې کښې کښېښودل دي

التحیات کښېږ تهٔ معراج بیا مستحضر کړه نمونځ کښېږ خدائے سره خپل ځان ملاوَول دي
دَ خدائے حکم دَ درود دَ استؤ دے پهٔ دې حکم باندې هم عمل کول دي
پهٔ دعا کښې لهٔ خپل رب غواړه چې غواړې ځومره تهٔ ، پهٔ عاجزۍ دغه غوښتل دي
کهٔ دا نمونځ شولو صحیح ستا اے شبیره ژوند بیا دغه شان پهٔ دې شان تېرول دي

## نمونځ

ځهٔ مقام دے دَ نمونځونو زمونږ خپلو طریقه ده دا لهٔ خدائے دَ اخستلو
کېفیت چې دَ احسان دې کښې نصیب شي ده پوړکې دَ مرتبو بره دَ تللو
لوئے مقام دَ عبدیت دې کښې نصیب شي دَ خدائے مخکښې پهٔ ښهٔ شان پهٔ ودرېدلو
دغه نمونځ چې دے معراج دَ مؤمنانو کوشش وکړه ښهٔ دَدې دَ زده کولو
کړه ظاهر پهٔ طریقه دَ محمد ﷺ ئې اؤ باطن ئې بس دَ خدائے پاک دَ کېدلو
تېره نهٔ شي درنه یو هم پهٔ غفلت کښې اې شبیّره خیال ساته دَ لمحو خپلو

## کړه

لهٔ قران نه تهٔ دَ میني درس حاصل کړه ځان محبوب سره پهٔ دې باندې واصل کړه
هر هر لفظ دَدې کلام ډک دے دَ نور نه پهٔ دې نور باندې معمور دا زړګے خپل کړه
ته پهٔ لار دَ میني زړهٔ سره روان شه تصور پهٔ دغه لار دَ خپل منزل کړه
رواني مشابهت دَ فرښتو ده دوه ګونه اجر حاصل دَ هر مشکل کړه
اړول لهٔ دې نه مخ دا محرومي ده پوه پهٔ دې تهٔ پهٔ ښهٔ شان خپل نفس جاهل کړه
دَدې دور جاري ساتل دي همېشه ښهٔ خپل زړګے دَدې پهٔ دور باندې مائل کړه
شي نصیب دې دَ قران خدمت زما تل اے شبیّره هره ورځ خوند ئې څکل کړه

## تعلیم اؤ جهالت

کوم تعلیم چې لهٔ الله غافلوي یقیناً بیا هغه زړهٔ بربادوي
جهالت بیا دَ هغې تعلیم نه ښهٔ دے دَ شېطان نه چې استاد پرې جوړوي

جهالت دَ خدائے کېدلو نه غفلت دے علم خلق دَ خپل خدائے نه خبروي
باطني علم دے علمِ معرفت بس چې پهٔ کوم باندې څوک ځان دَ خدائے کوي
انما یخش الله نه پس قران کښې من عباده العلماء راځي
نو دَدې نه سبق واخله تهٔ شبیّره دغه علم و جهالت څهٔ ته وائی

## نور اؤ ظلمت

نور چې راځي نو بیا ظلمت ختم شي علم چې راشي جهالت ختم شي

زړهٔ شي بیدار اؤ منور ،پهٔ دې کښې | کهٔ دَ دنیا وي محبت ختم شي
هر څهٔ دَ خدائے دَ پاره شي بیا خپله | کهٔ دَ دې نفس مذاحمت ختم شي
جوړ زړهٔ قران نه هدایت حاصل کړي | زور دَ دې نفس پهٔ ریاضت ختم شي
لاس دَ کامل شېخ کهٔ پهٔ سر شي نصیبؔ | نو بیا دَ ډېر څهٔ ضرورت ختم شي
بیا کړه عمل ئې پهٔ تلقین شبیرهؔ | چې نه وي ښهٔ ، هغه حالت ختم شي

## دَ کلامِ الٰهی اثر

دا کلامِ الٰهی لري اثر | نه دا شعر دے اؤ نهٔ دا عام نثر
کهٔ تهٔ غواړې وکړې رب سره خبرې | نو دَدې پهٔ تلاوت باندې شه سر
چې دَ خدائے فضیلت څومره پهٔ مخلوق دے | دے پهٔ نورو کلامونو هومره بر
کهٔ پهٔ زړهٔ کښې دې کلام دغه موجود وي | لرې نهٔ به شي لهٔ خدائے نه ستا نظر
کهٔ عمل پهٔ دې کلام درته نصیب شو | نه به ګرځې پهٔ دنیا بیا در پهٔ در
لهٔ ستا ګېر چاپېره وي تیرے کهٔ تاته | کړه حاصل لهٔ دهٔ نه زېرے دَ سحر
تراؤ کښې چې ئې اورې نو څه کېږي | کهٔ وي پته دا به اورې برابر
وظیفه ټیک ده دَ بعضو سورتونو | مګر دور دَدې جدا کوي اثر
تجلي دَ هر آیت جدا جدا ده | دَ هر یو اخله جدا جدا ثمر
اے شبیرّه ځان ته دا جوړه توښه کړه | آخرت کښې دا صورت دے معتبر

## خشوع

کهٔ تا وېوښتي وي نمونځ کښې خشوع څنګه | ورته ووایه چې وي چې وضو څنګه
وضو شرط دے دَ ظاهر دَ نمونځ ټیک کولو | اؤخشوع چې قلب وي دې کښې یکسو څنګه
کهٔتهٔغواړې چې پهٔنمونځ کښې دې یکسوشوم | کړه دا زده لږ تصور وي دَ هو څنګه
دَ زړهٔ خیرے دَ دنیا مینه ده پوه شه | چل دا زده کړه زړهٔ نه دا به کړې تُو څنګه
معطر کړه دَ الله مینه کښې زړهٔ خپل | اے شبیرّه ګل کښې وي چې خوشبو څنګه

## دَ قران تلاوت

تلاوت کهٔ دَ قران پهٔ غور کوم زهٔ | دَ خپل رب سره پرې ځان ملاووم زهٔ
چې مې مخکښې دا کلام دَ رب وي پروت نو | همکلام پهٔ تلاوت دَ هغهٔ یم زهٔ
دَ جنت اؤ دَ دوزخ مناظر دا ښایئ | شم پهٔ شوق اؤ کله بیا ویرېږم زهٔ

دَ قارون پهٔ قصه زړهٔ زما درزیږي دَ فرعون لهٔ قصې هم عبرت اخلم زهٔ
دَ دنیا پهٔ مینه ورونړه دښمنان شو لهٔ یوسف نه صبر بیا حاصلوم زهٔ
ښائي کله بیا دعویٰ دَ علم مونږ ته دَ موسیٰ حضر قصه چې ولولم زهٔ
دَ قران زړهٔ دے یٰسین راته ده پته دَ یٰسین رڼا پهٔ زړهٔ خپل اچوم زهٔ
دَ شپو ورځو دَ ګردش نظام عبرت دے لهٔ الشمس تزکیه ولې وانخلم زهٔ
ټول قران دَ نفس اصلاح زمونږ نه غواړي ټول قران دے تصوف دا ووایم زهٔ
عشق شبیّره پټ الفاظو کښې ئې پروت دے ډک معنو نه دَدې زړهٔ اؤ دماغ کړم زهٔ

## دَ ښځو تعلیم

تعلیم دَ ښځو ضروري دے مګر دَدې تعلیم دې وي پهٔ دوی ښهٔ اثر
تعلیم هغه چې ازادي راولي لهٔ شریعته ، هغه دے پر خطر
ښهٔ تربیت ورسره هم پکار دے ګني به ښځې کړي لهٔ حده بهر
دے فرض عین علم پکار هر چاته اؤ دَ عمل دې ورسره وي ثمر
دَ عالمیہ پهٔ خیال خرابې نهٔ شي نظام دَ خدائے دے هر صورت معتبر
دے احتیاط سره پکار شبیّره تهمت رانهٔ شي چرته کښې پهٔ څادر

## دَ قران کلام

دَ قران کلام ته ګوره سمندر دا دَ حیرت دے
دا کلام څومره روان دے دا کلام څومره اوچت دے
دا کلام دے دَ حاکم هم ،دا کلام هم دَ محبوب دے
لږ دَ زړهٔ نه تپوس وکړه چې دَدې کوم حېثیت دے
دا آیئِن دے، دا منشور دے ،دا دَ ژوند دَ ستا دستور دے
دا جدا کلام دَ رب دے، اؤ دَ زړونو هم راحت دے
پهٔ یو یو لفظ کښې ئې مینه، پهٔ هر لفظ باندې ئې قربان شم
دا پیغام لهٔ رب راغلے ، دا پیغام دَ محبت دے
دا زمونږدَ زړهٔ سکون دے ، دا شفا زمونږ دَ زړونو
اثر ډېرئې دے دَ پوهې، اجر ډېر دَ تلاوت دے
دَمؤمن دَ زړهٔ دا نور دے، دَ مؤمن دَ زړهٔ سرور دے
لرې کیږي پهٔ دې باندې، چې دَ زړهٔ کوم کثافت دے
کړه پهٔ ژبه تلاوت ئې، اؤ پهٔ سترګوئې دیدار کړه
دا پهٔ زړهٔ باندې اثر کړي ،چې دَ زړونو دا راحت دے
پهٔ دې باندې غور تهٔ وکړه، تدبر پکښې پیدا کړه

اے شبیّره بیا محسوس کړه چې پهٔ دې کښې کوم حکمت دے

## الهامات

موافق دَ شریعت چې الهامات وي
هغه تیک دي کهٔ اشعار کهٔ احکامات وي

مخالف دا دَ قران و سنت نه وي
دَ صاحبِ الهام هم چې تیک حالات وي

مقصود نهٔ دي، دي محمود کهٔ دا حاصل شي
کرامات کهٔ کېفیات کهٔ کشفیات وي

دَ عمل ښهٔ نتیجه دغه کېدے شي
انحصار نه چې پهٔ دې دَ مقامات وي

دے موجود هر خبر قران اؤ پهٔ سنت کښې
پهٔ دې باندې منحصر به هر نجات وي

اے شبیّره امان غاړه لهٔ کجیٔ نه
دې دپاره پکار هم به مناجات وي

## الهام رحماني

چې دَ چا زړهٔ دَ الله پهٔ لور مائل وي
اؤ شي لرې حجابات چې کوم حائل وي

احکامات بیا لهٔ خدائے خپله وصولیٔ دے
الهاماتو نه پهٔ دهٔ چې کوم نازل وي

تشریحات پهٔ خپل خپل وخت زړهٔ کښې راځي بیا
دے دَ علمِ لدني دې کښې قابل وي

مقبول شوے دَ الله در کښې چې دے وي
حمایت دَ اولیاء ورته حاصل وي

الله دهٔ ته کړي نصیب وسعت دَ علم
دَ حق والو دے بیا کله مقابل وي

دَ حق مرسته کړي هر حال کښې اے شبیّره
اهل حق ددهٔ پهٔ مرسته کښې شامل وي

## پهٔ روژه کښې

راورېږي رحمتونه پهٔ روژه کښې
خومره زیات دي اجرونه پهٔ روژه کښې

نفل نمونځ پهٔ فرضو باندې شي شمارلے
دي دَ رب عنایتونه پهٔ روژه کښې

حاصلېږي پهٔ اسانه دَ اصلاح اؤ
دَ تقویٰ ټول منزلونه پهٔ روژه کښې

دَ قران میاشت دَ فرقان میاشت شي بللے
وي ډېر زیات تلاوتونه پهٔ روژه کښې

اویا چنده اجر زیات دَ فرضو دې کښې
شي دَ خدائے دي رحمتونه پهٔ روژه کښې

چې افطار وکړي دَ چا څوک هغه واخلي
دَ روژې هومره اجرونه پهٔ روژه کښې

ستا لوستل اوري تهٔ اورې دَ هغهٔ گفت
دَ قران دي بهارونه پهٔ روژه کښې

ورکول کوي لهٔ مونږه هم څهٔ غواړي
جمع شي دا دوه کارونه پهٔ روژه کښې

دَ اخلاص ده نظاره سفر دَ عشق دے
دي دَ میني غورزنگونه پهٔ روژه کښې

پښې پهٔ نفس کړي اؤ دا زړهٔ دَ نور نه ډک کړي
تراوېح تلاوتونه پهٔ روژه کښې

یو خاص شپهٔ کښې اے شبیّره ملاوېږي
زرگاؤ چنده اجرونه پهٔ روژه کښې

## دَ غوښتې طریقه

چې دَ غوښتې وي موقع هغې کښې غواړه / پهٔ ژړا چې ملاویږي ورته ژاړه
دَ سوالګري نه دَ غوښتې چل تهٔ زده کړه / پهٔ توبه سپکه کړه خپله درنه غاړه
بې توبې لهٔ دنیا تلل ډېر خطرناک دي / شي پښیمان به چې لهٔ چا دا موقع لاړه
وران کارونه ټیک کول ورته اسان دي / ټیک کولے شي هغه هره پشاړه
دَ شېطان پهٔ تسلیو مطمئنه / شبیّر وائې دے به پرېږدي تا پهٔ شاړه

## دَ عشق منزل

یو منزل دَ عشق کهٔ حج دے بل منزل دَ عشق رمضان دے
ملاویږي خدائے پهٔ دواړو دا پهٔ مونږ دَ رب احسان دے

ورکول یو زړهٔ الله ته بل پهٔ نفس قابو ساتل دي
قرباني پهٔ یو کښې ښکاري اؤ پهٔ بل کښې چې قران دے

یو پهٔ عشق کښې ډوبیدل دي بل یو عشق دَ ډوبېدودے
هغه هم دَ رب احسان دے دغه هم دَ رب احسان دے

دي پهٔ یو کښې هېرول ځان اؤ پهٔ بل کښې صبرول ځان
یو کښې زړهٔ بېداروِل دي بل کښې نفس وته زندان دے

یو کښې وکړه چې څهٔ غواړي بل کښې واوره چې څهٔ وائي
یو کول هغهٔ دپاره ، بل دَ نهٔ کولو فرمان دے

دے مئین شبیّر پهٔ دواړو، دواړه لارې دَ جانان دي
پهٔ دې دواړو زهٔ روان یم ، اؤ منزل زما جانان دے

## شوقدر

سوچ لږ غوندې وکړئ دَ شوقدر برکتونو ته / بیا وګورئ دغه شپهٔ کښې لږ خپل حرکتونو ته
دې کښې فیصلې اهمې ټولې پاک الله کوي / بیا وګورئ خپله دَ خپل ژوند ضرورتونو ته
ځنګه اطمینان سره دي شپهٔ کښې مونږه خوب وکړو / ولې حاجت نشته بیا زمونږ مناجاتونو ته
کوم خلق چې پوه دي،دي مشغول پهٔ دعاګانو کښې / یا ئې ځان وزګار کړے دَ خشوع خضوع نمونځونو ته
ډکے دي لهٔ اوښکو سترګے غواړي پهٔ ژړا باندې / وګورئ دَدوی آه و زاری اؤ فریادونو ته
بل طرف اواز دَ بخششونو اؤ دَ ورکړې دے / دوی پهٔ انتظار کښې وو ټول کال دې ساعتونو ته
شپه کښې پهٔ نمونځونو دي دَ ورځې به روژه نیسي / خومره تسلي به ملاویږي دغه زړونو ته
کوم چې دي ناپوهه دَ هندوانو دوی پېښې کوي / کړي آتشبازي اؤ ورکړې زور دې کښې رسمونو ته
زړهٔ نه دا دعا کوم چې ما خپل دې دَ ځان ولیکي / سترګې دَ شبیّر لبواله دي دې رحمتونو ته

## لیلة القدر

شپهٔ دَ قدر پسرلے دے دَ اجرونو نظاره دَ پاک الله دَ نعمتونو
دَ دې شپې چې عبادت دے، زیات لهٔ زرو میاشتو ګرځي ، دَ خدائے پاک پهٔ حسابونو
جبرئیل دَ فرښتو سره راکوز شي د الله پهٔ حکم ګرځي پهٔ ملکونو
دعاګانې دوی کوي هغو دپاره چې مشغول وي پهٔ ښایسته ښکلي کارونو
دغه شپه وي آخري عشره کښې اؤ دا پهٔ طاق شپو کښې وي، نور کار دے دَ رازونو
وویشتمه کښې امکان دَدې ډیر زیات وي یقین نه، دے یو امکان لهٔ امکانونو
کهٔ چا رونه هره شپه دَدې عشرې کړه شي لائق به دَدې شپې دَ برکتونو
کړه حاصله دغه شپه هر کال شبیّره دغه کار دے ډیر اهم دَ کوششونو

## توبه

ته لهٔ ټولو ګناهونو توبه وکړه دغه شانې تهٔ دَ دوی خاتمه وکړه
مخکښې بچ کړه لهٔ فساقو دَ محفل ځان دغه شانې مخ بندے دَ ګناه وکړه
انتظام څهٔ دَ صالح صحبت به ښهٔ وي پهٔ دې باندې څهٔ دَ ځان ښبګړه وکړه
مستقبل کښې لهٔ ګناه نه بچ کېدو ته لهٔ کامل شیخ پهٔ اخلاص لاس نیوه وکړه
دَ خپل نفس علاج لازم دے پهٔ خپل ژوند کښې شبیّر وائې نور کوټې کهٔ نه دا وکړه

## پخه وعده

دَ توبې پهٔ قبلولو خوشحالیږي نورورمخکښې شي چې څوک ورنزدې کیږي
دَ شېطان سره وعده ئې ښه پخه ده کار دَ هغې مطابق هر وخت چلیږي
شېطان مونږ پسې محکم دے لګېدلے دے حمله کوي داؤنه ئی نهٔ ختمیږي
وسوسې وي مطابق دَ خواهشاتو دے زمونږ دَ خواهشاتو نه خبریږي
څوک چې پاک کړي دا خپل نفس لهٔ رذائلو پهٔ هغهٔ باندې بیا وس ئې نهٔ رسیږي
دا کسان پهٔ دې شبیّره شي دَ خدائے بیا دوی پهٔ جال کښې دَ شېطان بیا نهٔ ګېریږي

## اختر

روژه هم دَ خوشحالئ ده اؤ اختر هم خوشحالي الله مونږ ته خوشحالیانې دې بیا بیا داسې راکړي
خپل دیدار دې پهٔ جنت کښې پهٔ خپل فضل رانصیب کړي نالائق یو یقیناً مونږ ، امیدونه مو ترې دي
ټول اعمال چې مونږه کړي دَ هغهٔ پهٔ توفیق شوي دا اعمال دي قبول شوي دا دې راکړي خوشخبري
یو لذت دَ افطارئ راته نصیب وُ پهٔ روژه کښې بل فرحت به دَ روژې دَ ملاقات پهٔ وخت کښې وي
دَ روژې مقصد تقویٰ راته نصیب شي پهٔ روژه کښې چې ایمان سره تقویٰ یو ځائې شي، جوړ شي ترې ولي
دښمن ناست پهٔ انتظار دے چې هر څهٔ زمونږ کړي ختم دِک خپل غشے کړي لهٔ زهرو دَ ثواب شوده خراب کړي
دَ اختر پهٔ شپهٔ ظالم چې دے حمله سخته کوي دَ اختر ورځو کښې کله به ازاد مونږه پر بردي

پۀ صحبت دَ صالحينو پۀ دې ورځو کښې شبيّره دَ ټول کال دپاره دا تقویٰ به تاته شي کافي

## شهيد

چې پۀ لار کښې دَ الله وي شهيد شوے دے ژوندے هغۀ ته ونۀ وايې مړے
پۀ دۀ باندې ګمان هم دَ مړي مۀ کړه بامراد دے دے مراد ته رسېدلے
پۀ هر وخت دَ نوي ژوند خاوند جوړيږي چې کوم کس دَ عشق پۀ اور وي سوزېدلے
مهربان څومره پۀ هغه کس به خدائے وي چې کوم کس ئې وي پۀ مينه کړېدلے
پۀ خندا به ئې هلته خولۀ راغونده نۀ شي چې ئې دلته څوک وي غم کښې ژړېدلے
اے مومنه دَ شبيّر لاس ته وګوره ګل دَ يار دَ مينې لاس کښې ئې نيسلے

## دَ زړۀ خوشحالي

اختر نوم دَ خوشحالۍ دے خدائے چې هېر نۀ کړې پۀ دې کښې
دا موقع دَ امتحان ده ګورې فېل نۀ شې پۀ دې کښې
خوشحالي دَ نفس لږ وخت وي بيا دَ زړۀ دنيا وي ورانه
دا پۀ ذکر حاصلېږي کۀ برے وړې پۀ دې کښې
اطينان دَ قلب حاصل کړه ټول اعضاء به مطمئن شي
تۀ دَ زړۀ خوشحالي واخله چې ده ذکر کښې پۀ دې کښې
زړۀ بادشاه دے چې خوشحال وي نو دا ټول اعضاء خوشحال وي
چې دا ستا بادشاه خوشحال وي نو بيا دې مزې پۀ دې کښې
روح دَ رب يو حکمِ خاص دے وي خوشحال دَ خدائے پۀ ذکر
کۀ لۀ ذکر نۀ غافل شوې نو بيا تنګ به ئې پۀ دې کښې
شبيّر وائې غافل مۀ يه خدائے دَ ذکر نه مؤمنه
رسېدل کۀ خدائے ته غواړې دَدې دي لارې پۀ دې کښې

## وکړه

تۀ پۀ نور دَ تقویٰ باندې دَ نعمت شناخت وکړه
دَ هغۀ پۀ حکم باندې استعمال دَ نعمت وکړه
دَ تقویٰ نور چې رمضان کښې تاحاصل پۀ خپل محنت کړو
نو دَ دې بقا دپاره څۀ لږ نور هم محنت وکړه
هسې نه چې پۀ دې ورځ صرف دَ جسم تابعدار شې

روح هېر نهٔ کړې انتظام لږ دَ خپل زړهٔ دَ راحت وکړه
دَ ناجنسه لهٔ صحبت نه دَ اختر پهٔ شپه ځان بچ کړه
شپه ده ډېره مبارکه ، ورکښې ښهٔ عبادت وکړه
دَغه شپه کښې مزدوري چې ملاویږي دَ روژې نو
اخستلو ته دَ دې ، دې شپه کښې لږ ډېر حرکت وکړه
دا اختر دَ روحاني خوشحالۍ ښکلې ذریعه ده
پهٔ جائزو عملونو تهٔ تحصیل دَ لذت وکړه
داخپل نفس ګورې پرېښږدې خواهشاتو کښې ازاد تهٔ
کهٔ دے غواړې نو قابو بیا زر پهٔ داسې حالت وکړه
کپړې ښکلې اچول اؤ ښهٔ خوراک دې مبارک شهٔ
دَ ګناه نه البته تهٔ څهٔ تابیا دَ بچت وکړه
وي پهٔ خولهٔ باندې تکبیر دې زړهٔ دې ډک وي ستا لهٔ شکر
دې دپاره ته عمل لږ اوس پهٔ دې نصیحت وکړه
دَ خپلوانو پهٔ تا حق دے ، دَ هغوی سره ملاؤ شه
لږ کوشش تهٔ ،چې کینه شي ستا دَ زړهٔ نه رخصت، وکړه
پهٔ دې ورځ باندې خپل مړي چې مړه شوي هم هېر نهٔ کړې
کهٔ ممکن وي نو بېشکه ئې دَ قبرونو زیارت وکړه
مګر دا چې قبرستان ته تلل دَ ښځو جائز نهٔ دي
ښځې پرېښږدې ازادې پهٔ دې کار کښې جرأت وکړه
اؤ پهٔ خپلو خوشحالو کښې یاد ساته غریبانان هم
صدقې دَ فطرانې سره دَ دوی هم خدمت وکړه
ماشومانو ته عیدي کهٔ ورکوې بدله مهٔ غواړه
دا خو سود دے دَدې سود نه لږ دَ ځان حفاظت وکړه
کهٔ تهٔ غواړې روحاني خوشحالي دې کښې کړې حاصله
دا اشعار چې دَ شبیّر دي دَ دې ښهٔ سماعت وکړه

## شهوات اؤ تقویٰ

دَ دنیا دَ خواهشاتو دَ خشاک پهٔ شان مثال دے
دَ تقویٰ حمام پهٔ دغو باندې ګرم دے کمال دے
ړوند کهٔ وائې بد نظري نه کوم زهٔ نو کمال نهٔ دے
دَ شهواتو مینځ کښې ځان چې څوک پاک وساتي ښهٔ حال دے
چې شهوات پهٔ چا غالب شي دَ شیطان پهٔ لار روان شي

دَ شېطان سره شېطان نۀ شي دَدې هم  احتمال دے
دَ غفلت نۀ کۀ پۀ ذکر باندې بچ کړي ځان اؤ نفس هم
کړي قابو  نو عقلمند دے خوش نصيب بلند اقبال دے
تقویٰ داده چې شهواتو باندې پښه کېږدې شبيّره
دا پوښکئ دَ ولایت ده لږ سوچ وکړه څۀ دې خيال دے

## دَ رومي بې خودي

پکار مونږ ته دے خادر دَ بې نفسئ    دا مطلب دے دَ رومي دَ بې خودئ
دَدې لفظ اؤ پۀ معنیٰ کښې فرق نشته    دَغه لفظ دا کېفيت شۀ بيانئ
دَ اقبال خودي اثر دے هم دَ دغې    پۀ معنیٰ نا مکمل دے چې ئې لولئ
بې خودئ نۀ دَ فنا معنیٰ راوځي    پۀ خودئ کۀ دَ بقا معنیٰ تړئ
بې خودئ باندې کوشش کۀ وکړو چا نو    خپل ځان کړي به دے دريافت کۀ پوهېدئ
اے شبيّره رومي ټيک دے اقبال ټيک دے    فرق دے دَ شاګردئ اؤ استادئ

## دَ شوال روژې

روژې نورې شپږ نيول دي   پۀ شوال کښې    دَ فائدو چې خيال ساتل دي پۀ هر حال کښې
شوې لس مياشتې دَرمضان روژې حساب کښې    دَ دوه مياشتو کمے راغللو   پۀ کال کښې
شپږ روژې شوې دَ دوو مياشتو برابرې    خو دې نفل فرض دا مۀ لره خيال کښې
فرض نۀ شي زياتېدے متعين دي    لاس دَ نفلو څکه زيات دے  پۀ کمال کښې
پرېښودل فرض اؤ نفل باندې زورر خو    البته دے حماقت پۀ قيل و قال کښې
پۀ نيسلو دَدې شپږ روژو پوره شي    پوره کال روژې ساتل پۀ هر يو کال کښې
بهانې دا تل دَ ورکړې دَ الله دي    اے شبيّره کوشش وکړه  پۀ هر حال کښې

## علم اؤ عمل

يو دے علم بل عمل دے    اؤ دنيا دَدې محل دے
علم لار دَ کاميابئ ده    کۀ عمل پرې مکمل دے
پۀ عمل چې نۀ راځي ته    تا جوړ کړے جوړې چل دے
پۀ دنيا کښې چې خوک چست وي    دَ دين کار کښې ولې غل دے
دَ توبې اوبۀ پرې واچو    دَ ګناه اور کۀ دې بل دے
اے شبيّره پۀ نيکئ شه
نو بيا خدائے ستا هر ځائے مل دے

## دنیا څه شے دے؟

دا دنیا دار العمل دے ځان خبر کړه وخت و مال ، علم ، خپل ځان هغۀ ته ورکړه
استعمال دَ دغو ټولو ښۀ تۀ زده کړه دَخپل نفس دَ استعمال نه ئي بهر کړه
وخت تېرېږي دا هېڅچا ته نۀ ودرېږي کار ترې واخله خپله شپه پۀ دې سحر کړه
مال طاقت دے دَ خرید و فروخت ولې تاج دَ دې دَ استعمال دَ ښۀ پۀ سر کړه
ځان کړه ستړے پۀ ښۀ کار کښې دې دنیا کښې آخرت دپاره هر څۀ برابر کړه
علم هم عظیم نعمت دے اے شبّیره دَ شېطان زړۀ پۀ دې باندې ښۀ کسکر کړه

## دَ ذي الحجې روژې

وړومبنۍ اتۀ روژې دَ ذي الحجې ورسره بله روژه دَ عرفې
دَ وړومبو اتو دَ هر یو دا ثواب دے لکه ونیسي پوره کال څوک روژې
مخکښې وروستو دَ یو یو کال دَ ګناه شي عرفې روژه پۀ شان دَ کفارې
ټیک ده فرض اؤ واجب دا روژې نۀ دي ثوابونه دومره څنګه تۀ پرېږدې
دَ هغۀ دَ ورکړې کرم چې بازار شي ولې دې نه بیا جولۍ نۀ ډکوې
اوس موقعه ده دَ عمل شبّیره واخله ګني لاس به ورپسې بیا تۀ مروړې

## دَ عاشورې روژه

مدینه کښې چې دا ولیدل نبي یهودیان دَ عاشورې روژه نیسي
نو تپوس لۀ یهودیانو نبي وکړو تاسو نیسئ دا روژه نو دا څۀ دي
شو ګویا چې ملاؤ شوي پۀ دې ورځ ده موسیٰ اؤ دَ هغۀ قوم ته ازادي
نو نبي وفرمائېل موسیٰ زمونږ دے مونږ ته هم پرې شوه حاصله خوشحالي
مونږه نیسو به روژه دَ عاشورې اوس نو تپوس وکړو پۀ دې یو صحابي
هسې نه مشابهت دغه عمل شي دَ یهودو پۀ شان دا عمل نۀ شي
دې موقعه باندې ارشاد داسې وارد شو پۀ جواب کښې پۀ حضرت دَ سوالي
یو روژه به ترې نه مخکښې اؤ یا وروستو نیسو مونږ چې دَ هغوی پۀ شان نۀ وي
پته دا ولګېدله چې حکمت دے ورک نعمت مؤمن به څنګه دا پرېږدي
مشابه دَ اغیار نۀ شي خپل عمل هم ساتل زړۀ کښې دغه خیال دي لازمي
دَ اصحابو دَ احسان دَ بوج نه لاندې سر زمونږ دے پۀ هر کار اؤ پۀ هر شي
نو سنت شوله روژه دَ عاشورې بیا ورسره وي بله هم یو اضافي
دَ نبي دَ در هر خیز شبّیره واخله تقاضا ده ایماني اؤ هم عشقي

## دوست دښمن

دَ الله چې څوک خبره نهٔ مني — نه پوهېږي چې دے خپل نقصان کوي
دے دَ دوست دَ دوستۍ څنګه خبردار شي — چې پهٔ لاس کښې ئې دښمن خپل لوبوی
دوست به تا وژړوي ستا پهٔ فائده کښې — دښمنۍ کښې به دښمن تا خندوی
دوست به ستا فائدے بیا بیا یادوی تاته — اؤ دښمن به دا دَ ستانه هېروي
دوست به ستا نه ستا دپاره مرور شي — اؤ دښمن به دې لهٔ دهٔ لرې کوي
دوست دښمن پېژندل دلته فقاهت دے — اے شبّیره اوښیار دا حاصلوي

## نفس اؤ شېطان

نفس زما دے ډېر نادان — اؤ دښمن مې دے شېطان
دهوکه باز دے دروغژن — نفس ملګرے ئې دے هر آن
نفس جاهل دے نهٔ پوهیږي — پهٔ فائده اؤ پهٔ نقصان
اؤ شېطان ډېر زیات ذهین دے — لوئے دښمن دے دَ انسان
شېطان کار دَ نفس نه اخلي — ورښائی کارونه وران
اؤ انسان پهٔ دې شبّیره — نهٔ پوهیږي پهٔ خپل ځان

## صفر المظفر

ټولې میاشتې پاکې دي لهٔ نحوست نه — شېطان چرته تاسو کړې دې کښې غلط نه
ټولې میاشتې سمې میاشتې دي پهٔ دې کښې — پهٔ صفره کښې هم شته څهٔ بدِیت نه
چې څوک دا ګڼي منحوسه نو منحوس دے — کهٔ دهٔ کړلو څهٔ بدل دا خپل حالت نه
بلاګانې چې پهٔ دې کښې څوک ګڼي نو — دے روان دے هېڅکله پهٔ شریعت نه
دَ هر څیز تقدیر الله پاک دے جوړ کړے — منحصر دے دا دَ ستورو پهٔ حرکت نه
کهٔ وے داسې وو به داسې چې څوک وائی — نهٔ دے خلاص دَ شېطاني ګند اؤ حیلت نه
وئیل دادي چې بس دا وه مقدره — ازاد نهٔ دي څوک دَ خدائے دَدې قدرت نه
تا شبّیره دَدروغو پټې وران کړل — اوس دَ دو دَ بیان شته دے څه حاجت نه

## پېسه یو امانت

چې پېسه دې ده پهٔ جېب کښې کړه سمباله امانت دے
کهٔ پهٔ ځان باندې دې خرچ کړه پهٔ دنیا کښې ستا راحت دے
کهٔ دې مخکښې واستوله لهٔ دې ښهٔ کار نشته بل چې
هلته کښې به دې پکار شي چې دَ ټولو ضرورت دے
پهٔ ګناه کښې سکون نشته خرچ دا نهٔ کړې پهٔ ګناه کښې

دَ نقصان دپاره ولې خرچ کوې دا حماقت دے
کۀ جنت پرې ګټل غواړې دَ عثمان نه دا تۀ زده کړه
چې ګټلے پرې هغۀ بېشکه درې ځله جنت دے
دَ ښۀ کار دپاره دا کۀ پۀ دنیا کښې استعمال شي
نو بېشکه پۀ ښه لاره تلو دپاره یو طاقت دے
کۀ بې ځایه استعمال شي نو تبذیر دے اے شبّیره
یا اسراف پرې چې څوک وکړي پۀ دنیا کښې جهالت دے

## تبذیر

ملاؤ شوے کۀ دے مال چاته لۀ خدایه
خرچ دې نه کړي دغه مال چرته بې ځایه
ګني شي به دَ شېطان وروڼه پۀ دې نو
دا تبذیر دے مۀ مشغول پۀ دې ګناه یه
دَ اسراف نه ځان ساته دَ خدائے خوښ نۀ دے
مال طاقت دے ، ښۀ دَدې استعمال ښایه
مال نه جوړ نۀ کړې دَ مال پمپ دغه سود دے
سود دَ خدائے سره اعلان دَ جنګ دے وایه
سود خوا وردے اخرت کښې ځان ترې بچ کړه
محفلونو کښې دَدې فائدې مۀ ستایه
پۀ کوم څیز کښې دَ الله چې ناراضګي وي
اے شبّیره ځان ساته ترې تۀ لۀ ورایه

## دَ ګل ورځ

دَ حضرت دَ ولادت ورځ ده دَ ګل
ورپسې بیا دَ رحلت ورځ ده دَ ګل
مدینې ته هم پۀ ګل دي رسېدلي
دَ شروع ئې دَ هجرت ورځ ده دَ ګل
پۀ ربیع الاول کښې دي دا ټول شوي
مونږ دپاره لوئے نعمت ورځ ده دَ ګل
دَ صدیق خوښ هم دَ ګل پۀ ورځ رحلت ؤ
دَ تکوین دَ مرګ سنت ورځ ده دَ ګل
دَ ګل نوم دَدې دپاره مقرر شو
دَ بېشانه سعادت ورځ ده دَ ګل
دَ ګل ورځ دَ شبّیر هم خوښه ده ډېره
ګل سره دَ محبت ورځ ده دَ ګل

## ربیع الاول

دَ ولادت ده میاشت ربیع الاول
دَ سعادت ده میاشت ربیع الاول
پۀ دغه میاشت کښې هجرت هم شوے دے
دَ بشارت ده میاشت ربیع الاول
اهم کارونه دَ حضرت دې کښې وو
دَ محبت ده میاشت ربیع الاول
منتخب کړې خدائے دا میاشت دَ مېنې
خدائے دې راغوښتې دَ خپل ځان دپاره
چې دَ دعوت ده میاشت ربیع الاول
دا دَ رحلت ده میاشت ربیع الاول

دي کښې بدعت به فروغ څنګه مومي ‌ ‌ ‌ چې دَ سنت ده میاشت ربیع الاول
بس دَ سنت نه مونږ اعراض ونهٔ کړو ‌ ‌ ‌ دَدې دعوت ده میاشت ربیع الاول
پهٔ صحابه پسې روان مونږه شو ‌ ‌ ‌ دَ نصیحت ده میاشت ربیع الاول
بدعت نه کرکه وکړو اے شبّیره ‌ ‌ ‌ دَدې نفرت ده میاشت ربیع الاول

## ذکر اؤ صحبت دَ صالحینو

کړه پهٔ ذکر باندې زړهٔ دې خپل بیدار ‌ ‌ ‌ هم صحبت دَ صالحینو کړه اختیار
نو دَ دوی اعمال به خپله ستا نصیب شي ‌ ‌ ‌ فضل تا باندې به وکړي کردګار
صادقینو سره مل شه دا اعلان دے ‌ ‌ ‌ دَ قران ، کړه دا اعلان دَ غاړې هار
ناست محفل دَ ذکر کښې هسې چې هم وي ‌ ‌ ‌ پهٔ هغه هم فضل وشي دَ غفار
سلسله کښې کهٔ دَ ذکر ځان شامل کړې ‌ ‌ ‌ کړې محسوس به بیا دَ ذکر ډېر انوار
قلعه ګانې نن صبا دَ حفاظت دي ‌ ‌ ‌ اے شبّیره لهٔ فتنو ، وکړه اعتبار

## خپل ځان ته خطاب

جوړ لهٔ رب شه همېشه دعا کونکے ‌ ‌ ‌ چې دے صرف بس هغه عطا کونکے
مایوس نهٔ شي دعا وندروې کله ‌ ‌ ‌ ګني شې به پهٔ دې کښې خطا کونکے
ده ممکنه چې حالت دا ستا ئې خوښ وي ‌ ‌ ‌ خوښوي غوښتو کښې التجا کونکے
خزانو کښې دَ هغهٔ څهٔ کمے نشته ‌ ‌ ‌ دَ باطل نه دے دَ حق جدا کونکے
ګوري دا چې حقیقي طلب دے چا کښې ‌ ‌ ‌ څوک دے حق دَ بندګۍ ادا کونکے
دا دنیا دے صرف ځائے دَ امتحان یو ‌ ‌ ‌ جوړ شه تهٔ پهٔ خدائے هر څیز فدا کونکے
دَدې ځائے تکلیف دَ هغه ځائے راحت شي ‌ ‌ ‌ څهٔ بې وجې نهٔ دے مبتلا کونکے
شي چې هلته ښکاره اجر دَ تکلیف به ‌ ‌ ‌ نو محروم به لهٔ دې وي ژړا کونکے
پهٔ قبنچۍ کاش پرې کړے شوے وے څرمن مې ‌ ‌ ‌ خو دا اجر ماته هم وے راکونکے
دا دَ ژوند چې ورځې څو دي اے شبّیره ‌ ‌ ‌ ولے جوړ نهٔ شم دې کښې وفا کونکے

## دعا

هوښیارتیا ده چې هر وخت غواړو دعا مونږ ‌ ‌ ‌ عبادت صرف کوو دَ پاک الله مونږ
چې ایاک نستعین وایو پهٔ نمونځ کښې ‌ ‌ ‌ مدد ځکه خو نهٔ غواړو لهٔ بل چا مونږ
دَ انعمتَ علیهم سره مو مل کړي ‌ ‌ ‌ دَ ضالین پهٔ لارې مونږ چرې تېر نهٔ شو
دَ مغضوب علیهم نه کړې جدا مونږ ‌ ‌ ‌ لهٔ هر قسمه ګمراهۍ بچ شو صفا مونږ
لهٔ قران نه هدایت مونږه حاصل کړو ‌ ‌ ‌ مزین شو پهٔ اعمالو دَ تقوىٰ مونږ

اے شبّیره دَ دعا ذوق کۀ پېدا شو    لۀ الله به غافل نۀ شو چرته بیا مونږ

## دعا

هر یو کس ته دَ دعا دے ضرورت    پۀ دې وجه دَ هر چا دے ضرورت
هر یو کار چې دَ هغۀ پۀ حکم کیږي    دَدې حکم دَ الله دے ضرورت
دعا کولو والا کله مایوس نۀ شي    هر وخت دې کښې دَ صدا دے ضرورت
کۀ وغواړي نو هغه هم درکوے شي    چې کوم غواړې اؤ دَ ستا دے ضرورت
یا څۀ بل څۀ مصیبت پرې درنه لر کړي    چې دا هم دَ مبتلا دے ضرورت
یا قیامت کښې درته اجر ذخیره کړي    هلته اجر ستا زما دے ضرورت
اے شبّیره پۀ دعا چې راضي کیږي    مونږ ته ئې څومره دَ رضا دے ضرورت

## دعا اؤ عاجزي

دعا غواړه پۀ دعا کښې عاجزي ده    عاجزۍ کښې خدائے کښېښودي کامیابي ده
پۀ دعا تۀ سترے نۀ شې ته بنده ئې    غواړه غواړه چې هم دغه بندګي ده
بندګۍ کښې شرم نشته سعادت دے    دَ خپل ځان سره خو دغه خیر خواهي دے
پۀ دعا کښې توجه دَ خدائے پېدا کړه    بادشاهي ده بادشاهي ده بادشاهي ده
پۀ دعا کښې زړۀ غافل دې چرې نۀ وي    محرومي ده محرومي ده محرومي ده
محرومۍ نه ځان ساته شبّیره واخله    دَ دعا لاره چې دا لاره اصلي ده

## مۀ سترے کېږه

دعا غواړه پۀ دعا مۀ سترے کېږه    پۀ سجده کښې دَ الله مخکښې غورزېږه
تندے کېږده ته پۀ در ئې ترېنه غواړه    دا پوړۍ دَ رفعتونو دي پرې خېژه
پۀ دعا پۀ ژړاګانو ملاویږي    هر یو څیز ، دَ الله مخکښې تۀ ژړېږه
دَ دعا دَ ذکر لاره سیده لاره    پۀ دعا پۀ ذکر باندې مۀ مړېږه
دا دعا ذکر پۀ نمونځ نور طاقتور کړي    تهجد کښې دَ الله مخکښې ودرېږه
ذریعې دَ مددونو دي شبّیره    کړه حاصلې دا ، پرې هسې مۀ تېرېږه

## راکړې

خپله ربه دَ محبوب خپل محبت تهٔ ماته را کړې ‌ ‌ پهٔ سنت باندې روان شم دا همت تهٔ ماته را کړې
دَ ويښتهٔ هومره لهٔ لارې دَ هغهٔ بې لارې نهٔ شم ‌ ‌ زما ذوق دَهغهٔ ذوق شي دا طبعيت تهٔ ماته را کړې
حق آګاه شم حق اشنا شم لهٔ باطل نه هم خبر شم ‌ ‌ زړهٔ بيدار، ورسره نور دَ فراست تهٔ ماته را کړې
زما مخکښې هميشه وې ستا جمال اے جميل ربه ‌ ‌ شم فدا پهٔ تا دنيا نه اوس نفرت تهٔ ماته را کړې
لهٔ سيرت دَ خپل محبوب نه مې خبر کړې پاکه ربه ‌ ‌ اتباع دَهغه ښکلي دَ سيرت تهٔ ماته را کړې
دَ هغهٔ هره ادا خو يقيناً تاته خوږه ده ‌ ‌ دَهغو دَ خپلولو سعادت تهٔ ماته را کړې
دَامت فکر چې زړهٔ کښې پهٔ هر وخت کښې ورسره وُ ‌ ‌ پهٔ طفيل دَ هغې درد دردِ امت تهٔ ماته را کړې
زهٔ کمزورے يم ناتوان يم اے مولا تا ته زهٔ سوال کړم ‌ ‌ دَ خپل ځان دَ راضي کولو اوس قوت تهٔ ماته را کړې
ياد کړم تا پهٔ ژبه زړهٔ اؤ هم مې ياد وساتې خدايه ‌ ‌ پهٔ قران شم پوه اؤ ذوق دَ تلاوت تهٔ ماته را کړې
زهٔ پهٔ نمونځ کښې عاجزئ سره چې مخکښې ستا ولاړ وے ‌ ‌ چې ما ووينې خوشحال شې دا حالت تهٔ ماته راکړې
څهٔ به زهٔ يم څهٔ ثنا به صحيح وکړم ستا اے خدايه ‌ ‌ قابل نهٔ يم زهٔ مګر قبوليت تهٔ ماته راکړې
کړې زما ځان مال اولاد اؤ وخت قبول دا شبّير وائي ‌ ‌ اؤ دَ دغو پيش کولو سعادت تهٔ ماته راکړې

## ياد دَ مدينې

نقشه دَ مدينې زما پهٔ زړهٔ بيا راوريږي ‌ ‌ چې خيال دَ مدينې زما پهٔ زړهٔ کله تېرېږي
جاليو دَ روضې ته چې مې خيال دَ پاک رسول شي ‌ ‌ نو اوښکې مې پهٔ مخ بيا بې اختياره وبهيږي
دَ شين ګنبد پهٔ مخکښې دَ چترېو لاندې ناسته ‌ ‌ چې ماته را پهٔ ياد شي ورپسې مې زړهٔ خوږيږي
بيا هغه هواګانې فضاګانې مې شي يادې ‌ ‌ درود اؤ پهٔ سلام مشغول زړګے زما ژړيږي
قدمونو کښې زهٔ ناست پهٔ تصور کښې بيا شبّيره ‌ ‌ درود اؤ سلام وايمه پهٔ دې مې وخت تيريږي

## دَ رسول مينه

دَ امت ښېګړه ده دَ رسول مينه ‌ ‌ دَ امت سره وفا دَ رسول مينه
خوږ لهٔ هر چا چې رسول وي، دا پکار دي ‌ ‌ دَ برکت ده سلسله دَ رسول مينه
دَ امت فکر دَ خير هر وخت پکار دے ‌ ‌ مونږ نه غواړي پاک الله دَ رسول مينه
دَ خپل ځان اصلاح ثابته لهٔ قران ده ‌ ‌ اؤ دَدې ده طريقه دَ رسول مينه
دَ امت فکر دَ خپل اصلاح نه پس دے ‌ ‌ لهٔ اصلاح نهٔ ده جدا دَ رسول مينه
اے شبيره پهٔ سنت باندې روان شه
ﷺ دَغه لاره ده صفا دَ رسول مينه

## دَ نبي ﷺ محبت

چې دعویٰ کړې دَ نبي دَ محبت
نو عمل دے پرې لازم پۀ شریعت

دَ توحید درس نبي ټول عمر ورکړے
ځان دَ شرک نه به ساتې پۀ هر حالت

دَ رسول مینه زمونږ نه تقاضا کړي
چې ونۀ کړو دَ هغۀ مخالفت

کۀ سنت دَ نبي چرته کښې موجود وي
هغه پرېښږدو اؤ ونۀ کړو بدعت

دَ هغۀ پۀ شان څوک نشته مخلوقات کښې
یم مئین پرې دَ هغۀ کړم اطاعت

بس هغۀ ته منسوب هر شے پۀ ما ګران دے
زما زړۀ ته ئې نزدې دے هر نسبت

اهل بیت دَ هغۀ زړۀ ته مې نزدې دي
دَ هغوی مینه ګڼم لوئے سعادت

زمونږ میاندې دَ هغوی کور والې پاکې
دَ هغوی غواړم چې وکړم څۀ خدمت

صحابهؓ څومره نزدې وو دَ خدائے دوست ته
دَ هغوی لازم دے عشق و عقیدت

دا پیغام دَ محبت زۀ هر ځائے خور کړم
کۀ زما هم پرې وشي قبولیت

دا منشور مې دے دَ ژوند دا مې آئین دے
اے شبّیره لار ده دا دَ هدایت

## دَ نعت لیکلو شوق

شوق لرم پۀ زړۀ کښې نعت زۀ دَ لیکلو
اؤ پۀ دې کښې دَ محبوب دَ یادولو

دَ هغۀ عظمت نه زړۀ زما خبر دے
دے مجبور لۀ محبت دَ جذبو خپلو

پۀ الفاظو کښې زړګے ورته خپل پیش کړم
ورنه خواست کوم دَدې دَ قبلولو

چرته زۀ چرته هغه غلط زۀ نۀ شم
پۀ نازک ښاخ کړم کوشش څنګه دَ تللو

یقیناً چې دَ الله هغه بنده دے
دے کوشش مې دَدې هم دَخیال ساتلو

بندګي کښې هم ترې مخکښې بل څوک نشته
نتیجه دَ عبده ده دَ لوستلو

دے بشر خو یقیناً خیر البشر دے
بشر مثلکم کښې پۀ اورېدلو

تاج دَ ختمِ نبوت ئې هم پۀ سر دے
حد به ئې څه وي دَ عظمت بیانولو

چې څوک هم شو دَ هغۀ هغه دَ خدائے دي
کوشش څنګه به نۀ کړم پسې دَ تللو

متبع ئې محبوب ګرځي دَ الله پاک
کار مهم دے دَ سنت دَ خپلولو

اے شبّیره چې شفیع دے دَ محشر څوک
چرته در دے دَ هغۀ دَ پرېښودلو

## دَ رسول ﷺ مدح

نه ده عجیبه دا چې هغه مې دے خیالونو کښې
څوک چې خوش نصیب دي دَهغوی وسي پۀ زړونو کښې

دا ټول کائنات ټول دَ هغۀ دپاره خدائے جوړ کړو
زور ئې خور پۀ زمکه پۀ فضا پۀ اسمانونو کښې

خوښ دي دَ الله هغه بندیان پۀ ایماندارو کښې
څوک چې دي مشغول ئې پۀ عمل پۀ سنتونو کښې

ډک دَ محبت ئې وے زړګے، درود پۀ ژبه هم ‏ وې دې پۀ سنت عمل هر وختې پۀ کارونو کښې
هر محبوب دَ خدائے دے دَ هغۀ پۀ وسیله سره ‏ هم ممتاز امت ئې دے پۀ ټولو امتونو کښې
دغه سعادت شبّیره کم نۀ دے لږ سوچ وکړه ‏ نوم ئې محبینو کښې زما دے پۀ نومونو کښې

## دَ شین ګمبت پۀ لورې

زړۀ مې مدینې دَ شین ګمبت پۀ لورې تلے دے ‏ نشته دے سینه کښې څۀ به ئې وینې الوتلے دے
وایمه سلام پۀ هغۀ ، زړۀ کښې هغه یاد لرم ‏ هم درود پۀ ژبه کیفیت زما ډېر ښکلے دے
رب دپاره زۀ ئې اتباع کوم پۀ مینه چې ‏ امر دَ خدائے پاک قران کښې دغه شان راغلے دے
وې درود سلام دې پۀ هغۀ دَ شمار نه زیات همېش ‏ زړۀ مونږ دَ هغۀ سره هر وخت چې اوس تړلے دے
مونږ دې اتباع دَ هغۀ وکړو چې خدائے دا غواړې ‏ څکه جام دَ مینې دَ الله شبّیر هم څښلے دے

## دَ ښۀ والې دعویٰ

وخت پۀ وخت چې لۀ مونږ کیږې ګناهونه ‏ دَ ښۀ والې دعویٰ څنګه به کوونه
نفس شېطان کله چې مونږ سره موجود دے ‏ لۀ دوی څنګه یو لمحه مونږ غافل شونه
شېطان څنګه پۀ یو کار باندې مردود شو ‏ پکار نۀ ئې شو ډېر زیات عبادتونه
کۀ عمر ګمان پۀ ځان دَ منافق کړې ‏ مونږ دې سوچ وکړو چې مونږه څنګه یونه
غافلان یو اؤ قانون دَ خدائے واضح دے ‏ سوچ پرې وکړو لۀ غفلت ځان اوباسونه
پیروې دَ صحابه پۀ هر یو حال کښې ‏ وکړو ، ځان مونږ غلامان ئې وګڼونه
پۀ طفیل دَ هغوی مونږ دې خدائے معاف کړې ‏ دَ شبّیر دې خدائے کړې ټیک اوس حرکتونه

## نعت شریف

څنګه زۀ دَ رسول وکړم تعریفونه ‏ کافې دې دپاره نۀ دې مې شعرونه
الله څه نۀ دې ورکړې پاک رسول ته ‏ بیان څنګه ئې شم کولے صفتونه
خدائے نه پس هستې اوچته دَ هغۀ ده ‏ دَ قران پۀ دې ګواه دې آیتونه
نبې څنګه دے زمونږ اؤ مونږ یو څنګه ‏ څۀ کوم به دَ خپل ځان شکایتونه
نقل مونږه دَ بل چا به کوو څنګه ؟ ‏ دَ هغۀ هر یو سنت خدائے ته محبوب دے
پۀ دې باندې لرم ډېر زۀ حېرتونه ‏ پۀ خپل ځان کښې راولم دا سنتونه
دَ خدائے ذکر سره دے دَ هغۀ ذکر ‏ ګواه دې باندې قدسي دې حدیثونه

دَ خُلقِ عظیم مالک بللے کیږي لهٔ قران ثابت دي دا حقیقتونه
چې روان پهٔ طریقه دَ پاک رسول وي صادقین دي ځئ چې دوی پسې مونږ ځونه
اؤ پهٔ اذن دَ الله شفیع اعظم دے زړهٔ مې غواړي چې خبر کړم جهانونه
اے شبّیره ده دَ ځان سره ښېګړه پهٔ نبي استوه ډېر ډېر سلامونه

## لمحهٔ شکر

خدائے توفیق راکړلو بیا دَ نعت لیکلو اطمینان راته پهٔ دې ډېر نصیب شولو
خپل نظر کښې زهٔ نن نور وغورزېدمه چې ئې ځائے دَ نعت خوانانانو بیا راکړلو
چرته خاورې زهٔ پهٔ سر چرته دا پاک ځائے شو نصیب مې دغه ځائے بیا دَ راتللو
اوس درود به ورته بیا بیا زهٔ لېږمه نعت خوانانو کښې پهٔ نوم شاملېدلو
پهٔ قدمونو کښې ئې دې ځائے زما نصیب شي شبّیر ثوک دې منع نهٔ کړي لهٔ غوښتلو

## نعت شریف

ستا دَ حسن ثاني نشته هم عالي دے ستا نسب رحمة اللعالمین دے پهٔ قران کښې ستا لقب
ستا هریو نسبت الله ته ډېر محبوب دے، ده ظاهره دے لازم ځکه پهٔ ما باندې دَ هر نسبت ادب
الله ډېر زیات مهربان دے پهٔ امت دَستا، دا ښکاري چې ته ئې دَدې بې شکه یقیناً اصلي سبب
ورځ اؤ شپهٔ زهٔ پهٔ تا باندې بس درود و سلام وایم دے را کړے حکم ماته پهٔ قران کښې دَدې رب
ته شفیع دَ ګنهګارو یې، مونږ ستا پهٔ طفیل سوال کړو چې الله زمونږ نه لرې پهٔ خپل فضل کړي غضب
شه نصیب شبّیر حقیر ته مرقد ستا دَ قدمونو دا دعا ستا پهٔ طفیل کړم لهٔ الله نه روز و شب

## نعت لیکل

نعت لیکل غواړي زما زړهٔ خو دا لیکم به څنګه
دا خو پهٔ توره باندې تلل دي پرې ورځم به څنګه
یو طرف زړهٔ دے پهٔ توپونو ، بل طرف ادب دے
دَدوی پهٔ مینځ کښې مې زړګےدے دا ساتم به څنګه
زړهٔ خو دا غواړي چې دا هر څهٔ خپل فریاد کښې پیش کړم
خو خپل اعمال دي زما مخکښې، مخکښې ځم به څنګه
دا مې ارمان دے پهٔ دربار کښې دا خپل زړهٔ پیش کړمه
غواړمه ډېر څهٔ هغه وخت کښې دا غواړم به څنګه

ما دې الله زما دَ دغې در غلام جوړ کړې
زهٔ شبّیر بل څهٔ پهٔ دې خولهٔ باندې راوړم به څنګه

## نعت لیکل ولې مشکل دي

نعت لیکل ولې مشکل دي
دا پهٔ توره باندې تلل دي
کهٔ مقام ئې نور اوچت کړې
نو دَ حد نه مخکښې تلل دي
اؤ کهٔ کم شي لهٔ خپل ځائے نه
نو لهٔ ځائے راغورزېدل دي
پهٔ نېک نیت ځان بیا لهٔ دې نه
هر حالت کښې بچ کول دي
دَ صدیق سنت شبّیره
خاموشي بیا خپلول دي

## نعت شریف

یادېږي مې نن بیا ښکلے دلبر دَ مدینې
شفیع دَ کل امت نبي سرور دَ مدینې
یادېږي مې نن بیا هغه پیکر دَ محبت
دَ زړونو پهٔ دنیا باندې افسر دَ مدینې
بیاناست وے دَ چترو دَ لاندې مسجدنبوي کښې
اؤ شین ګمبت زما وے پهٔ نظر دَ مدینې
وے ناست پهٔ قدمونو دَ آقا کښې پهٔ ادب زهٔ
پهٔ زړهٔ باندې مې سور دے دا منظر دَ مدینې
اے کاش چې مې پوره دغه ارمان شوے اے شبّیره
روان چې شمه بیا زهٔ پهٔ سفر دَ مدینې

## دَ اهل بیت محبت

ډک کړه خپل زړګے لهٔ اهل بیت دَ محبت ګله
ستوري دغه تول دي پهٔ اسمان چې دَ عزت ګله
غواړي نبي مینه دوی سره پهٔ خپله مینه چې
څنګه شي بیا پاتې دَدې کار نه ئې امت ګله
حکم دے امت ته چې دَ دوی سره تعلق لري
څنګه امامانو ئې وکړو متابعت ګله
تهٔ کهٔ تردد لرې پهٔ زړهٔ کښې څهٔ پهٔ دې باندې
ولوله حدیث پاک پهٔ باره کښې دَ عترت ګله
مینه دَ دَ علي ، حسن ،حسین آؤ فاطمې چې ده
زړهٔ کښې کهٔ لرې نو دغه ستا دے سعادت ګله
دوی صحابه هم دي اؤ دَ دوی حب کښې شامل هم دي
ونهٔ کړې هېڅکله تهٔ دَدوی مخالفت ګله
دا دَ شیعه ګانو امامان نهٔ دي زمونږه دي
هېر نهٔ کړې جذباتو کښې هېڅکله حقیقت ګله
مونږه دوی پسې یو اے شبّیره دوی زمونږه دي
رادې نشي زړهٔ ته څه پهٔ دې باندې حېرت ګله

## دَ امام شافعي عجیبه اشعار

تاریخي دي څو اشعار دَ شافعي
کړي پهٔ حب دَ اهل بېتو ګواهي

کهٔ دا حب دَ اهل بیت رفض څوک بولي
ثقلین دي شي ګواه یم رافضي

په ښهٔ څېز کښې پهٔ ښه لار کښې شرم نشته
شرم نهٔ کړي بیا پهٔ دې کښې چې پوه شي

اهل بیت دَ زړهٔ ټکړې دَ پاک رسول دي
صحابه دَ پاک رسول ملګري دي

زمونږ میاندې هم لري نسبت اوچت ډېر
مؤمن څنګه به ادب ئې نه کوي

نسبتونه محترم دَ پاک رسول دي
ټول شبّیره ولې دا څوک نهٔ مني

## زکوٰة نه هدیه

زکوٰة نهٔ دے مکر دے دَ لاسو خیرے
اهل بیت ځکه دا نهٔ شي اخستلے

زړهٔ هدیه کړه ورته دغه ددوی حق دے
خوش نصیب دے چې پهٔ دغه لاره تلے

چې چا کړے دے خدمت دَ اهل بیتو
پهٔ اخلاص ، نهٔ دے هغه بیا محروم شوے

دَ جنید دَ ولایت نه ځان خبر کړه
چې هغهٔ ځان ؤ سید ته غورزولے

امامان دَ اهل بیتو وو ملګري
دے ثبوت دَدوی دَ مینې ښکارېدلے

دَ رسول دَ هر نسبت شه قدرمن تهٔ
اے شبّیره ورځه دې کښې نهٔ شې غلے

## دَ اهل بیت تعارف

دَ نسبت دَ رسول خیال هم زړهٔ کښې نهٔ وي
هواګانې بعضې داسې چلېدلي

کورنۍ دَ پاک رسول ده سوچ پرې وکړه
ستا فکرونه کوم غلط سر ته ختلي

دَ قرآن و عترتی فرمان ووایه
نبي څهٔ دَدې باره کښې دي وئیلي

اؤ حدیث سفینه نه څهٔ ثابت دي
ولې سترګې اړوې اوس غلي غلي

من کنت مولاه فعلی مولاه
دَ علی باره کښې دا ئې دي وئیلي

سرداران دي دَ شبابِ اهلِ جنة
دي نمسي دَ خدائے دَ دوست اؤ نازولي

اے شبّیره صحابه مو محبوبین دي
صحابه کښې اهل بیت به هم شامل ئې

## اهل بیت څوک دي؟

دَ نبي دَ کور ګلان دي اهل بیت
ګوره څومره عالي شان دي اهل بیت

دنیا نهٔ ده پېرزو کړي پهٔ دې کور خدائے
دَ جنت چې سرداران دي اهل بیت

پهٔ خطبه کښې توجه ئې پهٔ نمسي وه
پهٔ جانان باندې ډېر ګران دي اهل بیت

فاطمې دپاره پاسي استقبال ته    دومره خوښ چې دَ جانان دي اهل بیت
ګستاخان کۀ دَ اصحابو شیعه ګان دي    خارجیان دي ګستاخان دَ اهل بیت
مقابل به دَ اصحابو کړي دوی خلق    اے شبّیره پرې حېران دي اهل بیت

## اعتدالِ اهل سنت

اهل بیتو سره مینه ده پکار    دے دا حکم دَ نبي دَ کردګار
صحابه هم دي ټکړې زمونږ دَ زړونو    اؤ پۀ خپلو میاندو هم مونږ یو نثار
پۀ قران باندې مئین اهل سنت دي    احادیث تشریح دپاره کړي اختیار
ما انا علیه و اصحابي لولي    ځکه مینه کښې دَ دوی دي ګرفتار
صحابؤ نه تشریح دَ سنت اخلي    دوی عدول ګڼي پۀ دوی کوي اعتبار
ابوبکر عمر اؤ عثمان علی هم    خلفاء مني نعره ئې حق چار یار
فاطمه دَ سیداتو سیده ده    حسنین سره ملاؤ مو دَ زړۀ تار
اے شبّیره اعتدال ډېر لوئے نعمت دے    کاش چې هر یو اعتدال ته شي تیار

## دَ نبي دَ زړۀ ټکړې

اهل بیت چې دي ټول پاک دي دَ نبي دَ زړۀ ټکړې دي    دوی منسوب دي پاک نبي ته دا دَ میني سلسلې دي
فاطمه بي بي سرداره دَ جنت دَ پاکو ښځو    پۀ مولاۀ کښې مولا علی حیدر ته اشارې دي
سیدا شبابِ اهل جنة څوک دي؟ سوچ پرې وکړۀ    حسنین کریمین دي دوی بچي دَ فاطمې دي
کۀ دَ اهلِ بیت دَ میني قائل څوک رافضي بولي    شافعي رافضي ځان ته وائی بیا څۀ پۀ دې کښې دي
دَ یزید مینه دښمن تا دَ حسین دَ میني نۀ کړي    کۀ دا وي دَ نواصب بیا ستا پۀ سر بلې ډیوې دي
شبّیر کله هېروے شي دَ شبّیر سجده دَ مرګ وخت    دا معراج دَ قربانۍ ؤ اؤ دَ حق دا معرکې دي

## دَ هدایت لار

چې پۀ لاره دَ وفا کوم شهیدان دي    دا بېشکه پۀ الله باندې ډېر ګران دي
چې شهید شW دَ الله لار کښې مړ نۀ دے    ناقابله لۀ لیدو ئې ستا چشمان دي
وئېل څۀ چې دا ګمان هم کله مه کړه    چې دا مړه دي دا خو زنده جاویدان دي
پۀ تکلیف اؤ مشکلاتو تا ازمائې    صبر شکر دا دوه لارې دَ احسان دي
مبلمستیا به دَ غفور و دَ رحیم وي    پۀ جنت کښې به دَ عیش هر یو سامان وي
انا لله چې چا ووې پۀ تکلیف کښې    رب شناس دي بچ کېدونکي لۀ شیطان دي

چې اناّ الیه راجعون ووائي — دَ رحمت دَ سیوري لاندې دَ رحمان دي
رحمت خاص دَدوی پهٔ لور متوجه شي — ستوري دوی دَ هدایت بیا پهٔ اسمان دي
دغه لار دَ هدایت ده اے شبّیره — نازولي دَ الله پهٔ دې روان دي

## ښځه

ښځه توب کهٔ ښځه کله هم تسلیم کړي — نو فطرت خپل ورته هر څهٔ به تعلیم کړي
خدائے چې ښنګه پهٔ حکمت خپل ښوک جوړ کړي — هغه ښهٔ دي هر څهٔ ښهٔ چې رب کریم کړي
پهٔ سړو کښې سړي توب ښکلے صفت دے — کهٔ دا نهٔ وي پهٔ سړي کښې سړے نیم کړي
دغه شان نسوانیت دَ ښځو شان دے — کمے دې کښې لارې بندې دَ تفهیم کړي
دَ سړو کار کښې سړي نه مخکښې ښنګه — ښځه تلے شي کهٔ ځان مړه هم پهٔ دې سکیم کړي
دغه شان دَ ښځو کار کښې دې سړي هم — نه راځي بلکې کارونه دې تقسیم کړي
دې دپاره تزکیه دَ نفس پکار ده — ورسره شبّیره قلب چې ښوک سلیم کړي

## دَ غیر محرم اثر

کهٔ لهٔ اثر دَ غیر محرم نه ښوک انکار کوي — دوی به پهٔ عقل خپل پهٔ خپله بیا ګزار کوي
دادے نظام دَ پاک الله خیال ئې ساتل دي مونږ ته — وي بهٔ پاګل چې په خپل نفس باندې اعتبار کوي
کتل چې چا ته روا نه دي ورته ګوري ښنګه — ورته چې ګوري ښوک ګناه ده دا څه کار کوي
زمونږ الله پهٔ مونږه باندې مهربان دے ښومره — پهٔ شریعت دارو دَ داسې هر بیمار کوي
کهٔ چا څهٔ خیال دَدې ونهٔ کړلو بیا دا دې واوری — دا ټوقې نهٔ دي بیا دې اور ته انتظار کوي
ډیر احتیاط پکار دے هغه کس ته اے شبیره — پهٔ اعتباریانو کښې دَ چا چې خلق شمار کوي

## دپاره

لاس اوس اوچت کړئ دَ دعا دپاره — دَ ځان دپاره دَ هر چا دپاره
نن صبا ښومره پریشان یو مونږه — ځئ چې سوچ وکړو خیر صلا دپاره
لاره یوه لرو دَ دوست دَخدائے بس — خو چې ﷺ دا وي خدائے دَ رضا دپاره
هرڅهٔ کول دي عاقبت دپاره — اؤ کول نهٔ دي دَ دنیا دپاره
زمان مکان سره څهٔ کار نهٔ لرو — یو پیدا شوي دَ الله دپاره
دغه پیغام دې شي قبول لهٔ مونږه — دَ هر یو خیر دَ ابتدا دپاره
شبّیره هر ځائے دَ هغهٔ یو بس مونږ دے — نصیحت زما اؤ ستا دپاره

## غوښتل

یو ستا غوښتل یو دَ هغهٔ غوښتل دي
چې دي زمونږ کوم هغه څهٔ غوښتل دي

پهٔ مونږ لهٔ مونږ زیات مهربان دے هغه
نو دَ هغهٔ غوښتل بس ښهٔ غوښتل دي

مونږه تفویض کهٔ پهٔ هغهٔ وکړلو
هر څهٔ غوښتل دي کهٔ هیڅ نهٔ غوښتل دي

توفیق ډېر غواړه دَ توبې لهٔ هغهٔ
اور مړ کولو ته اوبهٔ غوښتل دي

یو پهٔ غفلت سره غوښتل کړي خلق
یو نمونځ نهٔ پس ښهٔ اؤ پهٔ زړهٔ غوښتل دي

شبّیر هغهٔ نه هغه غواړي صرف
څومره ډېر ګوره ښهٔ ددهٔ غوښتل دي

## دَ زړهٔ فریاد

ووایم زړهٔ مې کوم کوم رنګه سلسلې ولیدې
دَ عشق پهٔ نوم چې دَ هوس مې نظارې ولیدې

دَ خواهشاتو مې دَ نفس پهٔ زړهٔ سورلي ولیده
دَدې جواز کښې دَ مفتیانو مې فتوې ولیدې

دَ زړهٔ چې سوز ؤ هغه ختم شو پهٔ وروورو باندې
خو مې پهٔ شونډو دَ سوز ډېرې تماشې ولیدې

ګند دَ دنیا دَ محبت خو ورځ پهٔ ورځ زیاتیږي
اؤ دَ اصلاح مې دَ فکرونو جنازې ولیدې

خانقاه جمات دَ مدرسې دَ یو والي شبّیره
دَ خپلو خلقو پهٔ لاس ما ددوی ټکرې ولیدې

## الهامي خبرې

څنګه ممکن دي دَ شاعر نه کله ، دَ خپل اشعارو تعریفونه کول
دے به پهٔ ځائے دَ ملامتې وي بیا ، لهٔ ملامتې ورځې وي ویرېدل

دا شاعري چې ده زما ده دغه ، دَ خدائے پهٔ فضل الهامي شاعري
دَدې تعریف دَخدائے دَ فضل تعریف ، څنګه کېدے شي بیا دَدې نهٔ کېدل

زما بیان زما بیان نهٔ وي چې ، دَ دې پهٔ زور و شور تعریف کوم زهٔ
کهٔ نهٔ کوم دے دَ تحدیث نعمت نه ، بس یو اعراض ناشکره کس جوړېدل

دا دعاګانې دَ بزرګانو دي بس ، تقسیموم زهٔ دَ هغوی فېضونه
څنګه منسوب کړمه خپل ځان ته زهٔ دا ، دا خو دَ حق سره به وي جنګېدل

زهٔ دَ الله نه دا دعا غواړمه ، چې ما شبّیر تهٔ دَ هغوی پهٔ لار کړے
ما کړې روان ته ورپسې ورپسې ، اؤ کړې نصیب زما پهٔ دوی پسې تلل

## نعت شریف

پۀ زړۀ کښې مینه دَ نبي دې وي عمل پۀ سنت
چې دا دَ خدائے دپاره وي دَ بل څۀ نشته حاجت
چې دے لۀ ټولونازولے زیات نو پوه شئ پۀ دې
پۀ سنتونو دَ هغۀ تلل دے محبوب حالت
ګفت دےدَخدائےوَرفعنالک ذکرک کتاب کښې
بیا پۀ شان ثنګه دَ هغۀ کولے څوک شي حیرت
تاسو ته دَ ځان نه دې نزدې شمه آقا وئیلي
قربان زۀ ولې نۀ کړم ځان پۀ هغۀ اؤ غیرت
پۀ لار دنیا کښې دَ محبوب خپل روان نۀ شم ولې
پۀ کوم چې ما جوړوي خپل محبوب رب العزت
شبّیره کله توان دَ لیک لرم دَ نعت دَ هغۀ
بس رسوم زۀ پۀ دې باندې خپل زړګي ته راحت

## شپږو ژبو کښې نعت شریف

پۀ زړۀ کښې مینه دَ نبي دې وي، عمل پۀ سنت
چې دا دَ خدائے دپاره وي دَ بل څۀ نشته حاجت
او که محبوب خدا است یقیناً بعد ازاں
پۀ سنتونو دَ هغۀ تلل دے محبوب حالت
قال ربي و رفعنا لک ذکرک في الکتاب
بیا پۀ شان ثنګه دَ هغۀ کولے څوک شي حیرت
میں تمہیں جان سے پیارا ہوں آقا جب کہے
قربان زۀ ولې نۀ کړم ځان پۀ هغۀ اؤ غیرت
Why should not I follow path of Muhammad the Great
پۀ کوم چې ما خپل جوړوي محبوب رب العزت
اُناں دي تعریف لئ میں کتھے قابل شبّیر
بس رسوم زۀ پۀ دې باندې خپل زړګي ته راحت

## ګران دي

کۀ ادب ته ئې وګورم نو خبره کول ګران دي
خو دَ میني نۀ ئې مجبور یم ترینه ځان صبرول ګران دي
دا دَ زړۀ مې یو ارمان دے چې قبول ما خپل جانان کړي
خو چې حق کوم دَ هغۀ دے تر هغۀ رسول ګران دي
دَ دښمن خو دا کوشش دے پۀ هېڅ حال دَ هغۀ نۀ شم
خو هغه پۀ ما مین دے نو دَدې هېرول ګران دي
زما هر څۀ دَ هغۀ دي، ننګ ناموس مې دَ هغۀ دے
دَ هغۀ پړے پۀ غاړه لرم بل اچول ګران دي
کۀ لۀ شرمه سر مې ټیټ وي دَ اعمالو پۀ دنیا کښې
دَ توبې پۀ دروازه یم نور چې ځان ګېرول ګران دي
بس شبّیره سر اوچت کړه دَ کریم در دے ځان ویښ کړه
پۀ غوښتلو خوشحالیږي، دا موقع پرېښودل ګران دي

## وګوره

پۀ تکلیف کۀ مبتلا ئې نعمتونو ته وګوره
چې درکړي کوم دي خدائے هغه څیزونو ته وګوره
دَزړۀسترګې دې بینا کړه چې رښتیادرته ښکاره شي
پۀ تاریخ دَ تېرو خلقو حالتونو ته وګوره
دَ دنیا پۀ لذتونو کۀ دَ ستا دَ نفس نظر دے
دَ جنت ښکلي احوالو نعمتونو ته وګوره
پۀدنیا کښې بدي شته دے خو پۀدې مایوسه نۀشې
پۀ نېکانو نظر واچو دَ دوی زړونو ته وګوره

تکلیفونه‌دې‌دنیا کښې که‌ئېکان‌تېروي‌خېردے          پس لۀ مرګ عملنامه کښې ئې اجرونو ته وګوره
ګېرچاپېر که‌پۀ‌دنیا کښې ډېرسامان‌دَګندګۍ‌دے          ګند پرېږده شبّیره تۀ خپل نسبتونو ته وګوره

## توبه

ما ډېر کړي ګناهونه خدایه اوس زما توبه
وو غلط زما کارونه خدایه اوس زما توبه
زۀ غلط وم تۀ مې هېر وې زۀ دَ نفس خر باندې سور وم
وو مې داسې حرکتونه خدایه اوس زما توبه
رحمت ستا ربه وسیع دے تۀ مئین پۀ خپل مخلوق يې
ضائع کړي مې وختونه خدایه اوس زما توبه
معافي لۀ ستا نه غواړم ستا پۀ در باندې ولاړ یم
اوچت کړي مې لاسونه خدایه اوس زما توبه
لۀ خپل نفس زۀ دستبردار شوم اوس بس ستا زۀ تابعدار شوم
راسره کړې مرددونه خدایه اوس زما توبه
اوس حیا راته نصیب کړې اؤ خپل ځان تۀ مې قریب کړې
پۀ شبّیر وکړې فضلونه خدایه اوس زما توبه

## دَ احسان بدله احسان

دَ احسان بدله احسان دے بله نه          دَ رب مخکښې پۀ سجده شو څۀ لۀ نه
کومه مینه چې کوي مونږ سره رب خپل          پۀ بل ځائے کښې مونده نۀ شي کله نه
نصیحت مونږ کوو نورو ته لګیا یو          اثر ولې ترې اخلو خپله نه
سرنګون هریو طاقت ته مونږ پراتۀ یو          مخ دَ سوال ولې کوو هغۀ لۀ نه
خوشحالۍ‌غم کښې هرڅوک راضي کوو مونږ          خو هغه نه ، داسې نه ، اے ګله نه
مختورن شبّیر معاف کړې پاکه ربه          دا بې شکه تاته ده مشکله نه

## پکار دي

همېشه مونږ ته پکار ده دَ خدائے مینه          زمونږ هم زړۀ کښې پکار ده چې دا وي نه
دَ هغۀ یو همېشه مونږ دَ هغۀ شو          سلسله دَ میني دا قائمه شینه
دَ هغۀ مینه پۀ زړۀ کښې مې هر دم وے          اؤ دا زړۀ مې لۀ اغیار نه لرې یینه

چې دَ حسنِ ازل کړي دعوىٰ دَ مېنې نو دَ زړۀ دروازې لرې دې ساتېنه

دے نازک غزل، لړ تم شه اے شبیّره غلط نۀ شي دې کښې تۀ لارې اصلي نه

## صدقات دافِعِ بلیات

بلاګانې لرې شي پۀ صدقات پۀ خپل مال کښې دي لازم ویستل زکات

مالکان چې دَ نصاب دي کړې دې شکر چې دَ دوی دَ ورکولو دي حالات

صدقات مال زیاتوي دغه خدائے وائی چشم دید دي یقیناً ئې برکات

شي خرابې چې ولاړې اوبۀ پوه شه شه چینه چې کړې حاصل جدید سوغات

شکر کړه پۀ نعمتونو چې محفوظ شي پۀ نقلي کړه ته حاصل اصلي خیرات

پۀ سود باندې مال پۀ خپله هلاکیږي پۀ مخ باندې دَ سود خور ګوره ظلمات

غواړې رب دَ مؤمنانو خېرخواهي تل چې پیغور ورسره نۀ وي ، دے فسات

رسوي تا دَ غریب دعا به چرته یاد ساته شبّیره لار دا دَ نجات

## صدقات

لر کوي صدقه بلا خو چرته دا تۀ ، کړې خرابه چرته نه پۀ پېغورباندې

ښې خبرې سره نۀ ورکول ښۀ دي ، لۀ صدقې کۀ زیادول وریسې کاندې

دا مخلوق دَ خدائےګئ ټبر دے پۀ خدمت ئې ، خوشحالیږي خدائے بېشانه دې دنیا کښې

خدائےګئ خوشحال کړه پۀ خپل ژوند کښې دا خپل مال ته،دَخیرات پۀ ذریعه واستوه وړاندې

شیطان ډیر کوي محنت خو پۀ تا باندې ، خو خدائے هم وُ پۀ تا باندې غیرت کړے

دَ غیرت خبره داده ښه دا واوره ، چرته نۀ شي دې شیطان وته تۀ لاندې

نفس ته هم کله ټیټ نۀ شې پۀ دې نفس دې ، لاس خپل بر کړه دغه نفس کړه لۀ پښو لاندې

کۀ قابو دې دغه نفس دلته کښې نۀ کړو ، پۀ دوزخ کښې به وهې بیا دَ غم ساندې

ذکر فکر کړه پۀ دې تۀ عقلمند شه ، دَ دنیا پۀ فکر زړۀ تۀ ګنده نۀ کړې

ځان کړه پوه تۀ دَ شبّیر پۀ دې شعرونو ، دا سپېځلي ملغلرې دي ځلاندې

## توبه

دَ توبې پۀ نیت ګناه کول خو کار دَ حماقت دے

نۀ کول توبه ګناه نه پس ثبوت دَ شقاوت دے

دَ ګناه مثال دَ زهرو دے هر وختې ترې ساته ځان

چې پهٔ کوم څيز بچ کېدے شي تهٔ لهٔ دې هغه همت دے
مايوسي دَ پاک الله نهٔ دَ شېطان يوه وسله ده
شهٔ خبر چې پهٔ غضب دَ الله پاک غالب رحمت دے
لږ پهٔ زړهٔ دې محنت وکړه چې دا قلبِ سليم جوړ شي
نو قران کښې بيا ته ګوره هدايت اؤ هدايت دے
نفس باغي وي مشقت تهٔ تيار نهٔ وي پهٔ هېڅ حال کښې
نو علاج دَ بغاوت ئې يقيناً ښهٔ تربيت دے
تربيت دپاره تهٔ اوس شېخ کامل ته ځان وسپاره
الله پاک بهٔ دې مدد وکړي بې شکه دائې عادت دے
خندا کمه ژړا زياته کړي مدد پهٔ دغه کار کښې
اؤ دَ ذکر پهٔ کثرت کښې پټ دَ زړهٔ دَ ستا صحت دے
ولوله غزل راتلونکي چې دَ پير پهٔ نښو پوه شي
چې دهوکهٔ کښې دَ چا رانشي دا کار دَ نزاکت دے
بيا چې پير درته څهٔ وائې صرفه مهٔ کړه پرې شبّيره
دَ مريد دپاره ګټ کښې چې دَ پير ډېر برکت دے

## دَ ښهٔ پير نښې

عقيده صحيح اؤ علم نېک عمل ساتي ښهٔ پير
دَ صحبت ئې تسلسل تر پاک نبي وي بې نظير
اجازت ورته حاصل وي اؤ فيض هم ددهٔ جاري وي
مروت نهٔ کړي اؤ وي دے مذکرِ روشن ضمير
دوی لالچ دَ دنيا نهٔ کړي بس رضا دَ خدائے پاک غواړي
پهٔ سنتو دوی عامل وي دَ ځان نهٔ غواړي تشهير
وي حريص دَ سلسلې په خورلو کښې بې شکه
خو مخلوق دَ خدائے پاک صرف دَ ځان نهٔ ګڼي جاګير
اولياء اؤ عالمان دَ حق پهٔ دهٔ ګمان دَ ښهٔ کړي
پهٔ تقدير باندې ايمان سره لري ښکلے تدبير
کهٔ دَ دو نښو خاوند چرته ملاؤ شو ورسره دې
کهٔ وي ښهٔ مناسبت ترې شه بيعت وائې شبّير

## شېخ اؤ مريد

غواړي شېخ څهٔ نفس کړي نور
اؤ پهٔ دې کړي ډېر زيات شور
نو بيا داسې چې حالات وي
نو پهٔ دې کول دي غور
چې دباؤ کړي نفس دباؤ شي
لاس ساتې به پهٔ دهٔ سور
پهٔ غلط ئې عمل مهٔ کړه
اؤ پهٔ ښهٔ باندې في الفور
پهٔ خوره دَ شېخ مئين دے
پهٔ ترخه غواړي ډېر زور
نو دَ داسې مريدانو
وي اصلاح به پهٔ کوم طور
اے شبّيره لنډه داده
بچ کول دي ځان لهٔ اور

## ريټائېرمنټ

دا زمونږه ريټائېرمنټ خو لۀ دنيا دَ تلو نقشه ده
پۀ ارام سره دا تلل وي دې دپاره لږه ښه ده
پۀ خپل وخت پۀ تلو مونږ اخلو پنشن هم لۀ ګورنمنټ نه
لۀ دنيا تلل دفعتاً دي دغه ويره ماسره ده
کۀ عمل دې ښۀ وي دلته نو بيا هلته کښې مزې دي
قبر هم دَ داسې کس دپاره ښکلې باغيچه ده
کۀ عمل دَ چا ښۀ نۀ وي هلته ډېر دي عذابونه
قبر هم بيا داسې کس وته دَ اور يوه کوټه ده
پۀ ايمان تلل لازمي دي دَ ايمان خيال ډېر ساتل دي
بدعمل دپاره بيرته دَ توبې ښه دروازه ده
بې توبې کۀ لۀ دنيا نه بدعمله لاړل څوک هم
خدائے دې خبر کړي چرته نۀ شي پۀ عذاب دَدې خطره ده
اے شبّيره تيارے دَ مرګ نه پس ژوند ته ښۀ وکړه
دغه ژوند دَدې دنيا خو حقيقت کښې يو لمحه ده

## حجاب نۀ لري

عشق پۀ طلب کښې خو حجاب نۀ لري — خو دَ ليدو ئې هم څۀ تاب نۀ لري
څۀ چې دي هغه ښۀ دي مۀ وايه څۀ — چې حکمتونه ئې جواب نۀ لري
مونږ کۀ ترې نۀ غواړو نو خپل نقصان دے — پۀ ورکولو کښې حساب نۀ لري
لږ ئې ديدن دَ زړۀ پۀ سترګو وکړه — چې دغه سترګې خو سراب نۀ لري
مونږ ته کۀ نۀ ګوري شبّيره کله — زړۀ مې لۀ دې نه نور عذاب نه لري

## کنه

صبر دَ نفس مجبوورل دي کنه — بس رکاوټ لرې کول دي کنه
کۀ دې لۀ خېر منع کوي مۀ ئې منه — هر خېر پۀ زړۀ منظورول دي کنه
پۀ خوشحالۍ کښې بغاوت چې کوي — دا بغاوت دباوول دي کنه
پۀ غم کښې نفس حد نه وتل غواړي — نو دغه زور ئې ختمول دي کنه
سترګو نه اوښکې کۀ بهيږي خېر دے — دغه هم داسې پرېښودل دي کنه
دَ الله حکم پکښې مات نۀ شي — ګفت احتياط سره کول دي کنه
دا کوم شعرونه دَ شبّير چې دي — پۀ دغو ځان ښۀ پوهول دي کنه

## شي

چې زړهٔ ډک لهٔ محبت دَ سیم و زر شي
دا فتنه ده بنده دې نهٔ دې خبر شي
زر تر زره څهٔ علاج دَدې پکار دے
هسې نه چې لهٔ علاجه هم بهر شي
زړهٔ دَ مال د محبت نه زر خالي کړه
هسې نهٔ چې تباهي دې مقدر شي
اف سزا دَدې ده څومره خطرناکه
باور وکړه تهٔ پهٔ ما کهٔ دې باور شي
صرف دا نه چې خالي شي بلکه ډک کړه
دَ یار مینې نه ، دې زړهٔ چې معتبر شي
لېونتوب کښې دَدې مینې هوش پېدا شي
پهٔ دې هوش دَ یار مطلب دې پهٔ نظرشي
دَ حرام مال نه دې کرکه بیا پېدا شي
مشتبه باندې دې هم زړګے اوتر شي
پهٔ خپل وخت زکوٰة هر کال وباسې خپله
چې پهٔ وخت دَ مستحق خېټې ته ورشي
نور انفاق کهٔ پټښې هم کېدے شي وشي
دَ عمل کاغذ به هلته دې بهتر شي
یه ژوندے شبّیره خدائے دپاره دلته
قربان هم دې دَ هغه پهٔ لار کښې سر شي

## دَ هغهٔ شم

نه اختیار مې ؤ زهٔ دلته چې راتلمه
نهٔ اختیار لرم چې کوم وختې به ځمه
دَ هغهٔ شم اؤ هغه پهٔ دې زما شي
تمنا پهٔ خپل زړګي کښې دا لرمه
وي پهٔ ما دې دَ هغهٔ نظر دَ مینې
زهٔ دَ کور نه دَ هغه طواف کومه
زما شغل دې هر وختې صرف دا وي
چې زهٔ څنګه دَ هغهٔ به صرف شمه
زهٔ پهٔ یاد کښې دَ هغهٔ هر وخت مشغول شم
چې پهٔ یاد کښې دَ هغهٔ هر وختې یمه
مدهوش مینې دَ دنیا کښې چې دے عقل
هغه عقل زهٔ به کله خپلومه
ما به دا تباه کړي څهٔ کار پرې لرم زهٔ
لېونتوب دَ مینې هوش کښې راولمه
زهٔ شبّیر دغه یو کار کښې بس مشغول شوے
یار به څنګه پهٔ زړګي کښې وسومه

## اشاره

اشاره یوه راغلي مې پهٔ زړهٔ
تماشو نه دَ دنیا مې زړهٔ شین شهٔ
تماشو کښې مشغول خلق دې ځان پوه کړي
چې دَ دغو تماشو انجام دے څهٔ؟
کهٔ جهان دوی ته ملاؤ هم شي دا ټول نو
اخرت کښې به څهٔ وکړي دوی پهٔ دهٔ
ښهٔ شي پوه دې چې دنیا قلیل متاع دے
اخرت دَ تیارۍ سامان دے ښهٔ
وارثانو ته دا هر څهٔ پرېښودل دي
چې څهٔ واستول چا هغه شي باقي به

دَ فاني نه باقي جوړ کړه ښۀ اوښیار شه　　دَ سنت پۀ طریقه باندې اوس تۀ
دیوانه چې ځوک پۀ مینه دَ الله شي　　دانائی ده حقیقت کښې دَ هغۀ
وباسه شبیره زړۀ نۀ چې بهر شي　　دَ دنیا غلۀ چې پۀ دې کښې دي میشتۀ

## لار دَ عشق نۀ ده مشکله

لار دَ عشق نۀ ده مشکله　　چې دا عشق کوي سوچ کله
عقل ډېر زیات کړي سوچونه　　عشق کوي خبره بله
عشق معشوق باندې فنا وي　　عقل وائی چې دا ځۀ لۀ
کۀ عاشق شي عقل هم بیا　　معرفت ملاؤ شي دۀ لۀ
پۀ هغۀ چې عاشق نۀ وي　　محرومي ده هغه زړۀ لۀ
کله شي ملاویدے دا　　نعمت بې دَ شیخ کامله
چې ملاؤ شي کله تا ته　　هله زر ورپسې زغله
لاس کښې لاس ورکړه شبّیره　　پرې صحیح کړه لاره خپله

## دَ نیازبین خلقو

کۀ ځوک وګوري حالات دَ نیازبین خلقو　　عجیبه وي نفسیات دَ نیازبین خلقو
دَ بل چا ورسره خیال خو دَ ځۀ نه وي　　وي لۀ بل مطالبات دَ نیازبین خلقو
دَ ډېر عمر نیکي لږ ځۀ کښې کړي لړه　　چۀ پۀ لږ ځۀ شي زړۀ مات دَ نیازبین خلقو
پۀ بحثونو کښې ترې ځوک نۀ شي ګټلے　　عجیبه وي اشکالات دَ نیازبین خلقو
نیازبین والے نن صبا لوے مصیبت دے　　جوړ شي کله لوے فسات دَ نیازبین خلقو
خپل اولاد دې نیازبینئ نه ځوک شبیره　　ډېر مشکل وي احکامات دَ نیازبین خلقو

## مجذوب

چې دَ جذب وي حامل هغه مجذوب وي　　اؤ محبوب دَ الله پاک رښتیا مجذوب وي
چې دَ عقل اؤ دَ هوش نه چې فارغ وي　　نو معذور لۀ اقتدا نه بیا مجذوب وي
شریعت ډېر محترم دے لۀ هر ځۀ نه　　دَ الله کۀ خوښ بې شکه دا مجذوب وي
عقل هوش باندې بنیاد دَ دین قایم دے　　اؤ پۀ دې باندې قایم کله مجذوب وي
خو کۀ هوش پۀ دغه جذب هم حاوي وي　　شریعت باندې روان دغه مجذوب وي
دغه جذب نو بیا فضل دَ الله دے　　بیا پۀ نورو هم اکثر بالا مجذوب وي
بیا دَ زړۀ نۀ عقل ټیټ شي شریعت ته　　دَ نفس شر نه هم اکثر جدا مجذوب وي
دَ عشق نور کښې بیا ملفوف شبّیره داسې

ډوب شعرونو کښې نغمه سرا مجذوب وي

## فنا في الشیخ

کۀ پۀ سچه پۀ شیخ باندې څوک فنا شي
دَدۀ زړۀ ته بیا دَ شیخ نه اثر راشي
در پۀ در خاورې پۀ سر نۀ وي سالک بیا
دَ شیخ زړۀ دَدې سالک بیا رهنما شي
شیخ مرید نه وي خبر مرید دَ شیخ نه
بیا اکثر ورته نظر دَ شیخ عطا شي
دعاګانو کښې دَ شیخ هغه راځي بیا
داسې شیخ دَ دې سالک بیاپشت پناه شي
در دَ شیخ شي وسیله ئې هر عمل کښې
دَ شیخ زړۀ دَدۀ هر کار کښې مقتدا شي
ورکوي هر چا ته هر څۀ پاک الله خو
دغه شیخ سبب دَ ورکړې دَ الله شي
دا دَ زړۀ نه زړۀ ته لار ده اے سالکه
دا صفا کړه چې سلوک درته صفا شي
دَنبي دَ زړۀ رڼا پۀ دغه لاره
ده راغلي چې نصیب اوس ستا هم داشي
اے شبّیره دَدې نور حاصلوؤ ته
شه فنا چې دې نصیب دغه رڼا شي

## فنا في الرسول

چې کوم شیخ مشغول هروخت وي دَ رسول پۀ اتباع
مریدان ئې پۀ لیدلو پۀ رسول شي بیا فنا
مرتبه دغه اوچته پۀ قسمت چې ورملاؤ شي
شي قبول دَ سالک هر عمل پۀ در کښې دَ الله
پۀ سنت کښې پټ دَ خدائے محبوبیت چې دے نو واوره
محبوب جوړ کړي دَ الله دغه سالک هم عمل دا
بدعتونه څنګه ځائے شي جوړوے دَ هغۀ زړۀ کښې
چې دَ خدائے دَ رضا لاره دغه شي نصیب دَ چا
پۀ سنت کښې دے موجود جذب هم هغۀ چې قبول وي
پۀ یو ټوپ کښې هر شرک پرېږدي ورنه جوړ شي باخدا
کړه حاصله دَ سنت تۀ اتباع داسې دَ شیخ نه
چې داخل کړي خدائے پۀ فضل تا پۀ ګروه دَ اولیاء
دا سنت چې دے دعوت دے مقبول جذب ته شبّیره
پۀ دې لاره چې روان وي چرې نۀ به شې خطا

## فنا في الله

چې شي لاره دوامي دَ چا سنت شي حاصل ورته پۀ دې بیا عبدیت

پهٔ سنت حاصلېدے شي پهٔ اسانه دے مقام چې پهٔ الله فنائیت
یوه لاره الله پرېښي ده دَ تللو هم پهٔ دغه ملاویږي به جنت
لهٔ فنا في الله بقا بالله شي سازه دغه لاره ده دَ خدائے دَ محبت
مخکښې زیات پهٔ بندګۍ کښې زیات محبوب وي هم پهٔ دغه حاصلیږي ئې قربت
دا فلاح ده شي وصول ورته وئېلے اے شبّیره دویم نوم ئې دے نسبت

## بوج

پهٔ اخرت کښې کهٔ تهٔ بوج اوچتولے نهٔ شې ولې دنیا کښې لهٔ ګناه ځان بچ کولے نهٔ شې
دا دَدنیا امتحانونه خو ډېر سخت دي مګر لار دَ همت ولې پهٔ دې کښې خپلولے نهٔ شې
چې قصورونه ګناهونه کړي تا دي خو تهٔ دَ توبې لارې باندې هم دلته کښې تللے نه شې
ماته ده پته تقاضې دَ نفس ختمیږي خو نه خو دباویږي ولې دے دباوولے نه شې
دَ اخرت فکر نه څنګه بې نیازه شولې کهٔ بې نیازه دَ دنیا نه تهٔ کېدلے نهٔ شې
نظر پهٔ زړهٔ لري شبّیره همېشه چې هغه دَ زړا شکل کړه بس جوړ کهٔ ژړېدلے نهٔ شې

## نشته

چې دَ عشق دَ ژبې څه انتها نشته ودرېدل دَدې ګفتار ځکه بیا نشته
تهٔ دا څنګه ودروې وکړه څهٔ سوچ لږ دا دَ بل چا دي څهٔ کار پکښې ستا نشته
اخله اخله ترې نادانه ورنه اخله اے نادانه خزانه کښې ئې نا نشته
ډک جامونه دَ عشق نور نور ورکوه ته ډېر دي پاتې ختمېدل ئې خو لا نشته
مخ پهٔ لور کړه دَ هغهٔ چې مالامال شې انتها چې دَ هغهٔ دَ عطا نشته
تهٔ لمن دَ شریعت پهٔ جذب نیسه لاره بله چې دَدې نه صفا نشته
لېونتوب سره شبّیره هوش واصل کړه فیض نه ډکه دومره بله ادا نشته

## انقلاب

دَ عشاقو مې دَ عشق نقل کولو اراده وکړله ما دَ نهٔ وئیلو
چې لباس مې دَ عشق غاړې ته کړو بیا نو پته نشته خپله سر شوم پهٔ لیکلو
دَ عشق اور عجیبه اور دے ما پهٔ دغې سامان وکړو دَ خپل زړهٔ دَ جوړېدلو
چې اشنا څوک دَدې عشق اور سره نه دي محرومین دي کړي مروړل به دَ منګلو

دَ هغهٔ شم وګڼلے اے شبّیره
لبیک وایم پهٔ مزه پهٔ شونډو خپلو

## نن صبا

ډک دَ میني ګرځومه نن صبا
زړهٔ ، قلم هم چلومه نن صبا
چي دَ عشق لباس مې غاړې ته کړو کله
ما وئیل څهٔ ولیکمه نن صبا
زړهٔ زما شو پهٔ ټوپونو باندي سر بیا
بیا پهٔ جذب داخل شومه نن صبا
لېونتوب راته دَ هوش لمنه راکړه
لهٔ دې کار اوس زهٔ اخلمه نن صبا
دوه څادرو کښې سر تور سر بیا روان شوم
تکلف نه ووتمه نن صبا
چي دَ نقل حال دے داسې اے شبّیره
څهٔ به وي کهٔ واصل شومه نن صبا

## نهٔ کړم

ښار دَ عقل کښې اوس زهٔ وسېدل نهٔ کړم
چي صحرا نه زهٔ دَ عشق اوس وتل نهٔ کړم
کهٔ خادم شي دا دَ عشق لاس به ئې ښکل کړم
کینه عقل سره زړهٔ کښې ساتل نهٔ کړم
اچوم شربت دَ عشق ظرف کښې دَ عقل
پهٔ دې عقل زهٔ دَ نفس بیا منل نهٔ کړم
چي دَ عشق پهٔ اداګانو فدا نهٔ وي
ورته زهٔ دَ جذب اشعار اورول نهٔ کړم
دَ شبّیر اشعار دي خوښ دَ عاشقانو
چي کم ظرف وي ورته دا اورول نهٔ کړم

## دے

مغلوب عقل دے اؤ زړهٔ مې بې قرار دے
پهٔ دې حج کښې مې دا جذب دَ غاړے هار دے
پهٔ هر یو رکن به پوه شي کهٔ دَ عقل
سترګي بندې وي دَ ستا اؤ زړهٔ بېدار دے
کهٔ دنیا دَ عشق نهٔ ښکاري چاته حج کښې
پهٔ زړهٔ باندي ډېر محنت ورته پکار دے
دَ الله دَ محبوبانو اداګاني
خوښوي نه اؤ فیشن ته دے تیار دے
عقل کښېنوه پهٔ ځائې حج کښې شبّیره
چي پهٔ جذب دَ هر یو رکن مدار دے

## خراب نظر

نظر پاک چي نه وي پاک به شي زړهٔ څنګه
لهٔ شیطان به بچ کوې بیا ځان تهٔ څنګه
دا غوږونه ، خولهٔ اؤ سترګي دروازې دي
حفاظت نه دَ دو ئې تهٔ اودهٔ څنګه
دَ شیطان لهٔ زهرو ډک غشے نظر دے
غېر محرم چي پهٔ نظر شي دَدهٔ څنګه
حفاظت کښې حلاوت ئې دَ ایمان دے
اخلې دې مقابله کښې تراخهٔ څنګه
یو نظر خراب دا زړهٔ ځومره خراب کړي
شبّیر وائي درته ووایم زهٔ څنګه

## څنګه

هوش پۀ لېونتوب څوک راولي څنګه
پوه نۀ یم خبر نۀ یم دا وي څنګه

نفس چې مطمئن پۀ شریعت نۀ وي
دا به بیا دَ خېر پۀ طرف ځي څنګه

عقل چې لۀ نفس څنې اثر واخلي
عقل به دا نفس قابو کوي څنګه

عشقِ الٰهي چې شي حاصل چاته
بیا به شریعت شاته پرېږدي څنګه

عشق دے لېونتوب اؤ شریعت دے هوش
سترګې به بیا عقل پټوي څنګه

عشق پۀ عقل برشي اؤ قابو ئې کړي
ګوره شوه پکار دا عاشقي څنګه

هوش چې دا دَ عشق نه پیدا شوے دے
نفس باندې کوي به دے څورلي څنګه

کړه قبول شبّیره لېونتوب دغه
شې پۀ هر څۀ پوه به چې دادي څنګه

## هغه یو

هغه یو هر څۀ کوي
دَ حق لاره سموي

ازلي چې مو دښمن دے
لۀ هغۀ مو خبروي

چې دَ لارې نه غلط شو
بیا پۀ لار مو راولي

لیدےئې نه شي څوک پۀ سترګو
دَ عاشق زړۀ کښې راځي

پۀ دنیا چې څوک دهوکه شي
نو هغه ئې پوهوي

دا ئې فضل دے شبّیره
توفیقات چې درکوي

## وي

زړۀ مې غواړي دَ هغۀ چې دیوانه وي
چې دَحق دَ شمعې جوړ یو پروانه وي

چې خالي وي کوم یو زړۀ هغۀ دَ یاد نه
لږ ساعت کښې به ترې جوړه ویرانه وي

چې پۀ ذکر باندې زړۀ کوم یو اباد شي
نو هغه دَ معرفت یو خزانه وي

چې عاشق کله فریاد کړي عاشقۍ کښې
نو هغه دَ مغفرت یو بهانه وي

چې دَ حسن ازل عشق بیان شبّیر کړي
نو غزل ئې بیا دَ عشق یو پېمانه وي

## ته

ورسولم زۀ ګرمئې دَ زړۀ ئې محفلونو ته
وګوره دَ فضل دَ الله دغه کارونو ته

نفس پۀ ما غالب ؤ ما دَده څنې هجرت وکړو
عشق پۀ هوش کښې راوستم تیار شوم محنتونو ته

لاره دَ محبوب چې راته دې عشق برابره کړه
ما کله کتل بیا دَدې لارې منزلونو ته

فاذکروني وایم چې نو اذکرکم هم راځي
ذکر دَ هغۀ خو دے حېران یم خپل یادونو ته

لاس جوړه کول وو چې لۀ سترګو مې باران وشو    جوړه بهانه شوه دا زما مغفرتونو ته
عقل ولاړ ګټ کښې ؤ حېران څۀ چل ئې نه ورتلو    وښودله عشق دَ کوڅې لاره دَ یار زړونو ته
دا دَ لېونتوب دَ هوش غزلې دَ شبّیر چې دي    جام دَ معرفت دے لږ پۀ غور غور شه شعرونو ته

## کړه

سوز دَ زړۀ نۀ مې خبر شه خلق هم پرې ټول خبر کړه
هغه هېر نۀ کړې هېڅکله پۀ دې فکر برابر کړه
زړۀ ویران دې لږ اباد کړه ذکر باندې چې اباد شي
چې لږ خدائے درته هم یاد شي سر هم ټیټ پۀ دغه در کړه
نفس باغي به وي تر کومې ژوند دې ورځ پۀ ورځ کمېږي
دے قابو کړه پۀ خپل جهد لږ دا خپل لاس پۀ ده بر کړه
چې دَ شېخ مجلس کښې ناست ئې دَ دنیا خبرې مه کړه
لږ ساعت خو پۀ دې ځائې کښې لۀ دنیا ځان رابهر کړه
هر هر ځائې لاس خوروې تۀ دَ دنیا دپاره څومره
اخرت ته څۀ کار وکړه لږ صحیح دې پرې نظر کړه
دلته کښې ستا څومره وخت دے هلته کښې به څومره یې تۀ
اے شبّیره حقیقت ته دَ دوستۍ لاس هم څۀ ورکړه

## دنیا پټے دَ اخرت دے

دنیا پټے دَ اخرت دے ګله خو محبت دَدې دے ډېر پرخطر
دَ نفس خواهش دَدې سره تړلےپۀ هر عضو باندې دَدې وي اثر
چې زړۀ کښې دا وي زړۀ تباه وي بیا اؤ زړۀ دَ ټول جسم بادشاه هم دے
دَ ژوند پۀ ټولو هنګامو کښې دَدې طلب ډېر زیات وي اؤ وي ډېر معتبر
څنګه دَ جال نۀ به دَدې خلاص شو پۀ دغه جال کښې مونږ ډېر سخت ګېر یو
حوصله پرېږدي حوصلې والا هم دَدې پۀ زور باندې چې وکړي نظر
یو طریقه ده چې پرې بله نشته چې دیوانه دَ پاک الله جوړ شو مونږ
پۀ دې مونږ ونۀ لرو کار هېڅکله جرړې وباسو مونږ دَدې برابر
دا لېونتوب شبّیره دے مطلوب اشد حبالّٰله نښائی داسې
کوم هوش پۀ دغه لېونتوب چې راشي هغه مطلوب وي اؤ دَدغې ثمر

## کوي

دَ میني اور به لېونتوب درته ښودل کوي
عقل دَ خپلو طریقو همېش ساتل کوي

پهٔ عقل وعشق کښې تعلق چې ښهٔ دے هغه راشي
چې کوم دے هوش دَ لېونتوب دا جوړول کوي

تهٔ لهٔ کعبې تاؤ شه پهٔ مینه باندې اے سالکه
یاد لره زړهٔ کښې دې محبوب پهٔ دې راتلل کوي

دا دَ زړهٔ لار ده پهٔ مزې سره روان شه پهٔ دې
دا بهٔ ستا خپل محبوب سره پخلا کول کوي

زړهٔ دلته څنګه لګولے شي پوهېږمه نه
چې پهٔ هغهٔ باندې څوک هم مئینېدل کوي

ورته شعرونه ستا دي لال و ګوهر اے شبیره
څوک چې پهٔ زړه مینه لري دا اورېدل کوي

## کله پټېږي

پټولو باندې عشق کله پټېږي
چې کوشش دَدې بالکل نهٔ کامیابېږي

پټول دَ عشق کېدے نهٔ شي نادانه
سادګان پهٔ دغه باندې نهٔ پوهېږي

دَ عاشق دَ زړهٔ چې کوم یو کېفیت وي
اعلان وکړه دا پهٔ عشق بللے کېږي

کوم الفاظ چې دَ عاشق دَ خولې راوځي
عشق پهٔ دې کښې پنهاني طور ظاهرېږي

شي دَ عشق نه دَ معشوق منشاء معلومه
لهٔ عاشق نه دا منشاء کله هېرېږي

دا ادراک دَ عشق دے هوش دَ لېونتوب بس
دَ تفهیم نظام بیا ټول پهٔ دې بدلېږي

یو وېکټر دَ لېونتوب دے عشق تهٔ دغه
پهٔ قرطاس دَ زړهٔ کړه ډرا کهٔ درنهٔ کېږي

شي پېدا اخلاص پهٔ دې باندې عمل کښې
کهٔ څوک غواړي ورځ پهٔ ورځ دغه زیاتېږي

دا ترتیب بللے شي جذبِ خالص بیا
دا فنا بقا هم دغې نه جوړېږي

کهٔ تهٔ ځان کړې دَ الله ، الله به ستا شي
دا نظام شبّیره دغه شان چلېږي

## خپل

کاسه کښېښوه چې چا مخکښې دَ جانان خپل
یقیناً چې هغهٔ ژوند کړلو اسان خپل

مرګ ته کله نه تیار چې شو مؤمن نو
جوړ هغهٔ کړلو پهٔ دې دَ ژوند سامان خپل

تاج دَ ژوند ئې دَ همېش ورته پهٔ سر کړو
چا هغهٔ دپاره سر چې کړو قربان خپل

خیال دَدې چې یم ترې لرې دا ټیک نهٔ دے
حق صفت دَ عفو کړلو نمایان خپل

غبر هغه به ګڼي څهٔ څهٔ به ئې خیال کړي
چاچې ذات دَحق کړو زړهٔ خپل کښې مهمان خپل

چې دَ یاد نهٔ دَ هغهٔ اعراض چا وکړو
زړهٔ هغهٔ کم بخت پهٔ خپله کړو ویران خپل

اے شبّیره دَ هغهٔ شه چې دَ ستا شي
تهٔ پخپله کامیاب کړه پهٔ دې ځان خپل

دے

پۀ نظر کښې بس زما دَ هغۀ خیال دے کړمه لرې ترې نظر څۀ مې مجال دے
دَدې حسن عارضي نقشې به څۀ کړم دَ حسنِ ازل مستور کتل کمال دے
دَ هغۀ عاشق پۀ غېر نۀ لري کار بیا دغه حال چې وي دَ چا نو ډېر ښۀ حال دے
دَ هغۀ پۀ خزانو چې څوک نظر کړي دا دنیا ئې پۀ نظر کښې بس یو جال دے
جوابونه به ملاؤ شي دَ سوالونو لۀ هغۀ نه مې دَ یو نظر بس سوال دے
لارې ټولې دي دَ غېر شبّیره بندې نو بې شکه ما دپاره دا نېک فال دے

## حقیقت اؤ مجاز

څۀ کړم پرې دَ حسنِ عارضي دغه نقشې چې دي
ښکارې حقیقت خو حقیقت کښې دا دهوکې چې دي
دلته ملاقات حسنِ ازل سره ممکن نۀ دے
زړۀ کښې ورته ګوره اؤ کوه مراقبې چې دي
شي محسوسېدے پۀ هر یو مور کښې دَ دنیا زړۀ کښې
نۀ وي دَ کوم کس دنیا خانو کښې پۀ زړۀ کښې چې دي
عشق بدناموي دوی ، دوی نه ډېره هم پکار ده تل
نوم باندې دَ عشق چې دَ هوس دا نظارې چې دي
غواړې کۀ سکون صحیح حاصل کړه دا پۀ ذکر تۀ
نۀ درکوي دا چې دَ دنیا دغه مزې چې دي
ختمې به شبّیره دَ فاني مینې نقشې شي کۀ
واوري څوک هغۀ دَ ملاقات ښکلې مژدې چې دي

## دَ کعبې فراق

ناست پۀ فراق کښې دَ کعبې غمژن یم سرټیټ کړے نظر زما دے وداعي زړۀ مې دے غم ځپلے
دعا ده دا چې اخري دې دا راتلل مې نۀ شي طلب پۀ سترګو کښې لرم زړۀ کښې هغه مې ښکلے
زړۀ مې ژړېږي دَ کعبې پۀ محبت کښې شونډې خنګه رپیږي دے څادر پۀ ما دَ غم خور شوے
دا یو نقشه ده مجازي ده تسلي هغو ته چا چې دَ مینې دَ هغۀ جام دلته کښې دے څښلے
څۀ به مثال دَ پروانو دنیا کښې وموني څوک چا چې زړۀ خپل دَ هغۀ یاد کښې دلته کښې بیاللے
دنیا دَ عشق کښې دا نادر مثال شبّیره ګوره دَدې دَ مینې زخم چاچې دے پۀ زړۀ خوړلے

## دنیا

دنیا ده مختصره خو پۀ نفس باندې سوره ده
هر شے ئې زړۀ راښکونکے دے نزدې زمونږ سره ده
شېطان زمونږ دَ نفس لۀ خواهشاتو خبردار دے
نو ځکه خو دَدۀ دَ وسوسو نه مو خطره ده
دے غواړي چې پۀ فکر دَ دنیا کښې مونږ ښۀ بوخت شو
نو ځکه مبتلا زمونږ پۀ دې ذره ذره ده
هېر شوے اخرت مو دَ مرګي هم حقیقت مو
الله نه هم عافل یو چې مو لویه سهاره ده
خدائے عقل دے راکړے شته دے لار دَ هدایت هم
کم اصل ته لوړ دے اؤ اصیل ته اشاره ده
شبّیره هدایت چې پۀ طلب ملاویدے شي
بیا دومره مایوسي ولې پۀ مونږ باندې خوره ده

## دَ بېدار زړۀ اهمیت

دي بلا کښې دَ تصویر ګرفتار څومره؟ لذتونو دَ شهرت کښې دي خوار څومره؟
بعضو علم کړلو هېر دَدې دپاره دَدې نفس مو ګوره سخت دے ګزار څومره؟
نفس جاهل لکه ماشوم دے ښۀ خبر یو شي پۀ دۀ باندې کېدے بیا اعتبار څومره؟
دائمي مزې مو هېرې دَ جنت دي بس دَدې چې دَ دنیا دے بهار څومره؟
دَ الفاظو دَ تقریر مو څۀ حد نشته دَ تقویٰ لباس زمونږ دے تار تار څومره؟
شریعت باندې عمل لازم دے څومره؟ اؤ دَدې دَ بدلؤ دے اختیار څومره؟
اے شبّیره پۀ دې باندې منحصر دي دغه ټول چې دَ چا زړۀ دے بېدار څومره؟

## شاعري

بې مقصده شاعري یو حماقت دے چې دَ فسق ذریعه شي مصیبت دے
بې عزته کړي چې بل شي بې عزته یقیناً چې پۀ خپل لاس کښې خپل عزت دے
چې څوک دا کړي ذریعه دَ خوشامد نو پۀ دنیا کښې دا څۀ بل رنګه ذلت دے
دَ هوس چې دَ تسکین دا ذریعه کړي نو بې شکه ډېر ذلیل دغه حرکت دے
پټ ساتل دَ کوم خائېست چې وي پکار نو دَ هغې ظاهرول غټ جهالت دے
چې پۀ داسې شاعرۍ کښې مبتلا وي دَ هغوی ثابت قران کښې مذمت دے

پېروي ددي کوي چې ګمراهان دي
خور دَدوی هره شعبه کښې چې حیلت دے
ذاکرین اؤ نېکوکار ترې مستثنیٰ دي
دَ هرچا خپل خپل پرواز اؤ خپل همت دے
چې څوک بچ کړي ځان لۀ دواؤ پۀ ښۀ کار کښې
استعمال کړي دا دَ هغو ښۀ قسمت دے
اے شبیره اتباع کښې دَ محبوب مو
ترقي ده اؤ رښا ده سعادت دے

## ډېر

فضل دَ هغۀ خو بې حساب دے ډېر
دلته زمونږ خپل حالت خراب دے ډېر
بیا بیا پۀ اعمالو کښې ګړ بړ کوو
دې باندې مې زړۀ کښې پیچ و تاب دے ډېر
کله چې زۀ ګورم دَ هغۀ در ته
ښکاري چې کرم ئې لاجواب دے ډېر
حلم دَ هغۀ دے ډېر خو ځان ساته
ولې چې بیا سخت ئې هم عذاب دے ډېر
ویرې دَ امید مینځ کښې شبیّره یه
زور ورکړے دې باندې کتاب دے ډېر

## صرف دعویٰ

دعویٰ مونږه بس لرو دَ محبت
بیا دَ کار کولو څۀ لرو حاجت
چې پوره مو خواهشات وي نو وي مینه
چې دا نۀ وي نو ظاهر شي حقیقت
بیا الفاظ غلط پۀ ژبه شي جاري هم
زړۀ شکوه کوي پۀ ژبه وي حیلت
شکر نۀ کوو پۀ ښو حالاتو مونږه
اؤ نۀ صبر کوو مونږ په مصیبت
مینه کله چې وي زړۀ کښې اے شبیّره
کړي مجبور بنده دَ خدائے پۀ اطاعت

## دَ خدائے دپاره

ژړېدل اؤ خندېدل دَ خدائے دپاره
وېښېدل اودۀ کېدل دَ خدائے دپاره
دَ الله مدد پۀ خپله بیا حاصل شي
چې وي کله کار کول دَ خدائے دپاره
دا دریافت دے دَ خپل ځان پۀ حقیقت کښې
چې خپل ځان وي ورکول دَ خدائے دپاره
دَ دنیا دَ ګند وینځل دَ زړۀ پکار دي
خو چې کله وي وینځل دَ خدائے دپاره
چې کوم نال شي ، شي رېبلے اے شبیّره
مګر وي چې نالول دَ خدائے دپاره

## راکړې ربه

سلیم زړهٔ لهٔ محبت ډک راکړې ربه — چې ئې مل یې ، ورسره تهٔ ما کړې ربه
وے مې زړهٔ کښې،اؤ وے ستا دَ نظر لاندې — سعادت ماته تهٔ دا عطا کړې ربه
دَ وسعت دَ زړهٔ نعمت راته نصیب کړې — تنګ نظرۍ نه مې همېش جدا کړې ربه
زما نفس پهٔ شریعت خپل مطمَٔن کړې — زړهٔ زما لهٔ هر یو ګند صفا کړې ربه
کېفیت دے اؤ آمد دے اؤ ستا فضل — ته پهٔ شکر مې پهٔ زړهٔ ګویا کړې ربه
ستا بنده خاکي شبیّر باندې موسوم یم — قلب و ذهن اوس زما رڼا کړې ربه

## ټپې

زما پهٔ زړهٔ کښې یو هغه دے — زهٔ به بل څوک پهٔ زړهٔ کښې څنګه ځایومه
دنیا نیمګړې پاتې کیږي — دغې دنیا سره زړهٔ څنګه وتړمه
دَ تورې زخم به زر جوړ شي — کله جوړیږي چې دَ ژبې وي زخمونه
چې بې حیا شي بیا ئې پرېږده — هر څهٔ کوے شي بیا ئې مهٔ کوه پوښتنه
ما دَ بزرګۍ خیالونه پرېښول — دَ جانان مخکښې پهٔ هر کار شرم راځینه
دَدې دنیا ظلم ته ګوره — مخ مې جانان نه دے خپل ځان ته راړوینه
کهٔ دلته ظلم څوک پهٔ چا کړي — دے دے ظالم خوپهٔ خپل ځان ظلم کوینه
زهٔ دَ خپل یار ځنې لوګے شوم — اوس به پهٔ مینه دَ هغهٔ ځان سوزومه
کهٔ مې زړګے در کښې قبول شو — دا اعضا ټول به ورپسې بیا واستومه
سترګې زما ئې پهٔ طواف دي — پهٔ دغه غوږو ئې تعریفونه زهٔ اورمه
پهٔ ژبه حمد مې دَ هغهٔ دے — شونډې شبّیره پهٔ تعریف ئې خوزومه

## اختتامي دعا

شي قبول دغه پېغام دَ محبت دې — پهٔ لوستلو شي نصیب داسې حالت دې
چې پهٔ زړهٔ باندې بس ستا مینه خوره شي — دَ دنیا لهٔ محبت زړهٔ شي اوچت دې
ذریعه شي دَ مؤمن دَ وینښېدلو — کهٔ اودهٔ وي شي جاري دَ زړهٔ حرکت دې
پهٔ دې زړهٔ کښې دې رڼا شي ستا دَ مینې — دَ دنیا دَ مینې لر شي نحوست دې
چې تحفه دَ خدائے دَ مینې ئې مقصود وي — اے شبّیره ورنصیب شي برکت دې

# فهرست مضامين


| | |
|---|---|
| اپرېل فول | 89 |
| احساس دَ کمترۍ | 98 |
| اختتامي دعا | 147 |
| اختر | 113 |
| اخفاء اؤ اظهار | 43 |
| اخلاص | 88 |
| اخلي | 102 |
| اسان، ولې ګران | 22 |
| اسباب اؤ مسبب الاسباب | 62 |
| اشاره | 136 |
| اعتدالِ اهل سنت | 128 |
| اعلیٰ ذوق | 52 |
| اعمال اؤ اخلاص | 42 |
| آلې ئې يو پۀ لاس کښې | 83 |
| امان غوارم | 42 |
| امتحان اؤ امانت | 77 |
| انتساب | ب |
| انقلاب | 139 |
| اهل بيت څوک دي؟ | 127 |
| اهل قلوب سره ملاوېدل | 74 |
| تهجد | 54 |
| تهجدو کښې دعا | 55 |
| تواضع | 70 |
| تواضع | 55 |
| تواضع اؤ شکر | 107 |
| توبه | 133 |
| توبه | 79 |
| توبه | 113 |
| توبه -دَ احسان بدله احسان | 132 |
| تيارے | 38 |
| تپې | 147 |
| ټنګېدلے کټورے | 59 |
| ټوټې ټوټې | 31 |
| جذب | 47 |
| جنتي خلق | 103 |
| جنجال | 63 |
| جهد کن در بيخودي | 33 |
| چشتيه نسبت | 70 |
| چې دَ زړۀ نه کله ووځي | 63 |
| حاصل دَ فنا | 26 |
| ځان پوه کړه | 94 |
| حب جاه دي نۀ وي | 98 |
| دَ تصنع نه بچ کېدل | 61 |
| دَ تېرو دَ لارو مسافر | 91 |
| دَ چا ملګرے شې؟ | 91 |
| دَ خدائےپاک عظمتونه | 12 |
| دَ خدائےدپاره | 146 |
| دَ خدائےمينه | 48 |
| دَ درجو نۀ کرم طلب | 37 |
| دَ دنيا اؤ دَ خدائےپاک مينه | 37 |
| دَ دنيا دار دوستي | 64 |
| دَ دنيا فکر اؤ دَ اخرت فکر | 105 |
| دَ دنيا محبت | 65 |
| دَ دنيا مينه تباهي | 63 |
| دَ ديدار عالم | 47 |
| دَ دين ظاهر اؤ باطن | 35 |
| دَ ذکر اثر | 40 |
| دَ ذکر کيفيت | 26 |
| دَ ذي الحجې روژې | 117 |
| دَ رسول ﷺ مدح | 123 |
| دَ رسول مينه | 122 |
| دَ رومي بې خودي | 116 |
| دَ زړۀ تيک کول | 68 |
| دَ زړۀ خوشحالي | 114 |
| دَ مينې تقاضا | 19 |
| دَ مينې تنده | 18 |
| دَ مينې جوش | 17 |
| دَ مينې درياب | 18 |
| دَ مينې دنيا | 15 |
| دَ مينې زور | 16 |
| دَ مينې سترګې | 17 |
| دَ مينې شراب | 58 |
| دَ مينې شراب | 15 |
| دَ مينې فکر | 16 |
| دَ مينې لېونتوب | 32 |
| دَ مينې يو ښکلے انداز | 47 |
| دَ نبي دَ زړۀ ټکړې | 128 |
| دَ نبي ﷺ محبت | 123 |
| د نظر حفاظت | 89 |
| دَ نظر حفاظت | 51 |
| دَ نعت ليکلو شوق | 123 |
| دَ نفس اصلاح | 66 |
| دَ نفس دَ شر نه بچ کېدل | 100 |
| دَ هدايت لار | 128 |
| دَ هغۀ شم | 36 |
| دَ هغۀ شم | 136 |
| ريټائېرمنټ | 135 |
| زړۀ نۀ تر خولې سفر | 45 |
| زړۀ ورکول | 18 |
| زړۀ اؤ عقل | 68 |
| زړۀ پۀ تا زما فدا دے | 31 |
| زکوٰة نه هديه | 127 |
| زۀ | 46 |
| زۀ پۀ ياد کښې ئې | 22 |
| دَ نيازبين خلقو | 137 |
| زۀ لۀ خدائےغوارم الله | 81 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| زهد | 58 | وکړه | 114 | حمد باري تعالیٰ | 11 |
| ښائسته یادونه | 50 | یاد دَ مدینې | 122 | حمد باري تعالیٰ | 11 |
| ستا | 25 | یو ارمان | 85 | څنګه | 141 |
| ښځه | 129 | یو خواهش | 54 | څنګه زه کوم به | 23 |
| سریزه | 8 | یو سوچ | 93 | څنګه؟ | 60 |
| ښهٔ مرید | 72 | یو فکر | 92 | څهٔ خبر ئې؟ | 36 |
| سوز دَ زړهٔ | 39 | یو منصوبه بندي | 106 | څهٔ غوارمه ؟ | 82 |
| سوز دَ زړهٔ | 55 | یوه نېغه خبره | 107 | څهٔ مو وکړل | 82 |
| شاعري | 145 | اور پهٔ زړهٔ سور | 70 | څهٔ مې وکړل | 28 |
| شرفِ انسانیت | 106 | اوس | 71 | څهٔ وشو ؟ | 50 |
| شکر | 107 | اوس څهٔ شم | 29 | څوک | ۷۹ |
| شهوات اؤ تقویٰ | 115 | اے زړګیه | 21 | حیا | ۵۱ |
| کښې نهٔ وي | 34 | برکت | 102 | حیات انبیاء | 87 |
| کلمه طیبه | 53 | بزرګي | 95 | خانقاه ګانې اؤ مدرسې | 57 |
| کله پټیږي | 143 | بندګي مې کړې قبوله | 29 | خبردار | 25 |
| کنه | 135 | بوج | 139 | خپل | 143 |
| کوي | 80 | بې غرضه دوستي | 30 | خپل ځان پېژندل | 59 |
| کئ | 141 | بې قراره زړهٔ | 32 | دَ زړهٔ اصلاح | 67 |
| کئ | 143 | پاره دَ هغهٔ وے | 35 | دَ زړهٔ خواهش | 16 |
| کیفیات | 49 | پټ پټ بلېږي | 19 | دَ زړهٔ دنیا | 22 |
| کینه | 101 | پته خبره | 23 | دَ زړهٔ دنیا | 52 |
| لا الا الله | 46 | پخه وعده | 113 | دَ زړهٔ دوه لارې | 69 |
| لار دَ عشق نهٔ ده مشکله | 137 | پخې خبرې | 71 | دَ زړهٔ فریاد | 130 |
| لړ پهٔ هوش | 44 | پخې خبرې | 62 | دَ ژوند کرښه | 73 |
| لره | 20 | پکار دي | 132 | دَ ښځو تعلیم | 110 |
| لمحهٔ شکر | 125 | پهٔ الله توکل | 82 | دَ ښهٔ پیر نښې | 134 |
| الله الله کول | 45 | پهٔ بندیانو رحم | 11 | دَ ښهٔ والي دعویٰ | 124 |
| لهٔ نظر نه دَ هغهٔ پټېدے نه | 37 | پهٔ ځلورو ځیزونو جنت | 104 | دَ شوال روژې | 116 |
| لیلة القدر | 113 | پهٔ خانقاه کښې پناه | 48 | دَ شیخ تصور | 76 |
| مجذوب | 137 | حجاب نهٔ لري | 135 | دَ شیخ دَ مرید دپاره | 73 |
| محبت به څنګه | 19 | حرص | 99 | دَ شیخ سره تعلق | 76 |
| مدرسه اؤخانقاه | 73 | حسد مهٔ کړه | 102 | دَ شین ګمبت پهٔ لوري | 124 |
| مراقبه | 44 | حسنِ ازل اؤ عارضي | 39 | دَ عاشقانو اجتماع | 52 |
| مړ احساس | 65 | حقیقت اؤ مجاز | 144 | دَ عاشورې روژه | 117 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دَ عشق پېغام | 17 | شيخ کامل | 72 | نفس | 67 |
| دَ عشق جام | 19 | صدقات دافعِ بليات- صدقات | 133 | نفس اماره اؤ زړۀ | 64 |
| دَ عشق سفر | 48 | صرف دعويٰ | 146 | نفس اؤ شيطان | 118 |
| دَ عشق منزل | 112 | صرف شگو نه کورونه | 95 | پۀ روژه کښې | 111 |
| دَ غوښتې طريقه | 112 | صفر المظفر | 118 | پۀ زړۀ گزار | 33 |
| دا پېغام دَ محبت | 15 | طريقِ جذب | 43 | پۀ شرم پټ | 87 |
| دا منظرونه | 87 | ظرف مظروف | 35 | پۀ لار شه | 72 |
| داستان دَ بې وسیٔ | 96 | عاشق | 52 | پۀ هغۀ مې شه قربان | 24 |
| دَبدمعاشانو | 90 | عجب | 101 | پېسه | 92 |
| دپاره | 129 | عشق | 18 | پېسه يو امانت | 118 |
| دَخپل شيخ پۀ ياد کښې | 13 | عقل اؤ جذبات | 69 | تبذير | 119 |
| دروازه دَ جانان | 23 | علم | 84 | تصور شيخ | 75 |
| دعا- دعا اؤ عاجزي | 121 | علم اؤ ذکر | 71 | تعليم اؤ جهالت | 108 |
| دَکبر نفي | 97 | علم اؤ عمل | 116 | تعليم همت اؤ تربيت | 104 |
| دَکلامِ الٰهي اثر | 109 | علم اؤ کيفيت احسان | 46 | تعليم و تربيت | 71 |
| دَنبي ﷺ دَ زړۀ مبارک نور | 49 | مصيبت اؤ رحمت | 38 | تکبر | 94 |
| دَنن صبا حالت | 85 | مصيبت اؤ رحمت | 87 | تکبر | 97 |
| دنيا | 144 | مطلوبه حال | 67 | تکويني سبق | 76 |
| دنيا | 62 | معرفت الٰهي | 106 | تماشه | 96 |
| دنيا اؤ عقبيٰ | 40 | منصوبه | 61 | تن اؤ عملونه | 78 |
| دنيا اؤ اخرت | 84 | مۀ سترے کېږه | 121 | تنبيه | 41 |
| دنيا اؤ امتحان | 77 | مېخانو باندې بۀ څۀ کرم | 29 | تنبيه | 79 |
| دنيا پټے دَ اخرت دے | 142 | مينه | 25 | ته | 141 |
| دنيا څۀ ته وائی | 64 | مينه اور دے | 17 | تۀ زما ئې | 46 |
| دنيا څه شے دے؟ | 117 | نامناسب حالت | 34 | خپل ځان ته خطاب | 120 |
| دنيا دَ اخرت پټے | 83 | نشته | 139 | خراب نظر | 140 |
| دنيا دارالعمل | 81 | نعت شريف | 125 | خشوع | 109 |
| شهيد | 114 | نعت شريف | 126 | خو پۀ زړۀ کښې | 21 |
| شوقدر | 112 | نعت شريف | 131 | خو عمل چې وي جاندار | 89 |
| شي | 141 | نعت شريف | 13 | خواهشات | 89 |
| شي | 136 | نعت شريف | 125 | خود پسندي | 98 |
| شيخ اؤ مريد | 134 | نعت ليکل | 126 | خوش نصيب مسلمانان | 78 |
| شيخ څۀ ته وائی | 75 | نعت ليکل ولې مشکل دي | 126 | خوف اؤ اميد | 78 |
| شيخ ژبه مريد غوږ | 76 | نعره يو مستانه | 21 | دَ زړۀ اؤ نفس مقابله | 68 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دَ اغيارو طريقې اؤ مونږ | 90 | دوست دښمن | 118 | ګرم اسويلے | 23 |
| دَ اقبال خودي | 81 | دويم تقريظ | 7 | ګل سره ازغے | 39 |
| دَ الله تعالىٰ دَ نظر نه غور | 100 | دے | 140 | کامياب | 31 |
| دَ الله تعالىٰ معرفت | 104 | دے | 143 | کاميابي | 78 |
| دَ الله دپاره کار | 59 | دينداري | 86 | کړم | 30-45 |
| دَ الله نازولي | 74 | ديوانه يم ديوانه | 42 | کړم | 108-142 |
| دَ امام شافعي عجيبه اشعار | 127 | ډېر | 146 | کړه پۀ فضل خپل قبوله | 80 |
| دَ اميد لړۍ - دَ شکر مقام | 56, 57 | ذريعه اؤ مقصد | 66 | نفس يو عجوبه | 41 |
| دَ اهل بيت تعارف | 127 | ذکر | 51 | نمونځ | 107-108 |
| دَ اهل بيت محبت | 126 | ذکر لوئے نعمت | 27 | نن صبا | 140-84 |
| دَ بزرګۍ جال | 36 | ذکر اؤ صحبت دَ صالحينو | 120 | نه | 66 |
| دَ بيدار زړۀ اهميت | 145 | ذوق و شوق | 32 | نۀ شم | 14 |
| دَ غير محرم اثر | 129 | رہنما دَ علم | 101 | نۀ کړم | 140 |
| دَ فکر فکر | 74 | راسره يې | 25 | نۀ کړې احتياط | 90 |
| دَ قبر ژوند | 103 | راکړې | 122 | نور اؤ ظلمت | 109 |
| دَ قران کلام | 110 | راکړې ربه | 146 | نېغه لار | 24 |
| دَ قران تلاوت | 109 | ربيع الاول | 119 | الهام رباني اؤ الهام شيطاني | 103 |
| دَ قلم معذرت | 85 | رضا با لقضا | 38 | الهام رحماني | 111 |
| دَ ګل ورځ | 119 | رنګ | 37 | الهامات | 111 |
| دَ کعبې فراق | 144 | رومي | 85 | الهامي خبرې | 130 |
| دَ لېونتوب شوق | 47 | ريا | 100 | هم زده کول دي | 34 |
| دَ مايوسۍ فضا | 57 | ريا | 101 | وجد | 27 |
| دَ مايوسۍ وسوسې | 83 | عنوان دَ مينې | 20 | وحدت الوجود | 27 |
| دَ مرګ ښکلے تصور | 27 | غصه | 98 | وخت لا شته دے | 60 |
| دَ مرګ ياد اؤ ذکر | 56 | غضب | 99 | ورو ورو | 96 |
| دَ مستۍ دنيا | 57 | غوښتل | 130 | وړومبے تقريظ | 1 |
| دَ مطلب غمے پۀ لاس | 41 | غيبت | 96 | وسوسه اؤ حديث نفس | 88 |
| دَ مفهومونو ټيک کول | 60 | فنا اؤ بقا | 26 | وګوره | 131 |
| دَ مقصود تعين | 61 | فنا اؤ بقا | 28 | وي | 142 |
| دَ مولىٰ مينه | 53 | فنا في الرسول | 138 | | |
| دَ مولىٰ مينه | 54 | فنا في الشيخ | 138 | | |
| دَ مينې انديښنې | 53 | فنا في الله | 138 | | |
| دَ مينې اور | 65 | قا ل اؤ حال | 86-30 | | |
| دَ مينې پيغام | 14 | ګران دي | 131 | | |